

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 8

# بسم الله الرحمن الرحيم

۞ وَلَوۡ أَنَّنَا نَزَّلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَحَشَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ كُلَّ شَيۡءٖ قُبُلٗا
مَّا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ يَجۡهَلُونَ ١١١

مخکې ذکر شو چې کافرانو د خیلې خوښې معجزې غوښتلې،د نبي علیه السلام څخه یې وغوښتل چې:د صفا غونډۍ ورته د سرو زرو کړې،د مکې څخه غرونه لرې کړې،او په مکه کې د روانو اوبو چینې وبهوی.نو دوی به ایمان راوړي.

۞ وَلَوۡ أَنَّنَا او بېشکه که چیرته مونږ نَزَّلۡنَآ نازل کړي وي إِلَيۡهِمُ دوی ته ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ فریشتې(او دوی ته یې د نبي علیه السلام او قرآنکیم تصدیق کړئ و) وَكَلَّمَهُمُ او خبرې کړې وي د دوی سره ٱلۡمَوۡتَىٰ مړو(او دوی ته یې د نبي علیه السلام او قرآنکریم تصدیق کړئ و) وَحَشَرۡنَا او راټول کړې و مونږ عَلَيۡهِمۡ دوی ته كُلَّ شَيۡءٖ هر یو شی قُبُلٗا مخامخ(یعني هر قسم او هر څومره معجزې چې دوی غوښتلې او هغه ټولې د دوی مخ ته راوړل شوي وې،او دوی په سترګو لیدلې وي،بیا به هم) مَّا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُوٓاْ دوی ایمان نه راوړلو إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ مګر چې الله تعالی وغواړي(لیکن الله تعالی داسې نه کوي،ځکه چې داسې کول د الله تعالی د عدالت او د امتحان د اصولو خلاف دي،تر څو چې بنده په خپله ونه غواړي،الله تعالی نه چا ته د نیکۍ لار ښایې،او نه د بدۍ،یعني نه په چا باندې په زوره ایمان راوړې،او نه په چا باندې په زوره کفر کوي.) وَلَٰكِنَّ لیکن أَكۡثَرَهُمۡ زیات د دوی يَجۡهَلُونَ ناپوهه دي ١١١

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِى بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ١١٢

وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه جَعَلْنَا ګرځولي دي مونږ لِكُلِّ نَبِيٍّ د هر نبي دپاره عَدُوًّا دښمنان شَيَٰطِينَ شيطانان ٱلْإِنسِ د انسانانو څخه وَٱلْجِنِّ او د پيريانو څخه(يعني په هر وخت کې د هرنبي او د حق د داعيانو دښمنان د انسانانو او پيريانو څخه موجود وي،چې په دوی باندې قسم-قسم تهاپې لږوې،او بد تبليغات وريسې کوي تر څو چې خلک د دوی په خبرو يقين ونکړي) يُوحِى وسوسې وراچوي بَعْضُهُمْ ځينې د دې(شيطانانو)څخه إِلَىٰ بَعْضٍ ځينې نورو ته زُخْرُفَ فريبناکه(دوکه ورکونکې) ٱلْقَوْلِ خبرې غُرُورًا ۚ د دوکه کولو دپاره (مثلاً جني شيطانان انسي شيطانانو ته وسوسه وراچوي چې د حق د داعي په مقابل کې کلک ودرېږئ،مقابله يې وکړئ،اجازه ورنکړئ چې د خلکو عقيدې د غلطو اديانو او غلطو رواجونو څخه پاکې کړي او سمه لار وروښايې،او دا کار ورته يو قسم جهاد معرفي کوي) وَلَوْ او که چېرته شَآءَ اراده کړې وه رَبُّكَ رب ستا مَا فَعَلُوهُ ۖ دوی به دا کار نه و کړئ(ځکه چې ښه او بد ټول د الله تعالی د مشيت او ارادې پواسطه کيږي،دا په دې معنی چې کله الله تعالی وغواړې او اراده وفرمايې نو هغه کار کيږي.ښه وي او که بد،د انسان او پيرې خو صرف اختيار چليږي،مطلب دا چې انسان يا پيرى چې کله په خپل اختيار د کوم نيک يا بد کار د کولو اراده وکړي،د دوی د ارادې پواسطه نه ښه کار کيږي او نه بد کار،مګر په هغه صورت کې کيږي،چې الله تعالی وغواړې او د هغه کار د کولو اراده وفرمايې،نو هغه ښه يا بد کار وشي،ليکن ثواب او ګناه يې هغه انسان يا پيرې ته ورځي چې د دې نيک يا بد کار اراده يې کړې ده،يعنې کارونه ټول د الله تعالی د مشيت او ارادې پواسطه کيږي، نه د انسان او پيرې د ارادې

پواسطه نو د قیامت په ورځ د پیرې او انسان سره حساب هم د دې خبرې کیږي چې:خپل اختیار یې څنګه استعمال کړئ دی،آیا په خپل اختیار یې د نیک کار د کولو اراده کړي وه،او که د بد کار،مطلب دا چې انسانان او پیریان د الله تعالی د قدرت په قبضه کې دي،پرته د لږ محدود اختیار د استعمال څخه نور هیڅ نشي کولای.نو که په لنډ ډول وواېو!یو کار هم ښه وي او که بد انسان یې نشي کولای،بلکې هر کار د الله تعالی د علم او حکمت په اجازه د الله تعالی د مشیت او ارادې پواسطه کیږي،د انسان صرف اختیار استعمالیږي په تشریعې کارونو کې) فَذَرْ نو ته پریږده هُمْ دوی(یعنې دا انسې او جنې شیطانان) وَمَا او هغه(د درغو) يَفْتَرُونَ تهمتونه چې دوی یې جوړوي.(یعنې ستا مسؤلیت دوی ته د الله تعالی پیغام رسول دي، نه دا چې په زوره وربانديې ایمان راوړي او یا یې په زوره د بدو کارونو نه منع کړي) ۱۱۲

وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُواْ مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ۱۱۳

وَلِتَصْغَىٰٓ (دا عطف دی په مخکینې آیت کې په «غرور» باندې) او د دې دپاره چې مایل شي إِلَيْهِ دې(د دروغو تهمتونو او تاپو) ته أَفْـِٔدَةُ زړونه ٱلَّذِينَ د هغو خلکو لَا يُؤْمِنُونَ چې باور نه لري بِٱلْـَٔاخِرَةِ په آخرت باندې وَلِيَرْضَوْهُ او د دې دپاره چې دوی خوښ کړي دا(د دروغو تهمتونه او تاپې په داعیانو باندې،یعنې شیطانې دښمنان کوښښ کوي چې په خلکو کې داسې د دروغو اوازې او تهمتونه د نبې او د حق د داعې په اړه خواره کړي،چې خلکو ته ئې دروغجن معرفي کړي او څوک یې په خبرو یقین ونکړي،او په دې توګه د ایمان راوړلو څخه بې برخې پاتې شي،) وَلِيَقْتَرِفُواْ او د دې دپاره چې وکړي دوی مَا هغه(کفر) هُم

چې دوی مُّقْتَرِفُونَ همیشه کولو(یعنې پخپل کفر کې د پخوا په شان پاتې شي،او ایمان رانوړي) ۱۱۳

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَـٰبَ مُفَصَّلًا ۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ۱۱۴

د مکې مشرکانو نبي علیه السلام ته وویلې چې مونږ ستا د تنقیدونو څخه په خپلو بتانو باندې تنګ شوي یو،نو زمونږ او ستا په منځ کې څوک حکم او فیصله کوونکۍ جوړ کړه،چې زمونږ په منځ کې فیصله وکړي.

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ نو آیا پرته د الله تعالی څخه أَبْتَغِى حَكَمًا زه بل فیصله کوونکۍ ولټوم(یعنې آیا د قرآن څخه پرته په بل چا فیصله وکړم؟ دا استفهام انکارې دی) وَ په داسې حال کې چې هُوَ هغه «جل جلاله» ٱلَّذِىٓ هغه ذات دی أَنزَلَ چې نازل کړۍ ئې دی إِلَيْكُمُ تاسو ته ٱلْكِتَـٰبَ کتاب مُفَصَّلًا ۚ په تفصیل سره(یعنې دالله تعالی په دې کتاب کې د هرې مسئلې حل او فیصله شته دی،نو باید چې د الله تعالی بندګان خپل معاملات په کتاب الله فیصله کړي، نه په نورو انسانانو او د انسانانو په لاس لیکلو کتابونو باندې) وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَاتَيْنَـٰهُمُ چې مونږ ورکړۍ دی هغوی ته(ستا څخه مخکې) ٱلْكِتَـٰبَ کتاب يَعْلَمُونَ هغوی پوهیږي أَنَّهُۥ بېشکه چې دا(کتاب یعنې قرآن) مُنَزَّلٌ نازل شوۍ دی مِّن رَّبِّكَ ستا د رب د طرف څخه بِٱلْحَقِّ ۖ په حق باندې(یعنې یهود او نصارى که په ښکاره اعلان وکړي او که نه،د قرآن د نزول په وخت کې هم پوهیدل او اوس هم پوهیږي چې قرآن د الله تعالی د طرف څخه حق کتاب دی،او په دې خبره کې هیڅ شک نشته دی،ځکه چې د دې خبرې شاهد پخپله الله تعالی دی،په واضحه توګه فرمایې چې دا خلک« يَعْلَمُونَ»

پوهیږي چې قرآن دالله تعالی د طرفه په حقه سره نازل شوئ دی) فَلَا
تَكُونَنَّ نو مه کیږه ته مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ د شک کوونکو څخه. ١١٤

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَـٰتِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ١١٥

وَتَمَّتْ او بالکل مکملې دي كَلِمَتُ خبرې رَبِّكَ د رب د ستا صِدْقًا
په اعتبار د رییښتینولی وَعَدْلًا ۚ او د عدالت(یعني د قرآنکریم ټول
احکام او قوانین د صداقت او انصاف په اعتبار سره بالکل پوره او مکمل
دي) لَّا مُبَدِّلَ نشته هیڅوک بدلوونکئ لِكَلِمَـٰتِهِۦ ۚ د هغه«جل
جلاله»خبرو ته(یعني په دنیا کې هیڅوک نشي کولای چې د دنیا د نظام د
چلیدو دپاره د الله تعالی د احکامو او قوانینو څخه بنه احکام او قوانین
جوړ کړي،نو لازمه ده چې د الله تعالی بندګان باید صرف د الله تعالی د
قانون مطابق په دنیا کې ژوند وکړي،ځکه چې د ټولو نه بهتر او بنه
قانون دی. ) وَهُوَ او هغه «جل جلاله» ٱلسَّمِيعُ اوریدونکئ ٱلْعَلِيمُ
(او)پوه دی ١١٥

وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ
وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ١١٦

وَإِن (ای نبي «صلی الله علیه وسلم» که چیرته تُطِعْ ته پیروي وکړي
أَكْثَرَ د اکثریت مَن د هغو خلکو فِى ٱلْأَرْضِ چې په ځمکه کې
دي(نو) يُضِلُّوكَ دوی به واړوي تا عَن سَبِيلِ د لارې د ٱللَّهِ ۚ الله
تعالی څخه(ځکه چې د نبي علیه السلام په وخت کې اکثریت د خلکو
جاهلان و،په ټولنه کې د کتاب الله طریقې او قوانین نه و،د ژوند ټول
معاملات او مسائل به یې د خپل ځان څخه په جوړو شوو جاهلانه طریقو

او رواجونو حلول،لکه اوس هم اکثره خلکو الهي شریعت پرېښئ دی،او غیرې شریعي طریقو او رواجونو ته اهمیت ورکوي إِن يَتَّبِعُونَ (او دوی چې کومې طریقې او رواجونه جوړ کړي و،دوی د کوم الهي کتاب څخه پیروي نه کوله) إِلَّا مګر ٱلظَّنَّ د ګمان پیروې یې کوله وَإِنْ هُمْ او دوی نه(کوي) إِلَّا مګر يَخْرُصُونَ اټکلونه کوي(یعنې په دوی کې چې کوم رواجونه او طریقې دي،دا دوی د خپلو ګمانونو او اټکلونو په اساس جوړوي نه د کوم الهي هدایت په اساس،لهذا دوی پخپله هم ګمراه دي او که څوک د دوي ملګرې او پیروې کوي هغه هم ګمراه کیږي،د بده مرغه چې اوس هم په ټولنه کې اکثره خلکو د جاهلیت د زماني طریقې او رواجونه خپل کړي دي.) ١١٦

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ١١٧

د نبي علیه السلام په وخت کې او اوس هم دغسې خلک چې د جاهلیت د زماني په شان د خپلو فکرونو او ګمانونو څخه د انسانانو دپاره قوانین او طریقې جوړوي.او خپل فکر او سوچ د قرآن د سوچ څخه ورته ښه ښکاریږي،او ځانونه او خپل خود ساخته قوانین ورته په هدایت کې او سم ښکارېږي،او د قرآن پیروان اود شریعت منونکې ورته بې لارې او ناسم ښکارېږي،نو الله تعالی فرمایي:

إِنَّ رَبَّكَ بېشکه رب ستا هُوَ هغه«جل جلاله» أَعْلَمُ پوهیږي مَن يَضِلُّ چې څوک اوړې عَن سَبِيلِهِۦۖ د هغه«جل جلاله» د لارې څخه وَهُوَ او هغه «جل جلاله» أَعْلَمُ ښه پوهیږي بِٱلْمُهْتَدِينَ په لار موندنکو باندې(یعنې په دې یوازې الله تعالی پوهیږي چې څوک ګمراه دی او څوک په سمه لار روان دی،دوی څوک دي چې د خلکو د ښو او بدو فیصلې کوي،دا صرف د الله تعالی حق دی) ١١٧

فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ١١٨

د جهالت د وخت یو رواج دا و چې:دوی به د ځینو حیواتو غوښې چې الله تعالی ورته حلالې کړي وي،دوی په ځانونو حرامې کړې وي،او د ځینو حیواناتو غوښې چې الله تعالی وربانديې حرامې کړې وي،دوی ځانونو ته حلالې کړې وي،اوس هم دا د جاهلیت د زماني قوانین او رواجونه په دنیا کې موجود دي،مثلاً د غواګانو غوښې الله تعالی حلالې کړې دي مګر یو تعداد زیاتو خلکو په ځانونو حرامې کړې دي.او د خوګ غوښې الله تعالی حرامې کړې دي مګر یو تعداد زیاتو خلکو ځانونو ته حلالې کړې دي،او بله خبره به دوی دا کوله،چې مسلمانانو ته به یې د اعتراض په قسم ویلې چې:تاسو چې پخپله حیوان وژنئ یعنې چې پخپله یې حلالوئ نو غوښې یې خورئ،مګر چه الله تعالی یې وژني یعنې چې پخپله مردار شي نو هغه بیا نه خورئ حال دا چې د الله تعالی وژل خو بهتر دي باید چې ویې خورئ،نو دغسې چټې او بې

ځایه دلایل به یې د خپلو ګمانونو او اټکلونو څخه جوړول.....

فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ﴿١١٨﴾

فَكُلُواْ نو خورئ تاسو مِمَّا د هغو(څارويو د غوښو څخه چې د ذبح کولو په وخت کې ) ذُكِرَ اخستل شوئ وي ٱسۡمُ نوم ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيۡهِ په هغه(څاروي) باندې إِن كُنتُم که یاستئ تاسو بِـَٔايَٰتِهِۦ د هغه«جل جلاله» په آیاتونو باندې مُؤۡمِنِينَ ایمان لرونکې.(یعنې د خپل ځان څخه حلال او حرام مه جوړوئ،په هغه څاروې چې بسم الله ویل شوي وي دهغه غوښه حلاله او په کوم چې د الله تعالی نوم نه وي اخستل شوئ د هغه غوښه حرامه ده) ١١٨

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُعْتَدِينَ ١١٩

وَمَا او څه(ممانعت دی) لَكُمْ تاسو ته أَلَّا تَأْكُلُواْ چې نه خورئ تاسو مِمَّا دهغه(څارو ې غوښې چې د ذبح کولو په وخت کې) ذُكِرَ اخستل شوئ وي ٱسْمُ نوم ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيْهِ په هغه(څارویِ) باندې وَقَدْ او بېشکه چې فَصَّلَ هغه «جل جلاله» په تفصیل سره بیان کړي دي لَكُم تاسو ته مَّا هغه (شیان) حَرَّمَ چې هغه«جل جلاله)حرام کړي دي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِلَّا مَا پرته د هغه(حرام شي)څخه ٱضْطُرِرْتُمْ چې تاسو مجبور یاستئ إِلَيْهِۗ هغه(حرام شي) ته(یعنې د مجبوریت په وخت کې د ضرورت په اندازه د حرام شي خوړل جواز لري) وَإِنَّ او بېشکه كَثِيرًا ډېر خلک لَّيُضِلُّونَ گمراه کوونکي خبرې کوي بِأَهْوَآئِهِم په سبب د خپلو خواهشاتو بِغَيْرِ عِلْمٍۗ په ناپوهۍ سره(یعنې په ناپوهۍ او جهالت سره د خپلو خواهشاتو د تسکین دپاره د حلالو او حرامو حکمونه جارې کوي،او ناپوهه عوام خلک گمراه کوي) إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا هُوَ هغه «جل جلاله» أَعْلَمُ ډېر ښه پوهیږي بِٱلْمُعْتَدِينَ د حد څخه په تیریدوونکو باندې. ١١٩

وَذَرُواْ او پرېږدئ تاسو(او ځانونه وساتئ تاسو) ظَـٰهِرَ د ښکاره ٱلْإِثْمِ گناه څخه وَبَاطِنَهُۥٓۚ او د پټې گناه څخه(ځکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو پټو او ښکاره،وړو او غټو گناهونو باندې ډېر ښه پوهیږي،نو) إِنَّ بېشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک يَكْسِبُونَ چې کوې هغوی ٱلْإِثْمَ گناه(پټه وي او که ښکاره) سَيُجْزَوْنَ زر به جزا ورکول شي هغوی ته بِمَا په سبب د هغو(گناهونو) كَانُواْ يَقْتَرِفُونَ چې دوی به کول. ١٢٠

وَلَا تَأْكُلُواْ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ لَيُوحُونَ
إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَـٰدِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ١٢١

وَلَا تَأْكُلُواْ او مه خورئ تاسو مِمَّا د هغه(څارویِ غوښې چې د ذبح کولو په وخت کې) لَمْ يُذْكَرِ نه وي اخستل شوئ ٱسْمُ نوم ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيْهِ په هغه(څارویِ) باندې وَإِنَّهُۥ او بېشکه دا(کار یعنې د داسې څارویِ غوښې خوړل چې د حلالولو په وخت کې وربانديِ د الله تعالی نوم نه وي اخستل شوئ) لَفِسْقٌ ۗ خامخا فسق دی(یعنې د الله تعالی د حکم نافرماني ده) وَإِنَّ او بېشکه ٱلشَّيَـٰطِينَ شیطانان لَيُوحُونَ شکونه او اعتراضونه وراچويِ(القا کوي) إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ خپلو دوستانو ته (په زړونو کې،مثلاً دا شک او اعتراض وراچويِ چې:هغه څارويِ چې مسلمانان يې پخپله وژني یعنې حلالوي يې،نو هغه خوريِ،خو هغه څارويِ چې الله تعالی يې وژني یعنې مردارېږي،نو هغه ولې نه خوريِ؟حال دا چې د الله تعالی وژل خو د انسان د وژلو نه بهتر دي،او نور داسې ډېر شکونه جني او انسي شیطانان خپلو دوستانو یعنې مشرکانو او کافرانو ته په زړونو کې وراچويِ ) لِيُجَـٰدِلُوكُمْ ۖ د دې دپاره چې دوی(یعنې مشرکان) جګړه وکړي ستاسو سره(لکه چې اوس هم په دنیا کې دا د جاهلیت د وخت پیروان ډېر دي،مثلاً ځینې په مسلمانانو اعتراضونه کوي چې:تاسو ولې د غواګانو غوښې خورئ؟او ځینې بیا وایې چې تاسو ولې د خوګانو غوښې نه خورئ؟) وَإِنْ او که چېرته أَطَعْتُمُوهُمْ تاسو اطاعت وکړئ د هغوی(یعنې که تاسو د مشرکانو او کافرانو اطاعت وکړئ،او خبره يې ومنئ نو) إِنَّكُمْ بېشکه تاسو به لَمُشْرِكُونَ خامخا مشرکان یاستئ(ځکه چې مشرکان مرداريِ ته حلال او حلالو ته مردار وایې.علامه ابن کثیر فرمایې: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ«او که چیرته تاسو د هغوی اطاعت وکړو نو تاسو به مشرکان

ياستئ» يعني كه چيرته تاسو الهي اوامر او الهي شريعت پريښودو،او د نورو اوامرو او احكامو ته مو په الهي اوامرو او احكامو ترجيح وركړه،نو دا ښكاره شرك دى. ) ١٢١

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَـٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَـٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَـٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ١٢٢

په دې مبارك آيات كې د كافر او مسلمان مثال الله تعالى بيانوي.

أَوَمَن آيا هغه څوک كَانَ مَيْتًا چې هغه مړ و(يعني چې هغه كافر و) فَأَحْيَيْنَـٰهُ بيا مونږ هغه راژوندى كړو (يعني بيا مونږ هغه مسلمان كړو) وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا او جوړه كړه مونږ هغه ته رڼا (يعني وركړو مونږ هغه ته قرآن) يَمْشِى بِهِۦ چې ګرځي په هغې (رڼا)باندې(يعني چې ژوند كوي د قرآن د لارښودنو سره) فِى ٱلنَّاسِ په خلكو كې (نو آيا دا مسلمان كس) كَمَن مَّثَلُهُۥ په شان د هغه چا كيدلاى شي؟

فِى ٱلظُّلُمَـٰتِ چې په تيارو كې وي (يعني چې كافر وي،او) لَيْسَ نه وي بِخَارِجٍ وتونكئ مِّنْهَا ۚ د هغې څخه(يعني د كفر د تيارو څخه د اسلام رڼا ته نه ځي يعني ايمان نه راوړي.ليكن سوال پيدا كيږي چې دا خلک ولې د كفر د تيارو څخه د اسلام رڼا ته نه ځي يعني ولې ايمان نه راوړي؟جواب دا دى!لكه څنګه چې مسلمانانو ته ايمان ښايسته شوئ دى او خپل اعمال ورته ښه ښكارې.) كَذَٰلِكَ همدارنګه زُيِّنَ ښايسته شوي دي لِلْكَـٰفِرِينَ كافرانو ته مَا هغه(كفر او بد اعمال) كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ چې هغوى يې كوي.(يعني شيطان ورته د هغوى كفر او بد عملونه ښايسته كړي دي) ١٢٢

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ١٢٣

د ښه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

الله تعالی انسان د ازاد اختیار او ارادې سره دنیا ته د امتحان دپاره رالیږلۍ دی،یعني هر ښه او بد کار په خپل اختیار او اراده سره کوي،لیکن باید واضح شي چې انسان صرف په خپل اختیار سره د یو کار اراده کولای شي،لیکن د ارادې د سر ته رسولو صلاحیت او قدرت نه لري،بلکې د انسان اراده هغه وخت سر ته رسیږي چې کله الله تعالی وغواړي او د هغه کار د کولو اراده وفرمايي د کوم چې انسان اراده کړې ده،دا په دې معنی چې د انسان اراده د الله تعالی د ارادې پواسطه پوره او سر ته رسیږي،هغه که د ښه کار اراده وي او که د بد کار،مطلب دا چې ټول ښه او بد کارونه د الله تعالی د ارادې پواسطه کیږي،لیکن ثواب او ګناه ئې هغه انسان ته رسیږي چا چې د ښه یا بد کار اراده په خپل اختیار کړې ده،یعني بنده پرته د ازاد اختیار د استعمال څخه چې په خپله خوښه د نیک کار اراده کوي او که د بد،نور هیڅ صلاحیت او قدرت نه لري،ټولې ارادې يې د الله تعالی د ارادې پواسطه پوره کیږي،او د همدې ازاد اختیار د استعمال په اساس ورسره د قیامت په ورځ حساب کوي.دې مثال ته توجه وکړۍ!یو کس په خپله خوښه اراده وکړي چې مسجد ته ننوځي او لمونځ وکړي،لیکن تر څو چې الله تعالی ونه غواړي او اراده ونه فرمايي چې د دې کس د لمونځ کولو اراده پوره کړي،د دې کس یوه پرزه به هم حرکت ونکړي،نه به يې پښه حرکت وکړي چې مسجد ته ننوځي،نه به ئې سترګې نه ژبه یعني په حقیقت کې دا ټول سیستم د الله تعالی د قدرت په قبضه کې دی،د الله تعالی د اجازې څخه پرته یې یوه پرزه هم کار نشي

کولای، خو کله چې الله تعالی وغواړي او اراده وفرمايې نو د وجود هره پرزه به خپل-خپل کار شروع کړي سړی به لمونځ وکړي.همدارنګه که د يو کس مخې ته د شرابو بوتل ايښئ وې،او سړی په خپله خوښه د شرابو څکلو اراده وکړي،مګر تر څو چې الله تعالی ونه غواړي او اراده ونه فرمايې چې د سړي د شرابو څکلو اراده پوره کړي،نه به سړی د شرابو بوتل راواخلې او نه به يې وڅکې،مګر که الله وغواړي او اراده وفرمايې چې د سړي د شرابو څکلو اراده پوره کړي،نو د سړي د وجود ټول سيستمونه به هماغسې کار شروع کړي چې سړی شراب وڅکې،تر دې ځايه چې مونږ څه وويل مطلب يې دا شو چې:بنده په خپله خوښه د ښه يا بد کار اراده کوي،مګر سر ته يې رسولای نشي،خو که الله تعالی وغواړې نو د الله تعالی د ارادې پواسطه د بنده اراده سر ته رسول کيږي،ليکن ثواب او ګناه يې هغه بنده ته رسيږي چې اراده يې کړي ده، د دې څخه په واضحه توګه دا خبره معلومه شوه چې:ښه او بد کارونه د الله تعالی د ارادې پواسطه کيږي يعنې په حقيقت کې ټول کارونه الله تعالی کوې،نو ځکه په قرآنکريم د هر کار د کولو نسبت الله تعالی خپل ځان ته کوي.مثلاً «فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ چې د الله تعالی چا ته خوښه شي ګمراه کوي يې يعنې څوک چې په خپله خوښه د ګمراهۍ اراده وکړي،نو که الله تعالی وغواړې او اراده وفرمايې د هغه اراده پوره کوي،او ګمراه شي. وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ او چا ته ئې چې خوښه شي سمه لار ورښايې يعنې څوک چې پخپله خوښه د هدايت حاصلولو اراده وکړي،نو که الله تعالی وغواړې او اراده وفرمايې د هغه اراده پوره کوي او سمه لار پيدا کوي» او ګناه او ثواب هغه چا ته ورځې چا چې د ګمراهۍ او هدايت حاصلولو ارادې په خپله خوښه کړي.او همدا د الله تعالی د امتحان اخستلو طريقه ده.او که داسې نه وي او الله تعالی څوک د هغه د ارادې نه پرته ګمراه

کړي او د دوزخ لار ورته برابره کړي او چا ته سمه د جنت لار وښيِ،نو بيا خو امتحان او دنيا ته د انسان د راتلو مقصد ختم شو.اوس آيت ته ځو.

لکه څنګه چي د مکي مشران لکه ابوجهل او وليد بن مغيره فاسقان و.

وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه جَعَلْنَا ګرځولي و مونږ فِى كُلِّ قَرْيَةٍ په هر کلي کي أَكَٰبِرَ مشران مُجْرِمِيهَا مجرمان د هغيِ(کلي.يعني د هر کلي مشرانو په دي خاطر چي د نبي او د حق د داعي په راتلو سره يې ګټو،اقتدار او دبدبو ته ضرر و،ځکه دوی خو په دې اموخته و چې خلک د دوی اطاعت وکړي،دوی دا نشوه زغملای چي دوی دي د نبی اطاعت وکړي،نو د دې دپاره چي خلک د نبيانو د اطاعت څخه منع کړي،نو د نبيانو په ضد يې د قسم-قسم جرمونو کولو ارادې وکړي،نو الله تعالی د دوی د ارادو د پوره کولو دپاره خپله اراده وفرمايله،نو د الله تعالی د ارادې پواسطه د دوی اراده پوره او مجرمان شو) لِيَمْكُرُوا۟ د دې دپاره چې مکر(او فريب) وکړي فِيهَا ۖ په هغو کلو کې(يعني چې عوام خلک د رسولانو تابعدار نشي،لکه فرعون چې په موسی عليه السلام باندې تور ولګولو چې نعوذبالله ساحر دی. ) وَمَا يَمْكُرُونَ او دوی نه کوي مکر(او فريب) إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ مګر د خپلو ځانونو سره وَمَا يَشْعُرُونَ حال دا چې دوی نه پوهيږي(چې ضرر يې دوی ته دی) ١٢٣

وَإِذَا جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ قَالُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ رُسُلُ ٱللَّهِ ۘ ٱللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُۥ ۗ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَمْكُرُونَ ١٢٤

وليد بن مغيره نبي عليه السلام ته وويل!که نبوت رېښتيني شي وي بيا خو د دې زه حقدار يم ځکه چې زه ستا څخه مشر هم يم او ستا څخه مالدار هم يم.

ابوجهل وویلي:قسم په الله چي نه به محمد«صلی الله علیه وسلم»منو او نه به یې اتباع کوو،مګر دا چي په مونږ هم وحې نازله شي لکه څنګه چي په مجمد«صلی الله علیه وسلم»باندی نازلیږي.

وَإِذَا او کله چي جَآءَتۡهُمۡ راشي هغوی ته ءَايَةٌ یو آیت(یوه نښه،یو دلیل) قَالُواْ هغوی وایي لَن نُّؤۡمِنَ حَتَّىٰ مونږ به د هغې پورې ایمان رانوړو تر څو چي نُؤۡتَىٰ راکول شي مونږ ته مِثۡلَ مَآ په شان د هغه څه أُوتِيَ چې ورکول شوي دي رُسُلُ ٱللَّهِۘ رسولانو د الله تعالی ته ٱللَّهُ أَعۡلَمُ الله تعالی ښه پوهیږي حَيۡثُ يَجۡعَلُ چې چیرته لیږي رِسَالَتَهُۥۗ پیغام خپل(یعنې په دې صرف الله تعالی پوهیږي چې هغه«جل جلاله» خپل نبوت او رسالت چا ته ورکړي) سَيُصِيبُ زر به ورسیږي ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته أَجۡرَمُواْ چې هغوی جرم کړئ دی صَغَارٌ ذلت عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالی د طرف څخه وَعَذَابٞ او عذاب شَدِيدُۢ سخت بِمَا په سبب د هغه(ګناهونو) كَانُواْ يَمۡكُرُونَ چي دوی مکرونه(او فریبونه) کول. ١٢٤

فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢٥

فَمَن نو چا ته چي يُرِدِ اراده وفرمایي ٱللَّهُ الله تعالی أَن چي يَهۡدِيَهُۥ هدایت وکړي هغه ته(یعنې کله چې الله تعالی د هغه چا د ارادې د پوره کولو دپاره خپله اراده وفرمایي،چا چې په خپل اختیار سره د هدایت د لاس ته راوړلو اراده کړي وي، نو) يَشۡرَحۡ هغه «جل جلاله» پراخوي صَدۡرَهُۥ سینه د هغه لِلۡإِسۡلَٰمِۖ اسلام ته(یعنې د اسلام هره

خبره به خوند ورکوي) وَمَن او چا ته يُرِدْ چې هغه«جل جلاله»
اراده وفرمايي أَن چې يُضِلَّهُۥ گمراه کړي هغه(يعني کله چې الله
تعالی د هغه چا د ارادي د پوره کولو دپاره خپله اراده وفرمايي،چا چې په
خپله خوښه د گمراهۍ اراده کړي ده نو) يَجْعَلْ هغه«جل جلاله»
گرځوي صَدْرَهُۥ سينه د هغه ضَيِّقًا تنگه حَرَجًا ډېره تنگه(يعني د
اسلام د خبرو اوريدلو ته يې داسې زړه او سينه تنگيږي) كَأَنَّمَا لکه
چې يَصَّعَّدُ پورته خيژي فِى ٱلسَّمَآءِ ۚ په آسمان کې(او سينه او ساه
يې تنگيږي.د آيت دا برخه د قرآنکريم علمي ساينسي معجزه ده،ځکه چې
ساينس اوس-اوس دا خبره کشف کړې ده چې:پورته د آسمان خوا ته چې
څومره ارتفاع يا جگوالی زياتيږي،نو د اتموسفير يا د هوا فشار او د
اکسيجن غلظت په هوا کې کميږي،دا په دې معنی چې:که چيرته يو سړی
په آسمان کې پورته د فيضاء يا سپيس خوا ته ځي،نو څومره چې د ځمکې
څخه لرې کيږي،يعني د ځمکې څخه يې فاصله يا ارتفاع زياتيږي،په
هماغه اندازه د هوا فشار او د اکسيجن غلظت کميږي،خو که چيرته دا
فاصله يا ارتاع تقريباً ۸۰۰۰ مترو ته ورسيږي،نو د اکسيجن غلظت
دومره کميږي چې په آسمان کې پورته ختونکې مسافر ته تنفسي مشکلات
پيدا کيږي،يعني د سينې او ساه ډېر سخت تنگوالئ ورته پيدا کيږي،او که
د فضاء خوا ته نور هم خپل سفر ته دوام ورکوي نو بايد چې د ځمکې
څخه خپل اکسيجن د ځان سره ويسي،او که نه نور نو مخکې هيڅ امکان
نلري چې پرته د اکسيجن څخه سفر ته دوام ورکړي.آيا ۱۴۰۰ کلونه پخوا
پرته د خالق څخه بل چا دا خبره کولای شوه چې:د ځمکې څخه د آسمان
خواته چې څومره ارتفاع يا فاصله زياتيږي،د هوا فشار او اکسيجن
کميږي،او د انسان ساه او سينه تنگيږي،يعني د څخه د ارتفاع يا فاصلو
زياتوالئ تنفسي مشکلات پيدا کوي.نو بايد ووايو چې قرآنکريم په هره

زمانه کې پخپله دا ثابتوي،چې د الله تعالی کلام دی) كَذَٰلِكَ دارنګه
يَجْعَلُ نازلوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلرِّجْسَ عذاب عَلَى ٱلَّذِينَ په هغو خلکو
باندې لَا يُؤْمِنُونَ چې ایمان نه راوړي. ١٢٥

وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًاۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْـَٔايَٰتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ١٢٦ ۞

وَهَٰذَا او دا صِرَٰطُ لار رَبِّكَ ستا د رب ده مُسْتَقِيمًاۗ چې سمه ده
قَدْ بېشکه فَصَّلْنَا په تفصيل سره بيان کړي دي مونږ. ٱلْـَٔايَٰتِ آياتونه
لِقَوْمٍ د هغو خلکو دپاره يَذَّكَّرُونَ چې نصيحت مني. ١٢٦ ۞

لَهُمْ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمْۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ١٢٧

لَهُمْ د هغوی دپاره دَارُ کور ٱلسَّلَٰمِ د سلامتی دی(يعنې جنت) عِندَ
رَبِّهِمْۖ د هغوی د رب سره وَهُوَ او هغه «جل جلاله» وَلِيُّهُم د
هغوی دوست دی بِمَا په سبب د هغو(عملونو) كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ چې دوی
به کول ١٢٧

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِۖ وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ
ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِيٓ أَجَّلْتَ لَنَاۚ قَالَ ٱلنَّارُ
مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾

وَيَوْمَ او هغه ورځ يَحْشُرُهُمْ چې هغه «جل جلاله» راجمع کړي
هغوی(يعنې پيريان او انسانان د قيامت په ورځ راجمع کړي) جَمِيعًا
ټول(نو ورته به وفرمايي:) يَٰمَعْشَرَ اى ډلې ٱلْجِنِّ د پيريانو قَدِ يقيناً
ٱسْتَكْثَرْتُم ګمراه کړي تاسو ډېر مِّنَ ٱلْإِنسِۖ د انسانانو څخه (د پيريانو
سره به پرته د پښيمانۍ او افسوس څخه بل جواب نه وي،خو) وَقَالَ وبه
وايي أَوْلِيَآؤُهُم ملګري د هغوی (يعنې د شيطانانو) مِّنَ ٱلْإِنسِ د
انسانانو څخه چې: رَبَّنَا اى ربه زمونږ ٱسْتَمْتَعَ فايده اخستې ده بَعْضُنَا

بِبَعْضٍۢ مونږ يو د بل څخه (يعني پيريانو به د ابليسي مقاصدو د پوره
کولو او زمونږ د ګمراه کولو په سبب په خپل قوم کي لوړي مرتبې او
عزتونه حاصلول،او مونږ ته به يې شراب،زنا او ټول ناروا نفسي
خواهشات دومره ښايسته او مزين کول،چې ټول عمر مو په نشو،تماشو او
د الله تعالى په نافرمانۍ کي تير کړو،يعني د پيريانو دا فايده وه چې په
خپله شيطاني ټولنه کي ورته مرتبې،حيثيت او عزت حاصل شوئ و،او
زمونږ دا فايده وه چې ټول عمر مو په مزو او تماشو کې تير کړئ دی،تر
څو چې: دې د ژوند څخه د مرګ په لور سفر کې) وَ تَبَلَغْنَآ مونږ
ورسيدلو أَجَلَنَا خپلې نيټې (د مرګ) ته ٱلَّذِيَ هغه (نيټه) أَجَّلْتَ
چې مقرره کړي وه تا لَنَا ۚ مونږ ته(يعني تر هغې پورې مونږ په عيش
،عيشرت،مزو او چړچو کې و چې مرګ ته وړورسيدو، په خپلو کړو ډېر
پښيمانه راغلي يو.) قَالَ (الله تعالى به دواړو ډلو ته) وفرمايي: ٱلنَّارُ
چې اور(يعني جهنم) مَثْوَىٰكُمْ ستاسو د اوسيدلو ځای دی خَٰلِدِينَ چې
هميشه به اوسيږئ فِيهَآ په هغې (اور) کې إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ مګر هغه
چې الله تعالى اراده وفرمايي(چې وئې باسي) إِنَّ ببشکه رَبَّكَ رب ستا
حَكِيمٌ ډېر حکمت والا عَلِيمٌ (او) ډېر پوه دی. ١٢٨

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّى بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ١٢٩

وَ او(الله تعالى فرمايي) كَذَٰلِكَ همدارنګه نُوَلِّى مونږ به ملګري کړو
بَعْضَ ځيني ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمان بَعْضًۢا د ځينو نورو سره بِمَا په سبب
د هغه(اعمالو) كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ چې هغوی به کول.(يعني مونږ ټول
ظالمان او ګنهګاران د دوی د ظلمونو او بدو کارونو په تناسب په جهنم
کې يو د بل سره نږدې کوو،او دهرې درجې ظالم،او ګنهګار چې وي،

هغه به د نافرمانو او ظالمانو په هماغه طبقه کې وراچوو.او بیا به ورته وویل شي.تعلیم القران-کابلی تفسیر) ۱۲۹

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ شَهِدۡنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ۱۳۰

يَٰمَعۡشَرَ ای ډلي ٱلۡجِنِّ د پيريانو وَٱلۡإِنسِ او د انسانانو أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ آیا نه و راغلي تاسو ته رُسُلٞ پیغمبران «علیهم السلام» مِّنكُمۡ د ستاسو څخه؟ يَقُصُّونَ چې بیانول به يې عَلَيۡكُمۡ تاسو ته ءَايَٰتِي آیاتونه زما وَيُنذِرُونَكُمۡ او ویرولئ به يې تاسو لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ ستاسو د دې ورځې د ملاقات څخه قَالُواْ دوی به ووايي(یعني پيريان او انسانان به ووايي) شَهِدۡنَا شاهدي وايو مونږ عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ په خپلو ځانونو باندې(چې مونږ ته پیغمبران راغلي و،تبلیغ يې راته کړئ و،او د دې ورځې(یعني د قیامت د ورځې د عذاب) څخه يې خبر کړي و وَ او(الله تعالی فرمایي چې) غَرَّتۡهُمُ دوکه کړي و دوی ٱلۡحَيَوٰةُ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنیا وَشَهِدُواْ او شاهدي به ورکړي هغوی(یعني پيريان او انسانان) عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ په خپلو ځانونو باندې أَنَّهُمۡ چې بېشکه دوی(په دنیا کې) كَانُواْ كَٰفِرِينَ کافران و.۱۳۰

ذَٰلِكَ أَن لَّمۡ يَكُن رَّبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا غَٰفِلُونَ ﴿۱۳۱﴾

ذَٰلِكَ دا(د رسولانو لیږل او خلک د الله تعالی د دین او عذاب څخه خبرول،د دې دپاره دي) أَن چې: لَّمۡ يَكُن نه دی رَّبُّكَ رب ستا مُهۡلِكَ هلاکونکئ ٱلۡقُرَىٰ د کلو (یا ښارونو) بِظُلۡمٖ په سبب د ظلم(او ګناهونو د هغوی باندې) وَ په داسې حال کې أَهۡلُهَا چې اوسیدونکي د

هغې (کلويا ښارونو د الله تعالی د دين او عذاب څخه) غَٰفِلُونَ خبر نه وي. ١٣١

وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ﴿١٣٢﴾

وَلِكُلّٖ او د هر يو (پيرې او انسان) دپاره دَرَجَٰتٞ درجې دي (يعنې مرتبې دي په دوزخ او جنت کې) مِّمَّا (په اعتبار) د هغو (اعمالو) عَمِلُواْۚ چې هغوی کړي دي وَمَا رَبُّكَ او نه دی رب ستا بِغَٰفِلٍ بې خبره عَمَّا د هغه(اعمالو) څخه يَعۡمَلُونَ چې هغو يې کوي. ﴿١٣٢﴾

وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۢ بَعۡدِكُم مَّا يَشَآءُ كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾

وَرَبُّكَ او ستا رب ٱلۡغَنِيُّ بې حاجته(او بې پروا دی،يعنې نه الله تعالی د چا ايمان راوړلو،لمونځونو،روژو او نيکو عملونو ته ضرورت لرې،او نه د چا د کفر، نافرمانۍ او بدو کارونو څه پروا لرې،که ټوله دنيا ايمان راوړې او نيک عمله شي الله تعالی ته يې هيڅ فايده نشته،او که ټوله دنيا ورڅخه انکار وکړي او بد عمله شي الله تعالی ته يې هيڅ ضرر نشته،او الله تعالی) ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ رحمت والا دی إِن يَشَأۡ که چيرته هغه«جلا جلاله» وغواړي يُذۡهِبۡكُمۡ تاسو به د منځه ويسي وَيَسۡتَخۡلِفۡ او جانشين به کړي(يعنې ستاسو په ځای به راولې) مِنۢ بَعۡدِكُم وروسته د ستاسو څخه مَّا هغه(خلک) يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» وغواړي كَمَآ لکه څنګه چې أَنشَأَكُم هغه«جل جلاله» پيدا کړئ تاسو مِّن ذُرِّيَّةِ د نسل (د اولادې) قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ د نورو خلکو څخه(دبل قوم څخه) .(يعنې لکه څنګه چې تاسو الله تعالی د نورو خلکو د نسل څخه پيدا کړئ،لکه عاديان چې ډېر قوي خلک و،خو کله چې الله تعالی هلاک کړل،نو د هغوی څخه يو څه اهل ايمان چې د هود عليه السلام ملګرې و،د هغې ځای څخه

هجرت وكړو،او د دوی پواسطه الله تعالی د ثمود قوم منځ ته راوړو،بيا
ئې د ثمود قوم هم هلاک کړو،او د هغوی څخه د بچ شوو ايمان والاو
پواسطه نسل مخکې لاړو،او په مختلفو ځايونو کې ترې مختلف قومونه
آباد شو،نو لکه چې تاسو مو د بل قوم د نسل څخه پيدا کړئ،همداسې به
تاسو هم د منځه ويسو او بل قوم يعنې نور خلک به ستاسو په ځای
راولوو.) ﴿۱۳۳﴾

إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَآتٍۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿۱۳٤﴾

إِنَّ بېشکه مَا هغه څه تُوعَدُونَ چې ستاسو سره يې وعده کيږي لَآتٍۖ
خامخا راتلونکي دي(يعني قيامت خامخا راځي، د مرګ نه وروسته به
خامخا دوباره راژوندي کيږئ،د حشر ميدان ته به د حساب دپاره
ورځئ،زره په زره حساب به درسره کيږي،او كه کامياب شوئ نو جنت
ته او که ناکام شوئ نو جهنم ته به ځئ،نو بيا ولې د دومره سخت سفر او
خطرناک انجام څخه بې پروا ياستئ؟) وَمَآ أَنتُم او نه ياستئ تاسو
بِمُعۡجِزِينَ عاجزه کوونکې(يعني: تاسو د الله تعالی د عاجزولو توان
نلرئ،يعني چې تاسو به د الله تعالی څخه وتښتئ او ځانونه په ورڅخه
خلاص کړئ) ﴿۱۳٤﴾

قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَامِلٞۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ
ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿۱۳٥﴾

قُلۡ (ای محمد«صلی الله عليه وسلم» مشرکانو ته) ووايه يَٰقَوۡمِ ای زما
قومه (چې دعوت او تبليغ نه منئ،او ايمان نه راوړئ،پس زما د تبليغ او
دعوت مخه مه نيسئ،نو ) ٱعۡمَلُواْ تاسو عمل کوئ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ په خپله
طريقه باندې(يعني تاسو خپل کار کوئ) إِنِّي عَامِلٞۖ (او) بېشکه زه
به(خپل د دعوت او تبليغ) کار کوم(يعني د الله تعالی د چا ايمان او کفر ته

احتياج نه دی،دنيا خو د امتحان ځای دی،د داعي مسؤليت تبليغ كول دي،او د مشرک او كافر مسؤليت د دعوت قبلول او ايمان راوړل دي) فَسَوۡفَ نو ډېر زر به تَعۡلَمُونَ تاسو پوه شئ مَن تَكُونُ چې څوک به وي(يعني چې د مشركانو او مسلمانانو څخه به څوک وي ) لَهُۥ چې هغه ته به عَٰقِبَةُ د آخرت ٱلدَّارِۚ كور(يعني جنت) وي إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ بېشكه چې ظالمان(يعني مشركان په دنيا كې د الله تعالى په امتحان كې) نه كاميابيږي. (بلكې ناكاميږي،د حشر په ميدان كې به عملنامې په چپو لاسونو كې وركول شي،او جهنم ته به يې وليږي) ﴿١٣٥﴾

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿١٣٦﴾

په مخكې آيت كې د مشركانو طريقو ته اشاره وشوه،اوس د هغوی د يو څه طريقو ذكر كيږي،خو په آيت د ښه پوهيدلو دپاره د يو څه معلومات ذكر كول ضرور دي.بايد پوه شو چې د مكې مشركانو الله تعالى منلو،خو د الله تعالى سره يې بتان هم شريكان ګڼل،دوی عقيده لرله چې كائنات الله تعالى پيدا كړي دي،خو شريكانو ته يې هم يوڅه قدرت وركړئ دی چې د كائناتو د نظام په چلولو كې ورسره مرسته كوي،او د بتانو عبادت يې د خپلو ځانونو او الله تعالى د نزديكت وسيله ګڼله.راځو موضوع ته:د مشركانو د جاهلانه طريقو څخه يوه دا وه چې:دوی به په خپلو فصلونو لكه ميوي،داني لكه غنم او خپلو حيواناتو كې د الله تعالى برخه هم بيلوله او د شريكانو برخه به يې هم بيلوله.كومه برخه به يې چې د شريكانو په نوم بيله كړه،هغه يوازې د بتانو منجارانو ته وركول كيدله،ليكن كومه برخه به چې د الله تعالى دپاره بيله شوي وه،د هغې څخه به عامو

مسکینانو ته هم ورکول کیدله،او د بتانو منجاورانو ته به هم ورکول کیدله.همدارنګه که چیرته به د الله تعالی د برخي مثلاً فرضاً که غنم به و، نو که د دې غنمو څخه به په څه سبب سره یو څه غنم د بتانو یا شریکانو د برخي سره ګډ شو نو دوی به پریښودل،یعني بیرته به یې د الله د برخي سره نه یو ځای کول،ویلي به یې چې الله خو غني دی.مګر که د بتانو یا د شریکانو د برخي څخه به یو څه غنم، یا به د چا په پښه ولړیدل یا په بل کوم سبب به د الله د برخي سره یو ځای شول،نو دوی به سمدستي بیرته د الله د برخي څخه لرې کول او د بتانو په برخه به یې بیرته وراچول،یعني د الله څخه د بتانو نه ډیر وریدل چې ګنې بتان یا شریکان به وربانديې څه افت راولي،دوی فکر کولو چې الله خو لرې دی او شریکان خو نزدې دي.

وَجَعَلُواْ او مقرره کړي ده دوی(یعني مشرکانو) لِلَّهِ د الله تعالی دپاره مِمَّا د هغو شیانو څخه ذَرَأَ چې هغه «جل جلاله» پیدا کړي دي مِنَ ٱلۡحَرۡثِ د فصل وَٱلۡأَنۡعَٰمِ او څارویو نَصِيبٗا یوه برخه(یا حصه) فَقَالُواْ بیا وایي هَٰذَا لِلَّهِ دا (برخه) د الله تعالی دپاره ده بِزَعۡمِهِمۡ د دوی په عقیده وَهَٰذَا او دا(بله برخه) لِشُرَكَآئِنَاۖ زمونږ د شریکانو(یعني بتانو) دپاره ده فَمَا نو هغه (برخه) كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ چې د دوی د شریکانو دپاره ده فَلَا يَصِلُ نو هغه نه رسیږي إِلَى ٱللَّهِۖ الله تعالی ته(یعني د شریکانو یا بتانو برخه خو یوازې مینجاورانو ته ورکوي،او عامو مسکینانو ته یې نه ورکوي) وَمَا او هغه (برخه) كَانَ لِلَّهِ چې د الله تعالی دپاره ده فَهُوَ نو هغه(یعني د الله تعالی د برخي څخه) يَصِلُ رسیږي إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ د دوی شیرکانو ته(یعني بتانو ته،ځکه چې د الله تعالی د برخي څخه یې عامو مسکینانو ته هم ورکوي،او د بتانو منجاورانو ته یې هم ورکوي.یعني د بتانو برخه یوازې

د بتانو منجاورانو ته ورکول کیږي،خو د الله تعالی برخه تقسیموي،هم يې
د بتانو منجاورانو ته ورکوي او هم يې عامو مسکينانو ته ورکوي. )
سَآءَ (نو) ډېره بده ده مَا دغه فیصله يَحۡكُمُونَ چې دوی يې کوي
﴿١٣٦﴾

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ قَتۡلَ أَوۡلَٰدِهِمۡ شُرَكَآؤُهُمۡ لِيُرۡدُوهُمۡ وَلِيَلۡبِسُواْ عَلَيۡهِمۡ دِينَهُمۡۖ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ﴿١٣٧﴾

وَكَذَٰلِكَ او(همدارنګه بله طریقه د مشرکانو دا ده چې:) زَيَّنَ بنایسته کړې دي لِكَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د ډېرو مشرکانو دپاره قَتۡلَ وژل أَوۡلَٰدِهِمۡ د خپلو الادونو شُرَكَآؤُهُمۡ شریکانو د دوی (یعني:انسي او جني شیطانانو دوی ته د خپلو اولادونو ذبح کول د تیرو او لرګیو نه د جوړو شوو بتانو په پښو کې،بنه او د ثواب کار معرفي کړئ و،او دا کار يې د بتانو سره د نزدیکت زریعه ګڼله،او د بتانو نزدیکت يې د الله سره د نزدیکت زریعه ګڼله،او دې کار ته به يې د ابراهیم«علیه السلام»د شرعت رنګ ورکاوه،څکه چې جني او انسي شیطانانو لکه د بتانو منجاورانو به دوی ته وسوسې وراچولې چې:ابراهیم «علیه السلام» هم الله تعالی ته د اولاد د قرباني کولو کوشش کړئ و،نو دا کار د جهالت په زمانه کې هم اکثره مشریکانو کاوه،چې:یو مثال يې د نبي علیه السلام نیکه عبدالمطلب صاحب و،چې:د نبي علیه السلام پلار عبدالله صاحب يې د بتانو په نوم د ذبح کولو دپاره نذر کړئ و،او اوس هم د دنیا په څینو برخو کې داسې پیښې واقع کیږي.دا د دومره عظیمې ګناه او لوی ظلم وسوسې شیطانانو) لِيُرۡدُوهُمۡ د دې دپاره(په زړونو کې وراچولې) چې هغوی هلاک کړي(یعني یوخو د شرک کولو ګناه او بل د اولاد د وژلو ګناه خومره لوی هلاکت دی.) وَلِيَلۡبِسُواْ او (بل) د دې دپاره چې شک واچوي عَلَيۡهِمۡ

هغوی ته دِينَهُمۡۖ د خپل دین په اړه (چون د اولاد وژل د فطرت خلاف عمل دی،او اسلام د فطرت دین دی،نو کله چې د دوی په نظر کې د فطرت خلاف عمل رواه او ثواب ښکاره شي،نو د فطرت په دین یعني اسلام کې به ورته شک پیدا شي ځکه کوم کار ته به چې دوی روا او ثواب وایې،اسلام ورته ظلم او لویه ګناه وایې.) وَلَوۡ او که شَآءَ غوښتئ وَی ٱللَّهُ الله تعالی(چې اولادونه د بتانو دپار ذبح نکړي) مَا فَعَلُوهُۖ دوی به دا(اولادونه هیڅ کله هم د بتانو پښو کې ذبح) کړې نه و (خو الله تعالی د خپلو سنتو خلاف کار نه کوي،ځکه چې الله تعالی د امتحان د اخستلو دپاره هر چا ته اختیار ورکړئ دی،او د اختیار د استعمالولو دپاره هر چاته موقع ورکوي،نور د هغوی خوښه ده چې د پیغمبر علیه السلام دعوت مني،او که د شیطانانو وسوسې او شیطانت مني،او خپل اختیار څنګه استعمالوې؟) فَذَرۡهُمۡ نو ته پرېږده هغوی وَمَا يَفۡتَرُونَ او(پرېږده) هغه چې دوی څه دروغ جوړوي. ﴿١٣٧﴾

وَقَالُواْ هَٰذِهِۦٓ أَنۡعَٰمٞ وَحَرۡثٌ حِجۡرٞ لَّا يَطۡعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعۡمِهِمۡ وَأَنۡعَٰمٌ حُرِّمَتۡ ظُهُورُهَا وَأَنۡعَٰمٞ لَّا يَذۡكُرُونَ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا ٱفۡتِرَآءً عَلَيۡهِۚ سَيَجۡزِيهِم بِمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ١٣٨

وَقَالُواْ او وایې دوی(یعني مشرکان) هَٰذِهِۦٓ دا أَنۡعَٰمٞ څاروي وَحَرۡثٌ او فصلونه حِجۡرٞ ممنوع دی (یعني منع دی خوراک د دې) لَّا يَطۡعَمُهَآ نه به خوري دا(څاروي او فصلونه هیڅوک) إِلَّا مَن مګر هغه څوک(به یې خوري) نَّشَآءُ چې مونږ غواړو(چې ویې خوري) بِزَعۡمِهِمۡ د دوی په ګمان سره(یعني دوی په خپل ګمان سره دا ویل،یا دا د دوی خپلې خبرې وې چې دا زمونږ د بتانو دپاره دي،او د بل چا دپاره یې خوراک ممنوع دي،مطلب به یې دا و، چې دا به صرف د بتانو خدمتګاران او

منجوران خورې،په الله تعالی باندې به یې دروغ جوړول،ځکه چې د دې
نسبت به یې الله تعالی ته کولو،او ویلې به یې چې دا د الله تعالی شریعت
دی) وَأَنْعَٰمٌ او نور څاروې دې حُرِّمَتْ چې حرامې شوې دي
ظُهُورُهَا شاګانې د هغوی(یعنې مشرکانو ځینې څاروې د بتانو په نوم
خوشې کړې و چې په هغوی باندې به یې سورېدل او بار وړل منع کړې
و) وَأَنْعَٰمٌ او نور څاروې دي لَّا يَذْكُرُونَ چې دوی(یعنې مشرکان) نه
یادوې ٱسْمَ ٱللَّهِ نوم د الله تعالی عَلَيْهَا په هغوی باندې(یعنې کله به یې
څه څاروې د بتانو په نوم ذبح کول،او د الله تعالی نوم به یې وربانديې نه
اخستلو،په الله تعالی باندې به یې دروغ جوړل او ویل به یې چې همدا د
الله تعالی شریعت دی) ٱفْتِرَآءً د دروغو تپلو دپاره عَلَيْهِ ۚ په هغه«جل
جلاله» باندې(یعنې دا کار په الله تعالی باندې د دروغو تپلو دپاره کوې)
سَيَجْزِيهِم زر به هغه«جل جلاله» جزا ورکړې دوی ته بِمَا په سبب د
هغو(دروغو) كَانُواْ يَفْتَرُونَ چې دوی به (په الله تعالی باندې ) جوړول
١٣٨

وَقَالُواْ او دوی وایې(یعنې مشرکان وایې) مَا هغه (بچې) فِى بُطُونِ
چې په ګېډو کې هَٰذِهِ د دې ٱلْأَنْعَٰمِ چارپایانو دې خَالِصَةٌ (دا) یوازې
لِّذُكُورِنَا زمونږ د نرانو دپاره دې(یعنې د حیواناتو د ګېډو څخه چې کوم
بچې ژوندې تولد کیږي،هغه یوازې د نرانو حق دی) وَمُحَرَّمٌ او حرام دي
عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِنَا ۖ زمونږ په ښځو باندې وَإِن يَكُن مَّيْتَةً او که چیرته به
هغه(بچی) مړ پیدا شو فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ۚ نو بیا به دوی (ټول ښځې او
نران) په هغه(مړ بچې)کې شریکان و سَيَجْزِيهِمْ زر به هغه«جل
جلاله» دوی ته جزا ورکړې وَصْفَهُمْ ۚ د دوی د(غلط) بیان(یعنې حلالو

ته حرام او حرامو ته حلال ويل) إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» حَكِيمٌ
عَلِيمٌ حکمت والا (او) پوه دی. ١٣٩

قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ أَوْلَـٰدَهُمْ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُواْ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً
عَلَى ٱللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ١٤٠ ۞

قَدْ يقيناً خَسِرَ تاوان وکړو ٱلَّذِينَ هغو خلکو قَتَلُوٓاْ چې وژلي دي
هغوی أَوْلَـٰدَهُمْ اولادونه خپل سَفَهًۢا (په سبب د) کم عقلتوب بِغَيْرِ عِلْمٍ
په ناپوهۍ سره وَحَرَّمُواْ او حرامې کړې وي هغوی(په ځانونو باندې
غوښې د) مَا هغو(حلالو حيواناتو) رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ چې ورکړې و هغوی
ته الله تعالی ٱفْتِرَآءً دروغ جوړول(هغوی) عَلَى ٱللَّهِ ۚ په الله تعالی
باندې(چې حلال به يې حرامول،او حرام به يې د خپل ځان څخه
حرامول،او بيا به يې ويلې چې دا د الله تعالی شريعت دی.) قَدْ يقيناً
ضَلُّواْ ګمراه شو هغوی وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ او نه دي هغوی لار
موندونکې. ١٤٠ ۞

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ جَنَّـٰتٍ مَّعْرُوشَـٰتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَـٰتٍ وَٱلنَّخْلَ وَٱلزَّرْعَ مُخْتَلِفًا
أُكُلُهُۥ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَـٰبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَـٰبِهٍ ۚ كُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ
وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوْمَ حَصَادِهِۦ ۖ وَلَا تُسْرِفُوٓاْ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ ١٤١

وَهُوَ او هغه «جل جلاله» ٱلَّذِىٓ هغه(ذات) دی أَنشَأَ چې پيدا کړې يې
دي جَنَّـٰتٍ باغونه مَّعْرُوشَـٰتٍ په څپرو خيژول شوي(لکه د انګورو
باغونه) وَغَيْرَ مَعْرُوشَـٰتٍ او په څپرو نه خيژول شوي (يعني چې ونې يې
په خپلو تنو يا ډډونو ولاړې وي(لکه د منو او بادامو باغونه) وَٱلنَّخْلَ او
کهجورې(يعني خرما ئې پيدا کړې دي) وَٱلزَّرْعَ او فصلونه ئې پيدا کړې
دي مُخْتَلِفًا چې مختلفې دي أُكُلُهُۥ ميوې د هغو(يعني پيداوار يې په
رنګ او خوند کې فرق لرې) وَٱلزَّيْتُونَ او زيتون(ئې پيدا کړې دي)

وَٱلرُّمَّانَ او انار ئې پيدا کړې دي مُتَشَـٰبِهًا (چې ميوې يې په شکل کې ) مشابه يعني يو قسم وي وَغَيْرَ مُتَشَـٰبِهٍۚ او په مزه کې مشابه نه وي(يعني خوند يې فرق لري لکه خواږه انار،تروه انار او ميخوش انار) كُلُوا۟ (نو) خورئ تاسو مِن ثَمَرِهِۦٓ د هغوی د ميوو نه إِذَآ أَثْمَرَ کله چې ميوه ونيسي وَءَاتُوا۟ او ورکوئ تاسو حَقَّهُۥ حق د الله تعالی يَوْمَ په ورځ حَصَادِهِۦۖ د ريبلو(او راشوکولو) د هغو(ميوو او فصلونو) وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ۚ او اسراف مه کوئ(او بې ځايه مصرف مه کوئ) إِنَّهُۥ بېشکه الله تعالی لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلْمُسْرِفِينَ مُسرفان(بې ځايه مصرف کوونکې) ١٤١

وَمِنَ ٱلْأَنْعَـٰمِ حَمُولَةً وَفَرْشًاۚ كُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ١٤٢

وَمِنَ ٱلْأَنْعَـٰمِ او(الله تعالی پيدا کړي دي) ځينې د حيواناتو څخه حَمُولَةً باروړونکې(يعني هغه غټ ښاروې چې بار وړې لکه اوښ،آس او قچر) وَفَرْشًاۚ او(ځيني ئې) واړه (او ټيټ پيدا کړي دي چې غوښې يې خوړل کيږي،خو بار نه شي وړلای لکه ګډې،بيزې،پسونه وغيره ) كُلُوا۟ خورئ تاسو مِمَّا د هغو(غوښو،غلو دانو او ميوو)څخه رَزَقَكُمُ چې درکړې دي تاسو ته ٱللَّهُ الله تعالی وَلَا تَتَّبِعُوا۟ او پيروي مه کوئ تاسو خُطُوَٰتِ د قدمونو ٱلشَّيْطَـٰنِۚ د شيطان(يعني د شيطان په قدم خپل قدم مه ږدئ) إِنَّهُۥ بېشکه چې شيطان لَكُمْ ستاسو دپاره عَدُوٌّ مُّبِينٌ ښکاره دښمن دی. ١٤٢

ثَمَٰنِيَةَ (الله تعالی پیدا کړي دي) أَزۡوَٰجٖۖ مِّنَ ٱلضَّأۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٤٣﴾

ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۖ (الله تعالی پیدا کړي دي حلالې) اته جوړې (چې د دې اتو جوړو د جملې څخه) مِّنَ ٱلضَّأۡنِ د میږو څخه ٱثۡنَيۡنِ دوه(جوړې،یعني یو نر او یوه ښځه،باید ذکر شي چې د زوج کلیمه د نر او ښځې دواړو دپاره یعنې د جمعې دپاره هم راځي،او د هر یو یا ښځې دپاره بیل او د نر دپاره بیل هم راځي، او دلته په دې آیت کې د هر یو دپاره د بیل-بیل مطلب دی،یعنې د اتو جوړو نه مطلب اته عددونه دي،څلور نران او څلور ښځې چې:څلور یعنې دوه ښځې اودوه نران په دې آیت کې او څلور یعنې دوه ښځې او دوه نران په ۱۴۴ آیت کې بیان شوي دي.) وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ او د وزو څخه ٱثۡنَيۡنِۗ دوه (جوړې، یعنې یو نر او یوه ښځه) قُلۡ (مشرکانو ته) ووایه ءَآلذَّكَرَيۡنِ آیا دوه نران(یعنې ګډ او چیلی) حَرَّمَ الله تعالی حرام کړي دي؟ أَمِ یا ٱلۡأُنثَيَيۡنِ دوه ښځې(یعنې ګډه او وزه ئې حرام کړیدي)؟ أَمَّا یا هغه(بچې یې حرام کړي دي)؟ ٱشۡتَمَلَتۡ چې مشتمل دي عَلَيۡهِ په هغې (بچیو) باندې أَرۡحَامُ رحمونه د ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ دواړو ښځو؟(یعنې: یا هغه بچې چې د دواړو ښځو ګډې او وزې په خیټو یا رحمونو کې دي،حرام دي؟،ورته ووایه چې) نَبِّـُٔونِي تاسو خبر راکړئ ما ته بِعِلۡمٍ په علمي دلیل سره إِن كُنتُمۡ که چیرته یاستئ تاسو صَٰدِقِينَ ریښتیني ﴿١٤٣﴾

وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٤﴾

وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ او د اوښانو څخه ٱثۡنَيۡنِ دوه(جوړې ،نر او ښځه) وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ او د غوایانو څخه ٱثۡنَيۡنِۗ دوه (جوړې،نر او ښځه) قُلۡ ( مشرکانو ته) ووایه ءَآلذَّكَرَيۡنِ آیا دوه نران(یعنې اوښ او غوایې) حَرَّمَ حرام کړي دي الله تعالی؟ أَمِ یا ٱلۡأُنثَيَيۡنِ دوه ښځې(یعنې اوښه او غوا ئې حرام کړې دي؟) أَمَّا یا هغه(بچې ئې حرام کړي دي چې:) ٱشۡتَمَلَتۡ مشتمل دي عَلَيۡهِ په هغوی باندې أَرۡحَامُ رحمونه ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ د دوه ښځو(یعنې د اوښې او غوا په رحمونو یا خیټو کې دي)؟ أَمۡ یا كُنتُمۡ وئ تاسو شُهَدَآءَ حاضر إِذۡ هغه وخت کله چې وَصَّىٰكُمُ تاسو ته حکم کولو ٱللَّهُ الله تعالی بِهَٰذَاۚ په دې(باره کې) فَمَنۡ نو څوک أَظۡلَمُ زیات ظالم دی مِمَّنِ د هغه چا څخه ٱفۡتَرَىٰ چې جوړوي عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې كَذِبٗا دروغ لِّيُضِلَّ د دې دپاره چې ګمراه کړي ٱلنَّاسَ خلک بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ بې دعلمه څخه(یعنې بې علمه د ځان څخه فتوي ورکوي چې دا حلال دي او دا حرام دي.او بیا وایي چې دا د الله تعالی شریعت دی) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی لَا يَهۡدِي هدایت نه کوي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ قوم د ظالمانو ته(یعنې څوک چې ظلم او شرک کوي الله تعالی ورته هدایت نه کوي.) ﴿١٤٤﴾

قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٖ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٤٥﴾

قُل (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» مشرکانو ته) ووایه لَّآ أَجِدُ زه(خو)نه مومم فِي مَآ أُوحِيَ په هغې وحې کې چې شوې ده إِلَيَّ ما ته مُحَرَّمًا کوم حرام شوئ شی(یعنې:د هغو شیانو څخه کوم چې تاسو حرام کړي دي په ځانونو باندې او نسبت یې الله تعالی ته کوئ لکه چې ځینې

حلال څارويِ مو حرام کړي دي) عَلَىٰ طَاعِمٍ په يو خوړونکي باندې يَطۡعَمُهُۥٓ څوک چې خوري هغه (يعنې تاسو چې د کومو حيواناتو غوښې حرامې کړې دې او نسبت يې الله تعالى ته کوئ،نو د الله تعالى په وحې کې خو نشته دی چې هغه حرامې دې،بلکې د الله په وحې کې خو حلالې دي.) إِلَّآ مګر(دهغو څاروو غوښې حرامې دي) أَن يَكُونَ چې وي هغه مَيۡتَةً مرداره أَوۡ يا دَمًا وينه مَّسۡفُوحًا بهدونکې أَوۡ يا لَحۡمَ غوښه خِنزِيرٍ د خنزير فَإِنَّهُۥ بېشکه چې دغه(د خنزير غوښه) رِجۡسٌ ناپاکه(پليته) ده أَوۡ يا فِسۡقًا ناجائزه ذبيحه(يعنې ناجائزه حلاله) أُهِلَّ چې اواز شوئ وي لِغَيۡرِ ٱللَّهِ د نذر د غيرالله دپاره بِهِۦۚ په هغه باندې(يعنې چې په حلال شوې څاروې باندې په وخت د حلالولو کې د غيرالله دپاره غږ شوئ وي.باید واضح شي چې د دې مبارک آيت مطلب دا نه دی چې ګڼې پرته د دې شيانو څخه نور حلال او حرام شيان نشته دی،دا خو د هغو شيانو ذکر دی چې د جاهليت د وخت مشرکانو په ځان حلال او حرام کړې و،او نسبت يې الله تعالى ته کولو،نو قرآن د هغوی د دروغو رد وکړو کوم چې دوی په الله تعالى جوړول،يوازې دا نه ده چې د هغې وخت مشرکانو دا حلالول او حرامول کول اوس هم وګورئ په دنيا کې مشريکانو ډېر حلال شيان په ځانونو حرام کړې دي،مثلاً په هندوستان کې وګورئ چې حلالې غوښې نه خورې،او په اکثرو ملکونو کې وګورئ چې د خوګ غوښې او مردارې خورې) فَمَنِ خو که څوک ٱضۡطُرَّ مجبور شو(د ډېرې لوږې،او د ژوند د بچ کولو دپاره د حرامو خوړلو ته،او د ضرورت په اندازه يې استعمال کړې نو الله تعالى به ئې نه نيسي،خو شرط دا دی چې) غَيۡرَ بَاغٍ نه نافرماني کوونکئ وي وَلَا عَادٍ او نه تيری کوونکئ وي(يعنې چې د الله تعالى نافرمانې هم نه کوي،او د

ضروت څخه زیات خوراک هم ونکړي) فَإِنَّ نو بېشکه رَبَّكَ ستا رب
غَفُورٌ بخښوونکئ رَّحِيمٌ (او) مهربان دی. ﴿١٤٥﴾

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍۖ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ وَٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلْحَوَايَآ أَوْ مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿١٤٦﴾

وَعَلَى ٱلَّذِينَ او په هغو خلکو باندې هَادُواْ چې یهودیان و حَرَّمْنَا حرام کړې و مونږ كُلَّ ذِي ظُفُرٍۖ ټول د یو نوک والا حیوانات(ځینې حیوانات لکه غوا او وزې داسې نوکان یا سمّان لرې چې په منځ کې بیل وي،او بعضې لکه اوښ چې یو نوک یا سمّ لرې یعنې چې په منځ کې بیل نه وي،نو دا قسم د یو سمّ والا ټول حیوانات په یهودیانو د هغوی د سرکشیو په سبب د سزا په طور حرام شوي و،نه دا چې د ابراهیم علیه اسلام په دین کې د پخوا څخه حرام و.) وَمِنَ ٱلْبَقَرِ او(بل) د غواګانو وَٱلْغَنَمِ او د پسونو حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ وازدې مونږ په هغوی(یعنې یهودیانو)باندې حرامې کړې وي إِلَّا مګر مَا هغه(وازدې وریاندې حرامې شوي نه وې چې:) حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ چې د هغوی(یعنې د غوا ګانو او پسونو)د ملاګانو سره نښتې وي أَوِ یا ٱلْحَوَايَآ د (هغوی د کولمو(سره نښتې وي) أَوْ یا مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍۚ هغه(وازدې چې د هغوی)د هډوکو سره نښتې وي ذَٰلِكَ دا (په هغوی د یو نوک والا حیواناتو او وازدو حرامول) جَزَيْنَٰهُم جزا ورکړه مونږ هغوی ته(یعنې یهودیانو ته) بِبَغْيِهِمْۖ په سبب د سرکشئ د هغوی وَإِنَّا او بېشکه مونږ لَصَٰدِقُونَ ریشتینې یو.(یعنې دا شیان په دوی د جزا په طور حرام شوي و نه دا چې د ابراهیم علیه السلام په دین کې د پخوا څخه حرام و) ﴿١٤٦﴾

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمۡ ذُو رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُهُۥ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٤٧﴾

فَإِن نو که چیرته(بیا هم) كَذَّبُوكَ هغوی(یعني یهودیان) دروغجن ووايې تاته(یعني کوم د حلالو او حرامو حکمونه چې ته هغوی ته وایې،او هغوی باور ونکړي) فَقُل نو ورته ووایه چې: رَّبُّكُمۡ ستاسو رب ذُو رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ د پراخه رحمت خاوند دی(یعني ستاسو د نافرمانۍ په سبب دستي دربانديې عذاب نه راولي،بلکه ستاسو د نافرمانۍ سره-سره بیا هم د توبې مهلت درکوي،خو دا فکر ونکړئ چې پرته د توبې،ایمان او نیک عمل څخه به د الله تعالی د عذاب څخه خلاص شئ) وَلَا يُرَدُّ او نه ګرځول کیږي بَأۡسُهُۥ عذاب د الله تعالی عَنِ ٱلۡقَوۡمِ د قوم ٱلۡمُجۡرِمِينَ د مجرمانو څخه. ﴿١٤٧﴾

سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ ﴿١٤٨﴾

سَيَقُولُ (ستاسو د خبرو په جواب کې) زر دی چې وبه وایي ٱلَّذِينَ هغه خلک أَشۡرَكُواْ چې شرک يې کړئ دی چې: لَوۡ که چیرته شَآءَ غوښتلای ٱللَّهُ الله تعالی(چې څوک شرک ونکړي،نو) مَآ أَشۡرَكۡنَا نه به مونږ شرک کړئ و وَلَآ ءَابَآؤُنَا او نه به زمونږ پلرونو(کړئ و) وَلَا حَرَّمۡنَا او نه به مونږ حرام کړئ و مِن شَيۡءٖۚ کوم شی(د مشرکانو یوه اشتباه وه،دوی به مسلمانانو ته ویلې چې تاسو وایئ چې هر کار د الله تعالی په اراده کیږي،نو بیا خو مونږ شرک هم د الله تعالی په اراده کوو،نو معلومه خبره ده چې الله تعالی زمونږ په شرک راضي دی،ځکه

چې هر څه د هغه جل جلاله په اراده کیږي.جواب ته توجه وکړئ:بېشکه هر کار د الله تعالی د ارادې پواسطه کیږي،تر څو چې الله تعالی ونه غواړي،نه به د ونې څخه یوه پاڼه ولویږي،او نه به یوه زره(اتوم) وخوځیږي،لیکن د انسان او د پیرې معامله باکل بل شان ده،فعلاً پیریان پریږدو،صرف د انسان په باره کې بحث کوو،الله تعالی د انسان په باره کې د جنت او جهنم دفیصلې دپاره ،د انسان دپاره د یو امتحان د ورکولو فیصله وفرمایله،او د امتحان دپاره یې دنیا د امتحان د اصولو په اساس د امتحان د ورکولولو ځای جوړ کړو،دا په دې معنی دنیا د انصاف او عدالت په اصولو نه ده جوړه شوي،بلکې د امتحان په اصولو جوړه شوي ده،یعني ظلم،کفر،شرک،اسلام،الحاد،قتلونو او ټولو نیک او بد کارونو ته په کې اجازه ورکول شوي ده،او زمینه ورته برابره شوي ده،ځکه چې د الله تعالی د امتحان د اخستلو اصول دا دي چې د نیکو او بدو یا د روا او ناروا په کولو باندې یې اخلې،کله چې انسان د امتحان دنیا ته رالیږي،مخکې د مخکې څخه یې ورته د امتحان د ورکولو کتاب او معلم رلیږلئ دی،د امتحان په دوران کې ئې ورته په دنیا کې د اوسیدلو پوره بندوبست کړئ دی،علاوه د معلم او کتاب یعنې محمد صلی الله علیه وسلم او قرآنکریم څخه دننه په وجود کې ئې ورته د فطرت مکمل کتاب ایښئ دی،د ښو او بدو الهام یې ورته کړئ دی،دواړه ښې او بدې لارې ئې ورښودلې دي،نو کله یې چې عقل او علم د بلوغ د وخت پورې مکمل شې،نور نو د امتحان پرچې ورکړي،الله تعالی ګورې او بنده سوالونه حلوې،د سوالونو په حلولو کې انسان بالکل ازاد اختیار لرې،لکه مخکې چې ذکر شو د سوالونو نوعیت داسې دی لکه غریبې،دولت،زور او طاقت،پاچاهې،اولاد،صحت،مریضې،پاچاهې او داسې نور چې هر سوال دوه جوابه لرې،نیک یا صحې جواب او بد یا غلط جواب،ټول سوالونه د

الله تعالی د خوا څخه کیږي،او ټول جوابونه د انسان د خوا څخه حلیږي،د امتحان په دوران کې الله تعالی مخې ته نه راځي یعنې د انسان او الله تعالی په منځ کې د غیبو پرده وي،او نه الله تعالی چا ته نقل ورکوي،یعنې نه د چا سره کومک کوي چې غلط سوال ورته صحیح کړي،او نه د چا سره دا بې انصافي کوي چې صحې سوال ئې غلط کړي،دا په دې معنی چې نه څوک د شراب خانې څخه مسجد ته راولې،او نه د مسجد څخه څوک شراب خانې ته بیایي،بلکې هر انسان ته یې پوره ازادې ورکړې چې د هر سوال هر قسم جواب ورکوي،الله تعالی په کې کار نلرې،مثلاً: د زور او د طاقت سوال،یعنې بنده ته یې طاقت ورکړئ،جوابونه یې دوه دي،(۱)بالکل بنده په خپله خوښه او اختیار کولای شي چې د خلکو سره کومک وکړي،یعنې نیک جواب ورکړي،(۲)او یا کولای شي چې په خپله خوښه بد جواب ورکړي یعنې په خلکو باندې ظلم وکړي،یعنې جوابونه یا نیک او بد، انسان په خپل اختیار او خوښه کوي،اوس راځو دې خبرې ته چې آیا نیک او بد کارونه د انسان د اختیار او ارادې پواسطه کیږي؟نه هیڅ کار هم د انسان د ارادې پواسطه نه کیږي،بلکې کله چې انسان په خپل اختیار د یو نیک یا بد کار د کولو اراده وکړي،نو که چیرته الله تعالی وغواړي چې د انسان اراده پوره شي ،یعنې هغه نیک یا بد کار چې انسان یې د کولو اراده کړې ده،وشې،نو الله تعالی د بنده د ارادې د پوره کولو دپاره خپله اراده وفرمایې،او هغه کار وشي،مطلب دا چې د انسان اراده د الله تعالی د ارادې پواسطه پوره کیږي،لیکن د انسان د ټولو نیکو کارونو په ارادو کې د الله تعالی اراده او رضاء دواړه شامیل دي،مګر د انسان د ټولو بدو کارونو په ارادو کې د الله تعالی اراده شته دی،مګر رضاء ئې نشته دی،یعنې ټول کارونه د الله تعالی د ارادې پواسطه کیږي،او د انسانانو د امتحان د سوالونو نتایج د انسان د اختیار د استعمال په اساس

ورکول کيږي،ان شاء الله چې د يهوديانو د اعتراضيه سوال په جواب به پوه شوي ياستئ چې کارونه ټول د الله تعالى د ارادې پواسطه کيږي خو په نيکو کارونو کې د الله تعالى اراده او رضاء دواړه شته مګر په بدو او ناروا کارونو کې د الله تعالى يوازې اراده شته او رضاء ئې نشته دی.)

كَذَٰلِكَ همدارنګه كَذَّبَ ٱلَّذِينَ هغو خلکو (هم) تکذيب کړئ و مِن قَبۡلِهِمۡ چې پخوا د دوی څخه و حَتَّىٰ تر هغې پورې ذَاقُواْ چې وڅکلو هغوی بَأۡسَنَاۗ عذاب زمونږ.(دا هم د مشرکانو په اعتراضيه سوال باندې رد دی. يعنې د دوی څخه د مخه پخوانيو مشرکانو هم داسې خبرې کولې،نو که الله تعالى د دوی په شرک راضي و نو بيايې عذاب ولې ورکولو) قُلۡ (ای محمد«صلى الله عليه وسلم» ورته) ووايه هَلۡ عِندَكُم آيا ستاسو سره شته دی مِّنۡ عِلۡمٍ څه علمي سند فَتُخۡرِجُوهُ چې راوباسئ تاسو هغه لَنَآۖ مونږ ته إِن تَتَّبِعُونَ پيروي نه کوئ تاسو إِلَّا ٱلظَّنَّ مګر د ګمان(يعنې پرته د علم څخه د خپل ګمان پيروي کوئ) وَإِنۡ أَنتُمۡ او نه ياستئ تاسو إِلَّا مګر(يوازې) تَخۡرُصُونَ اټکل کوئ تاسو. ﴿١٤٨﴾

قُلۡ فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ فَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

<u>ذکر شو چې مشرکانو د شرک د صحيح ثابتولو دپاره دا دليل وړاندې کولو،چې الله تعالى زمونږ په شرک کولو راضي دی،ځکه که چيرته راضي نه و،نو مونږ به ئې منع کړي و.</u>

قُلۡ (ای محمد«صلى الله عليه وسلم» ورته) ووايه فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ (چې د ټولو دلايلو څخه قوي او) مظبوط دليل خاص د الله تعالى دی(يعنې هغه دليل وړاندې کړئ چې په کتاب الله يعنې قرآنکريم کې راغلئ وي،خو تاسو داسې نشئ کولای،ځکه دا په کتاب الله کې نشته او تاسو په الله تعالى دروغ وايئ.) فَلَوۡ شَآءَ او که چيرته الله تعالى غوښتلای

لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ خامخا به ئې تاسو ټولو(مشركانو) ته هدايت كړئ و.(يعني دا د الله تعالى په قدرت كې ده چې تاسو خو لا څه،چې د ټولې دنيا مشركانو او ټولو كفارو ته د يوې لحظې نه هم په لږ وخت كې هدايت كولاى شي،ليكن الله تعالى د خپلو سنتو خلاف نكوي،نه څوک په زوره په اسلام كې داخلوي، او نه څوک په زوره په كفر كې داخلوي،ځكه چې الله تعالى د ټولو انسانانو څخه امتحان اخلې،ښه او بده لاره ئې ورښودلې ده،عقل او ازاد اختيار ئې وركړئ دى،نور د انسان خپله خوښه ده چې په خپل اختيار د شرک او كفر لار اختياروي او كه د توحيد او هدايت لار اختياروي.) ﴿١٤٩﴾

قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشۡهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَاۖ فَإِن شَهِدُواْ فَلَا تَشۡهَدۡ مَعَهُمۡۚ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ﴿١٥٠﴾

<u>مخكې ذكر شو چې مشركانو د ځينې حلالو څارويو غوښې خوړل په ځانونو حرامې كړې وې،او نسبت يې الله تعالى ته كولو چې دا الله تعالى حرامې كړې دي.</u>

قُلۡ(اى محمد«صلى الله عليه و سلم» ورته) ووايه هَلُمَّ چې راولئ شُهَدَآءَكُمُ شاهدان خپل ٱلَّذِينَ هغه(خلک) يَشۡهَدُونَ چې هغوى شاهدي وايي (په دې باندې) أَنَّ ٱللَّهَ چې بېشكه الله تعالى حَرَّمَ حرام كړې دي هَٰذَاۖ دا (حيوانات كوم چې هغوى په ځانونو حرام كړې وو. خو دوى دا كار نشي كولاى چې داسې شاهدان پيداكړي،ځكه چې الله تعالى ته خو معلوم دي چې هغه«جل جلاله نه دي حرام كړي.) فَإِن شَهِدُواْ خو كه چېرته هغوى(د دروغو) شاهدي وركړه فَلَا تَشۡهَدۡ نو ته شاهدي مه وايه مَعَهُمۡۚ د هغوى سره(يعني ته د هغوى شاهدي مه قبلوه،ځكه چې دروغجن

دي) وَلَا تَتَّبِعۡ او پیروي مه کوه أَهۡوَآءَ د خواهشاتي خبرو ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَذَّبُواْ چې هغوی دروغ ګڼلي دي بِـَٔايَٰتِنَا آیاتونه زمونږ وَٱلَّذِينَ او(د هغو خلکو د خواهشاتو پیروي مه کوه) لَا يُؤۡمِنُونَ چې ایمان نلري بِٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت باندي وَهُم او (د هغو خلکو پیروي مه کوه) چې هغوی بِرَبِّهِمۡ د خپل رب سره يَعۡدِلُونَ (نور شیان لکه بتان و غیره) برابروي. ﴿۱۵۰﴾

۞ قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗاۖ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُم مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡۖ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَۖ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿۱۵۱﴾

۞ قُلۡ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» ورته) ووایه تَعَالَوۡاْ چې راشئ تاسو أَتۡلُ چې زه ولولم(یعني چې زه بیان کړم تاسو ته) مَا هغه څه حَرَّمَ چې حرام کړي دي رَبُّكُمۡ رب ستاسو عَلَيۡكُمۡۖ په تاسو باندي أَلَّا تُشۡرِكُواْ دا چې:مه شریکوئ تاسو بِهِۦ د هغه «جل جلاله» سره شَيۡـٔٗاۖ هیڅ شی(یعني بتان و غیره د الله تعالی سره مه شریکوئ) وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ او د مور او پلار سره إِحۡسَٰنٗاۖ ښیګڼه (او نیکي) کوئ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ او مه وژنئ أَوۡلَٰدَكُم اولادونه خپل مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ د (ویرې د) غریبۍ نَّحۡنُ مونږ نَرۡزُقُكُمۡ رزق درکوو تاسوته وَإِيَّاهُمۡۖ او هغوی ته(هم،یعني مونږ تاسو او ستاسو بچیوو ته رزق درکوو) وَلَا تَقۡرَبُواْ او مه نږدي کیږئ ٱلۡفَوَٰحِشَ بي حیا کارونو ته مَا هغه که ظَهَرَ ښکاره وي مِنۡهَا د دې( بي حیا کارونو څخه) وَمَا بَطَنَۖ او هغه که پټ وي(د دې بي حیا کارونو څخه،نه به ورنږدې کیږئ) وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ اوتاسو مه وژنئ نفس(یعني! تاسو څوک مه وژنئ) ٱلَّتِي هغه نفس(یا

هغه څوک) حَرَّمَ ٱللَّهُ چې حرام کړي دي الله تعالی(وژل د هغه تاسو ته) إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ مګر په حقه سره. ذَٰلِكُمۡ دا( حکم چې دی) وَصَّىٰكُم هغه «جل جلاله» تاسو ته کلک حکم درکړۍ دی بِهِۦ په دې سره لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ د دې دپاره چې تاسو عقل په کار واچوئ ﴿١٥١﴾

وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَإِذَا قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾

وَلَا تَقۡرَبُواْ او مه نیزدې کیږئ مَالَ مال ٱلۡيَتِيمِ د يتيم ته إِلَّا بِٱلَّتِي مګر په داسې طريقه سره(ورنزدې کيږئ) هِيَ أَحۡسَنُ چې هغه بهتره(طريقه وي) حَتَّىٰ د هغې پورې يَبۡلُغَ چې هغه(يتيم) ورسيږي أَشُدَّهُۥۚ خپلې ځوانی ته(يعنې ولي يا سرپرست د يتيم په مال کې د شريعت مطابق په نيکه طريقه سره تصرف کولای شي،ليکن څه وخت چې ځلمی شي او د خپلو کارونو د سنبالولو اهل شي،نو مال به يې ورته وسپارې) وَأَوۡفُواْ او پوره کوئ ٱلۡكَيۡلَ پيمانه وَٱلۡمِيزَانَ او تول بِٱلۡقِسۡطِۖ په انصاف سره لَا نُكَلِّفُ مونږ نه مکلف کوو نَفۡسًا هيڅ څوک إِلَّا وُسۡعَهَاۖ مګر د هغه د توان په اندازه(يعنې الله تعالی په بنده باندې د هغه د توان څخه زيات بار نږدي) وَإِذَا او کله چې قُلۡتُمۡ تاسو خبرې کوئ (په کومه معامله کې) فَٱعۡدِلُواْ نو عدالت کوئ(او انصاف کوئ په خبرو کې،يعنې حق خبره کوئ) وَلَوۡ اګر که(معامله ستاسو) كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ د الله او او د الله تعالی عهد پوره خپلوانو(هم) وي وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْ کړئ(يعنې د الله تعالی په اوامرو او نواهيو باندې په کلکه عقيده سره عمل وکړئ) ذَٰلِكُمۡ دا(هغه شيان دي) وَصَّىٰكُم بِهِۦ چې هغه«جل جلاله»

حکم کړئ دی تاسو ته په دې باندې لَعَلَّكُمْ د دې دپاره چې تاسو
تَذَكَّرُونَ پند واخلئ ﴿١٥٢﴾

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ
ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾

الله تعالی فرمایې!

وَأَنَّ او بیشکه چې هَٰذَا دا (قرآن) صِرَٰطِي زما لار ده مُسْتَقِيمًا
مستقیا(او سمه،یعنې دا لار زما بنده سیده ماته رارسوي) فَٱتَّبِعُوهُ ۖ نو(ای
زما بندګانو) پیروي وکړئ د دې(لارې،یعنې د قرآن په لاره روان شئ
سیده به ما ته راورسیږئ او چې ما ته راورسیږئ جنت ته به ورسیږئ)
وَلَا تَتَّبِعُوا۟ او پیروي مه کوئ ٱلسُّبُلَ د نورو لارو (یعنې پرته د قرآن او
اسلام څخه نور د يو مذهب او فرقې پیروي مه کوئ،او که چیرته مو پرته
د اسلام او د قرآن څخه د بل دین،فرقې او کتاب پیروي وکړه) فَتَفَرَّقَ بِكُمْ
نو(نور مذهبونه،کتابونه او فرقې) به جدا کړي تاسو(وا به ړوي تاسو،بیل
به کړي تاسو) عَن سَبِيلِهِۦ ۚ د هغه «جل جلاله» دلارې څخه(یعنې د قرآن
د لارې څخه به بې لارې شئ،او په بله هره لار چې ځئ،نه به ما ته
راورسیږئ او نه جنت ته،بلکې سیده به جهنم ته ځئ.) ذَٰلِكُمْ دا (د الله
تعالی د لارې پیروي کول) وَصَّىٰكُم حکم کړئ دی الله تعالی تاسو ته
بِهِۦ په دې باندې(چې عمل ورباندې وکړئ) لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ د دې دپاره
چې ځان وساتئ (د ګمراهی څخه) ﴿١٥٣﴾

ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِيٓ أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى
وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾

په دې مبارک آیت کې الله تعالی د تورات او موسی علیه السلام صفت کوي،د دې دوه ارتباطه دي،یود مخکې آیاتونو سره چې:دا احکام په نورو ادیانو کې هم راغلې دي، لکه چې په تورات کې هم موجود دي،ابن کثیر رحمت الله علیه وایې چې:کله الله تعالی د قرآنکریم ذکر کوي نو تورات هم ذکر کوي،نو د وروسته آیاتونو سره هم ارتباط لري،ځکه چې په وروسته آیتونو کې د قرآن صفت دی،نو اول ئې د تورات ذکر وکړو ،چې دا ناشنا مه ګنئ چې الله تعالی ځنګه قرآن راولیږلو؟بلکې الله تعالی پخوا هم کتابونه رالیږلي وو،او اوس ئې قرآنکریم راولیږلو.

ثُمَّ بیا ءَاتَيۡنَا ورکړئ و مونږ مُوسَى موسی علیه السلام ته ٱلۡكِتَٰبَ (د تورات) کتاب تَمَامًا دپاره د پوره کولو(د نعمت) عَلَى ٱلَّذِيٓ په هغو خلکو باندې أَحۡسَنَ چې نیکان وو وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ او(په تورات کې وو) دهر شي تفصیل(یعني د ټولو شرعي احکامو بیان په تفصیل سره پکې وو) وَهُدٗى او هدایت(پکې وو) وَرَحۡمَةٗ او رحمت(پکې وو) لَّعَلَّهُم د دې دپاره(چې خلک بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ د خپل رب سره په ملاقات باندې يُؤۡمِنُونَ ایمان راوړي. ﴿١٥٤﴾

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿١٥٥﴾

أَن تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلۡكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ مِن قَبۡلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمۡ لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾

أَوۡ تَقُولُواْ لَوۡ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمۡۚ فَقَدۡ جَآءَكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنۡهَاۗ سَنَجۡزِي ٱلَّذِينَ يَصۡدِفُونَ عَنۡ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يَصۡدِفُونَ ﴿١٥٧﴾

وَهَٰذَا او دا(قرآن) كِتَٰبٌ يو كتاب دى أَنزَلۡنَٰهُ چې مونږ هغه نازل كړئ دى مُبَارَكٞ مبارک دی فَٱتَّبِعُوهُ نو تاسو پیروي وكړئ د هغه وَٱتَّقُواْ او ځان و ساتئ (د قرآن سره د مخلفت ځخه) لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ د دې دپاره چې رحم دربانديې وشي(د الله تعالى ځخه) ﴿١٥٥﴾

(او د دې دپاره،هسې نه) أَن چې تَقُولُوٓاْ تاسو ووايئ(د قيامت په ورځ چې يا الله:) إِنَّمَآ بېشكه چې أُنزِلَ نازل شوئ و ٱلۡكِتَٰبُ كتاب(د هدايت صرف) عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ په دوه ډلو باندېې(د يهودو او نصرانيانو) مِن قَبۡلِنَا زمونږ ځخه مخكې وَإِن كُنَّا او بېشكه مونږه وو عَن دِرَاسَتِهِمۡ د لوستلو د هغوی ځخه لَغَٰفِلِينَ بې خبره ﴿١٥٦﴾

أَوۡ (او هسې نه چې:) يا تَقُولُواْ ووايئ (چې يا الله) لَوۡ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡكِتَٰبُ كه چېرته په مونږ باندېې(هم) كتاب نازل شوئ و(نو) لَكُنَّآ خامخا به مونږ وو أَهۡدَىٰ ډېر ښه لارموندونكې مِنۡهُمۡۚ د هغوی(يعنې يهودو او نصاراوو) ځخه فَقَدۡ نو بېشكه جَآءَكُم راغلئ دی تاسو ته بَيِّنَةٞ روښانه دليل(يعنې قرآنكريم) مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف ځخه وَهُدٗى او هدايت وَرَحۡمَةٞۚ اورحمت فَمَنۡ نو څوک أَظۡلَمُ ډېر غټ ظالم دی مِمَّن د هغه چا ځخه كَذَّبَ چې دروغ ګڼې هغه بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ آياتونه د الله تعالى وَصَدَفَ او مخ اړوي عَنۡهَاۗ د هغوی ځخه(يعنې د قرآن د منلو ځخه مخ واړوي) سَنَجۡزِي زر به جزا وركړو مونږ ٱلَّذِينَ هغو خلكو ته يَصۡدِفُونَ چې هغوی مخ اړوي عَنۡ ءَايَٰتِنَا زمونږ د آيتونو ځخه سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ د بد عذاب بِمَا په دې سبب كَانُواْ يَصۡدِفُونَ چې دوی به مخ اړولو(زمونږ د آياتونو ځخه) ﴿١٥٧﴾

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا لَمۡ تَكُنۡ ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗاۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾

دا چې مشرکان او کافران د الله تعالی د دومره زیاتو واضحه آیاتونو سره بیا هم ایمان نه راوړي نو!

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ آیا دوی پرته د دې څخه نور د څه شي انتظار کوي أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ چې دوی ته فریشتې راشي(یعنې کله چې چې د مرګ فریشتې وګورې نو بیا به ایمان راوړې) أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ یا پخپله ستا رب راشې (یعنې یا چې کله د قیامت په ورځ الله تعالی تشریف راوړي،او دوی يې په سترګو وګورې نو بیا به ایمان راوړي) أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ یا ستا د رب ځینې نشانې راشي (یعنې کله چې لمر د مغرب څخه راوخیژې نو بیا به دوی ایمان راوړي) يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ مګر په کومه ورځ چې ستا د رب څه نشانې راشي(یعنې په کومه ورځ چې لمر د مغرب څخه راوخیژې) لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا نو هیڅ چا ته به د هغه ایمان راوړل فایده ونکړي لَمۡ تَكُنۡ ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ چې د مخکې نه ئې ایمان نه وي راوړئ أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗاۗ یا یې د خپل ایمان(په حالت)کې نیک عمل نه وي کړئ(یعنې کله چې لمر د مغرب څخه راوخیژي،نور نو ایمان راوړل نه قبلیږي پرته د هغو نیکو اعمالو څخه چې د نشانې د لیدلو څخه چا د مخه د ایمان په حالت کې کړي وې،یعنې ایمان راوړل او نیک اعمال کول خو صرف د امتحان په دوران کې چې د غیبو پرده پرته وي قبلیږي،مګر کله چې د غیبو پرده لرې شي،امتحان ختم شي او ټول حقیقت ښکاره شي،نو په هغې وخت کې خو د ټولو څخه

سخت کافر هم ایمان راوړي نو نه د چا ایمان راوړل قبلیږي او نه د چا نیک عمل کول.) قُلِ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم»ورته)ووایه ٱنتَظِرُوٓاْ چې تاسو هم انتظار کوئ إِنَّا مُنتَظِرُونَ مونږ هم انتظار کوو ﴿۱۵۸﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِي شَيۡءٍۚ إِنَّمَآ أَمۡرُهُمۡ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿۱۵۹﴾

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿۱۶۰﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بېشکه هغه(خلک) فَرَّقُواْ چې اختلاف یې وکړو دِينَهُمۡ په دین خپل کې وَكَانُواْ او شو هغوی شِيَعٗا ډلې-ډلې(نبي«صلی الله علیه وسلم فرمایې» چې:اهل کتابو ۷۲ فرقې جوړې کړي وې او ځما امت به ۷۳ فرقې جوړي کړې،چې د ۷۲ ځای به جهنم وي اود یوې ځای به جنت وي،صحابه رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چې یا رسول الله(صلی الله علیه وسلم)! دا جنتیان به څوک وي؟نبې علیه السلام وفرمایل:کوم خلک چې په هغه لار باندې وي په کومه چې زه او زما صحابه دي) لَّسۡتَ (نو)نه یې ته مِنۡهُمۡ د هغوی فِي شَيۡءٍۚ په هیڅ شي کې(یعني ستا مسؤلیت خلکو ته د الله تعالی پیغام رسول دي،نور د هغوی د هیڅ نیک او بد عمل د کولو دپاره ته مسؤل نه یې،او ستا څخه پوښتنه نه کیږي،ته د الله تعالی پیغام رسوه،نور) إِنَّمَآ بېشکه أَمۡرُهُمۡ د دوی معامله إِلَى ٱللَّهِ د الله تعالی سره ده ثُمَّ بیا(چې کله د الله تعالی حضور ته ورشي نو!) يُنَبِّئُهُم هغه«جل جلاله» به خبر کړي دوی بِمَا په هغو(کارونو)باندې كَانُواْ يَفۡعَلُونَ چې دوی به په(دنیا) کې کول(او هر چا ته به د خپل عمل مطابق جزا ورکوي) ﴿۱۵۹﴾

الله تعالی فرمايي!

مَن څوک جَآءَ چې راشي(مونږ ته) بِٱلۡحَسَنَةِ د نيکۍ سره فَلَهُۥ نو ده ته عَشۡرُ لس(چنده ثواب دی) أَمۡثَالِهَاۖ په مثال د هغې(نيکی چې ده راوړې ده) وَمَن او څوک جَآءَ چې راشي (مونږ ته) بِٱلسَّيِّئَةِ د بدی سره فَلَا يُجۡزَىٰٓ نو(زياته) جزا نه ورکول کيږي إِلَّا مگر مِثۡلَهَا په مثال د هغې(بدی يا گناه سره جزا ورکول کيږي چې ده راوړې ده،يعنې مطلب دا چې د يوې نيکی په ځای لس چنده ثواب ورکوي مگر د يوې بدی په ځای صرف د يوې بدی جزا ورکوي لکه د نيکی په شان څو چنده جزا نه ورکوي.) وَهُمۡ او په دوی لَا يُظۡلَمُونَ به ظلم نه کيږي(يعنې نه به چا ته ثواب کم ورکول کيږي او نه به چا ته جزا د هغه د گناه څخه زياته ورکول کيږي) ﴿١٦٠﴾

قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ دِينٗا قِيَمٗا مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٦١﴾

قُلۡ (ای محمد«صلی الله عليه وسلم» مشرکانو او فرقه پرستو ته ووايه) إِنَّنِي بېشکه ما ته هَدَىٰنِي رهنمايي کړې ده رَبِّيٓ رب زما إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ سمې لارې ته دِينٗا قِيَمٗا چې صحې دين دی مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ دين د ابراهيم«عليه السلام»دی حَنِيفٗاۚ چې رېښتينی توحيد پرست و وَمَا كَانَ او نه و هغه «عليه السلام» مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشرکانو څخه. ﴿١٦١﴾

قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾

قُلۡ (ای محمد«صلی الله عليه وسلم» مشرکانو او کافرانو ته) ووايه إِنَّ بېشکه صَلَاتِي لمونځ زما وَنُسُكِي او قرباني(يعنې مالي عبادت) زما وَمَحۡيَايَ او ژوند زما وَمَمَاتِي او مرگ زما لِلَّهِ د الله تعالی دپاره دي

رَبِّ چې پالونکئ ٱلۡعَٰلَمِينَ د ټولو مخلوقاتو دی(یعني خاص د یو الله تعالی عبادت کوم،او د الله تعالی سره هیڅوک او هیڅ شی نه شریکوم) ﴿١٦٢﴾

لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

لَا شَرِيكَ نشته دی(څوک) شریک لَهُۥۖ د هغه«جل جلاله» وَبِذَٰلِكَ او په دې(توحید) باندې أُمِرۡتُ ما ته حکم شوئ دی وَأَنَا۠ او زه أَوَّلُ د ټولو نه اول ٱلۡمُسۡلِمِينَ فرمانبردار یم ﴿١٦٣﴾

قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِي رَبّٗا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيۡءٖۚ وَلَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ إِلَّا عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾

مشرکانو نبي علیه السلام ته دعوت ورکړو چې ته د روغې جوړې دیاره زمونږ سره د بتانو عبادت وکړه،او ګناه او ازار دی زمونږ په غاړه وي.نو الله تعالی فرمایي!

قُلۡ ته (ورته) ووایه أَغَيۡرَ ٱللَّهِ آیا پرته د الله تعالی څخه أَبۡغِي رَبّٗا زه بل رب ولټوم وَ حال دا چې هُوَ رَبُّ هغه جل جلاله رب(پالونکئ) كُلِّ شَيۡءٖۚ د هر شي دی وَلَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ او هیڅ یوڅوک(ګناه) نه کوي إِلَّا مګر(که هر څوک یوه ګناه کوي نو وبال به یې هم) عَلَيۡهَاۚ په هغه باندې وي(یعني هر څوک چې یوه ګناه کوي وبال به یې هم د هغه په غاړه وي،داسې نه ده چې ګناه به یو کوي او وبال به یې د بل په غاړه کیږي،لکه څنګه چې مشرکانو نبي علیه السلام ته ویلي چې ته د بتانو عبادت کوه وبال او ازار یې زمونږ په غاړه.) وَلَا تَزِرُ او (د قیامت په ورځ) نه اُوچتوي وَازِرَةٞ هیڅ اُوچتونکئ وِزۡرَ بار(پیټی) د أُخۡرَىٰۚ

بل چا(یعنې د قیامت په ورځ به هر څوک خپل-خپل پیټی وړې،پردې خو پریږده چې پلار به د ځوی او ځوی به د پلار او مور به د لور او لور به د مور بار هم نه وړي.) ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم بیا به خپل رب ته مَّرۡجِعُكُمۡ ورتلل وي ستاسو(د قیامت په ورځ) فَيُنَبِّئُكُم نو هغه«جل جلاله» به خبر کړي تاسو بِمَا په هغې(حقیقت)باندې كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ (چې په دنیا کې) به تاسو په هغې کې اختلاف کولو(یعنې د قیامت په ورځ به پوه شئ چې کوم دین او کومه ډله حق وه.) ﴿١٦٤﴾

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ ٱلۡأَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمُۢ ﴿١٦٥﴾

وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه ذات دی جَعَلَكُمۡ چې ګرځولي ئې یاستئ تاسو خَلَٰٓئِفَ خلیفګان ٱلۡأَرۡضِ د ځمکې وَرَفَعَ او پورته کړي ئې دي بَعۡضَكُمۡ ځینې د ستاسو فَوۡقَ بَعۡضٖ د ځینو نورو دپاسه دَرَجَٰتٖ په درجو کې(یعنې ټولو ته یې یوه درجه یا مرتبه نه ده ورکړې،بلکې چا ته ئې د پاچاهۍ مرتبه،چا ته د وزیر مرتبه،چا ته د دولتمند،چا ته د غریب،چا ته د قاضي مرتبه او همدارنګه مختلفو خلکو ته ئې مختلفي مرتبې ورکړي دي.) لِّيَبۡلُوَكُمۡ (او دا مختلفي مرتبې یې) د دې دپاره درکړي دي چې امتحان کړي تاسو فِي مَآ په هغو(مرتبو)کې ءَاتَىٰكُمۡۗ چې درکړي ئې دي تاسو ته(یعنې پاچا د پاچاهۍ په درجه یا مرتبه کې امتحانوي،وزیر په وزارت کې امتحانوي،قاضي په قضاء،غریب په غریبۍ،مریض په مریضۍ،صحتمند په صحت،دولت مند په دولت یعنې هر څوک په خپله ورکول شوې درجه یا مرتبه کې امتحانوي،دا د دنیا لوی-لوی سرمایه داران،پاچاهان،د قدرتونو خاوندان، فروفیسران،دا د غټو-غټو القابو والا ډاکتران،انجنران،ساینداناں چې د الله د قانون څخه

خبر نه دي او د قرآن خلاف روان دي،مهمه نه چې نوم يې د مسلمان وي
او كه د كافر خو چې:د قرآن خلاف روان وي،دوي فكر كوې چې ګڼي
مونږ ډېر خوشبخته او د دنيا د ډېرو مترقي او ذهينو انسانانو د جملې
څخه يو،ليكن په حقيقت كې ډېر بد بخته او جاهل انسانان همدا دي،ځكه
دوى  په دې نه پوهيږي چې:د امتحان پرچه مې په لاس كې ده او الله را
څخه امتحان اخلي ،دا خبره هيڅ عذر نه دى چې نه پوهيږم،اې انسانه ته
به په كوم عذر د الله څخه ځان خلاص كړې؟په زرهاوو-زرهاوو كشفيات
يا ډيسكوريز كولاى شي،خو دا دې كشف نكړه چې ته د امتحان په صحنه
كې پرچه په لاس ګرځې،او د امتحان سوالونه حلوې،د مريخ او سپوږمۍ
پورې خو ورسيدې مګر الله تعالى ته ونه رسيدې،په هرشي او هر كار
كې عقل او فكر استعمالوې ليكن د خپل ځان په باره كې نه عقل
استعمالوې او نه فكر.) إِنَّ بيشكه رَبَّكَ ستا رب سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ ډېر زر
عذاب وركوونكۍ دى وَإِنَّهُۥ او بېشكه هغه«جل جلاله» لَغَفُورٞ ډېر
بخښونكۍ رَّحِيمُۢ (او) مهربان دى. ﴿١٦٥﴾

# بسم الله الرحمن الرحيم

# سورة الاعراف

دا مکي سورت دی،پرته د (۱۶۳-۱۷۰) ایت پورې چې مدني دي،۲۰۶ آیتونه او ۲۴ رکوع لرې،په تلاوت کې ۷ او په نزول کې ۳۹ سورت دی،د (ص) د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی

الٓمٓصٓ ﴿۱﴾

كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيۡكَ فَلَا يَكُن فِي صَدۡرِكَ حَرَجٞ مِّنۡهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿۲﴾

كِتَٰبٌ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» د ا قرآن) یو کتاب دی أُنزِلَ چې:نازل شوئ دی إِلَيۡكَ تا ته فَلَا يَكُن نو نه دې وې فِي صَدۡرِكَ ستا په سینه کې(یعني ستا په زړه کې) حَرَجٞ څه تنګوالی(او تشویش) مِّنۡهُ د هغه(یعني د قرآن د تبلیغ کولو او د خلکو د خوانه ستا د تبلیغ د منلو او نه منلو په باره کې مه تشویش کوه او مه زړه تنګوه، د الله تعالی پیغام خلکو ته رسوه.) لِتُنذِرَ د دې دپاره چې وویروې(خلک د الله تعالی د عذاب څخه) بِهِۦ په دې(وحې یعنې قرآن)باندې وَذِكۡرَىٰ او نصیحت دی لِلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو دپاره. ﴿۲﴾

ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

ٱتَّبِعُواْ (اى انسانانو) پيروي كوئ مَآ د هغه(قرآن) أُنزِلَ چې نازل شوئ دى إِلَيۡكُم تاسو ته مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د خوا نه وَلَا تَتَّبِعُواْ او پيروي مه كوئ مِن دُونِهِۦٓ پرته د هغه«جل جلاله» أَوۡلِيَآءَۗ د(نورو) دوستانو(چې شرک او ګناه ته دعوت دركوي) قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ډېر لږ تاسو نصيحت قبلوئ. ﴿٣﴾

وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ﴿٤﴾

وَكَم او څومره(ډېر) مِّن قَرۡيَةٍ د كلو(او ښارونو ) أَهۡلَكۡنَٰهَا هلاک كړي دي مونږ(په سبب د سركشيو او ګناهونو د هغوى،چې:) فَجَآءَهَا راغلئ و په هغوى بَأۡسُنَا عذاب زمونږ(ناڅاپه په داسې حال کې چې اوده و دوى) بَيَٰتًا د شپې أَوۡ يا هُمۡ (په داسې حال کې چې:) هغوى قَآئِلُونَ د غرمې خوب كولو(دا د نوح،هود،صالح،ثمود،لوط اوشعيب عليهم السلام دقومونو او عاموره او سدوم ښارونو ته اشاره ده.بيان القرآن) ﴿٤﴾

فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٥﴾

فَمَا كَانَ نو نه وه دَعۡوَىٰهُمۡ (نوره) غوښتنه (او فرياد) د هغوى إِذۡ په هغه وخت کې كله چې: جَآءَ راغئ هُم هغوى ته بَأۡسُنَآ عذاب زمونږ إِلَّآ پرته د دې(خبرې) څخه أَن چې قَالُوٓاْ ويلې هغوى إِنَّا كُنَّا بېشكه چې وو مونږ ظَٰلِمِينَ ظالمان.(يعني مونږ پخپله په خپلو ځانونو ظلم وكړو چې د پيغمبرانو خبرې مو ونه منلې او د انسې او جنې شيطانانو خبرې مو ومنلې.) ﴿٥﴾

فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٦﴾

لیکن یوازې په هلاکت خبره نه خلاصیږي،ټول امتونه بیرته دوباره راژوندې کیږي،او ټول به د حساب او فیصلې دپاره د حشر میدان ته ورجمع کیږي،فرمایې!

فَلَنَسْـَٔلَنَّ او مونږ به خامخا پوښتنه کوو ٱلَّذِينَ د هغو(امتونو څخه) أُرْسِلَ چې لیږل شوې دي إِلَيْهِمْ هغوی ته(پیغمبران،یعنې الله تعالی به د ټولو امتونو څخه پوښتنه کوې چې: ما تاسو ته د پیغمبرانو په لاس خپل پیغام درلیږلۍ و،آیا تاسو هغه پیغام قبول کړو که نه؟) وَلَنَسْـَٔلَنَّ او مونږ به خامخا پوښتنه کوو ٱلْمُرْسَلِينَ د پیغمبرانو څخه(هم.یعنې د ټولو پیغمبرانو څخه به هم پوښتنه کوې چې:آیا تاسو زما پیغام رسولۍ و او که نه؟) ﴿٦﴾

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍۢ ۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ﴿٧﴾

په مخکې آیت کې ذکر شو چې د امتونو او پیغمبرانو څخه به الله تعالی .پوښتنې وکړي،اوس فرمایې!

فَلَنَقُصَّنَّ بیا به خامخا بیان کړو(حقیقت) عَلَيْهِم هغوی ته بِعِلْمٍۢ (په خپل) علم سره (دا هر څه د الله تعالی په علم کې دي،څه چې شوي دي،او څه چې کیږي ټول الله تعالی ته معلوم دي،نه حفظه فریشتو ته ضرورت لرې نه د چا عملنامو ته او نه د چا شاهدانو او ثبوتونو ته ضرورت لرې،لیکن دا د الله تعالی د حکمت او عدالت تقاضا او سنت دي چې:د خپلو بندګانو سره په دې طریقه سره حساب کوي،او فرمایې چې:ای بندګانو تاسو چې په دنیا کې هر نیک او بد کار کولو) وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ مونږ(خو څه) غایب نه وو.(یعنې تاسو د امتحان په صحنه کې وئ،تاسو

مونږ نه ليدلو،ليکن مونږ ستاسو سره وو،ستاسو هر څه مونږ ليدل او
اوريدل. د الحديد په سورت کې فرمايي: وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا
تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ-ترجمه- الله تعالى ستاسو سره دی، تاسو چې هر چيرته
ياستئ،او تاسو چې هر کار کوئ الله تعالى يې وينې.) ﴿٤﴾ ﴿٧﴾

الله تعالى انسان د امتحان دپاره راليږي،دنيا د امتحان ځای او عمر د
امتحان موده،او قرانکريم د دې امتحان کتاب دی،انسان بايد دا کتاب زده
کړي،او د دې کتاب د لارښودنو او هدايت مطابق بايد سوالونه حل کړي
يعني اعمال وکړي،چې کامياب شي،ليکن که د قرآن په ځای د کفر او
الحاد کتابونه زده کوي،او د هغې مطابق سوالونه حلوې يعني اعمال کوې
نو په دې الهي امتحان کې ناکاميږي،د دواړو ډلو څخه کله چې د امتحان
وخت يې ختم شي پرچې ورڅخه اخستل کيږي،او د مرگ د دروازې
څخه د برزخ انتظارگاه ته بيول کيږي،البته په برزخ کې د دواړو ډلو
حالتونه او د انتظار ځايونه جدا-جدا دي،يعني د دنيا غوندې نه دې چې:
نيک او بد په يو بيلډينگ کې اوسيږي،مثلاً فرعون او د هغه غوندې خلکو
ته به سهار او ماښام عذاب ورکول کيږي،او شهيدانو او د هغوی غوندې
خلکو ته به رزق ورکول کيږي،حديث شريف دی چې قبر يعنې برزخ يا
د جنت د باغچو نه يوه باغچه ده او يا د دوزخ د کندو نه يوه کنده ده،خو
کله چې قيامت شي،بيا نو ټول خلک د حشر ميدان ته د الله تعالى حضور
ته وروستل کيږي،الله تعالى به ټول امتونه مخاطب کړي،او ورته به
وفرمايي! چې: ما تاسو ته د پيغمبرانو په لاس خپل پيغام درليږلئ و،آيا

تاسو هغه پيغام قبول کړو که نه؟آيا تاسو د امتحان سوالونه د قرآن د لاربښودنو په اساس حل کړل او که د الحاد او کفر د کتابو په اساس،او پيغمبرانو ته به وفرمايي! چې:آيا تاسو زما پيغام رسولئ و او که نه؟بيا به وفرمايي چې:ای ځما بندګانو،ستاسو د امتحان په ټوله موده کې زه ستاسو سره وم،خو زما وضع شوو د امتحان د اصولو په اساس زما او ستاسو په منځ کې د غيبو پرده پرته وه چې تاسو زه نه ليدلم، تاسو چې هر څه کول ما ليدلئ،تاسو چې هر څه ويل ما اوريدل،ستاسو ټول اعمال زما په علم کې دي.فکر وکړئ چې د خلکو به څه حال وي؟د اعمالو د خبر ورکولو نه وروسته به الله تعالى ميزان(يعني تله) قائموې.فرمايې!

وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّۚ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨﴾ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَظۡلِمُونَ ﴿٩﴾

وَٱلۡوَزۡنُ او تول(دعملونو) يَوۡمَئِذٍ په دغه ورځ(د قيمت) ٱلۡحَقُّۚ حق دي(پرته د شک او شبهې څخه به د قيامت په ورځ د هرچا نيک او بد عملونه تلل کيږي) فَمَن نو څوک چې ثَقُلَتۡ درنه شي مَوَٰزِينُهُۥ تله(د نيکو)عملونو د هغه فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡمُفۡلِحُونَ کامياب دي(دې ټولو ته به عملنامې په ښي لاسونو کې ورکول کيږي او جنت ته به ځي.) ﴿٨﴾ وَمَنۡ او څوک خَفَّتۡ چې سپکه شي مَوَٰزِينُهُۥ تله (د نيکو) عملونو د هغه فَأُوْلَٰٓئِكَ نو د غه ٱلَّذِينَ هغه خلک دي خَسِرُوٓاْ چې دوی تاوان رسولئ دي أَنفُسَهُم خپلو ځانونو ته(يعني دوی په دنيا کې صرف خپل ځانونه هلاک کړي دي،بل چا ته يې هيڅ ضرر نه دی رسولئ،يعنې دوی که په چا ظلم کولو په حقيقت کې دوی په خپل ځان ظلم کولو،خو دوی نه پوهيدل چې د ا هر څه د خپل ځان سره کوي) بِمَا

په دې سبب كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا چې دوی زمونږ د آياتونو سره يَظۡلِمُونَ ظلم (او بې انصافي)کوله ﴿٩﴾

وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَۗ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿١٠﴾

وَلَقَدۡ او(ای زما بندګانو) بيشکه مَكَّنَّٰكُمۡ مونږ تاسو ته د اوسيدلو ځای درکړئ دی فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې(يعنې ای انسانانو ستاسو څخه د امتحان د اخستلو دپاره چې په کائناتو کې کوم ځای انتخاب شوئ دی هغه د ځمکې سياره ده،د دې څخه معلوميږي چې پرته د ځمکې د سيارې يا پلانټ څخه بل ستورې يا سياره کې انسانان نشته دی ځکه چې:فرمايې) وَجَعَلۡنَا او جوړ کړې دي مونږ لَكُمۡ ستاسو دپاره فِيهَا په ځمکه کې مَعَٰيِشَۗ اسباب د ژوند.(يعنې د ژوند ټول ضرورتونه الله تعالی د انسان دپاره په ځمکه کې جوړ کړې دي،مثلاً انسان د ژوند کولو دپاره رڼا او انرجي ته ضرورت لرې،چې د دې دپاره يې د لمر ستورې په يوه محدوه فاصله او خاص موقعت کې په سپيس يا فضاء کې ځای په ځای کړئ دی.د ورځو،جمعو،مياشتو،او کلونو د حسابولو او نورو ډيره فايدو دپاره چې ذکر کول يې دلته ناممکن دي،سپوږمۍ يې په يو خاص موقيت او فاصله کې په فضاء کې ځای په ځای کړې ده،د زراعت مالدارۍ او نورو ډيرو ضرورتونو دپاره خاوره ضرورت ده نو د ځمکې په مخ يې خاوره پيدا کړې ده،د حيواني او انساني ژوند دپاره د اوکسيجن،کاربن ډای اوکسايد او نايتروجن ضروت دی،د دې دپاره يې د ځمکې په مخ هوا جوړه کړې ده.ژوند خوراک او اوبو ته ضرورت لرې،نو د اوبو بحرونه،بحرې او د وچې حيوانات او قسم-قسم ميوې او غلې او دانې يې پيدا کړې دي.د ژوند کولو دپاره د اوسپنې او مختلفو فلزاتو ضرورت دی،د دې دپاره يې د ځمکې په خيټه کې د ضرورت په اندازه معدنونه

جوړ کړي دي.د ژوند د بقا دپاره ضرور ده چې ځمکه باید د فضاء یا سپیس د منفي ـ۲۷۳ـ درجو یخنی،وژونکو شعاګانو او آسماني تیرو ښخه وساتل شي،چې د دې دپاره الله تعالی د ځمکې ښخه ګردچاپیره محافظوې چت یا اتموسفیر چاپیر کړئ دی.نو باید چې ووایو چې د ځمکې ښخه پرته په بله سیاره کې نه انسان شته او نه ژوند،ځکه چې په بله کومه سیاره کې نه اتموسفیر شته،نه هوا او نه نور د ژوند ضرورتونه،او نه تر اوسه پورې ساینسدانانو داسې سیاره پیدا کړې ده.)

قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ (مګر) تاسو ډیر لږ شکر کوئ. ﴿١٠﴾

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿١١﴾

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسۡجُدَ إِذۡ أَمَرۡتُكَۖ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ﴿١٢﴾ قَالَ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخۡرُجۡ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ﴿١٧﴾ قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُومٗا مَّدۡحُورٗاۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿١٨﴾

د دې دپاره چې د ارتقاء د نظریې پلویان دا آیت د داروینې ارتقاء د تقویه کولو دپاره دلیل نیسې،یعنې دوی وایې چې موجود انسان د یو غیرې انساني او نیم انساني حالت ښخه د تدریجې ارتقاء پواسطه په موجوده

انسان بدل شوئ دی او دې خبرو ته د ساینس نوم ورکوي،حتې چې ځینې علماء هم په شک کې ښکارې،اصلاً دوی د آیت تشریح غلطه کوې،نو ځکه زه غواړم چې د قرآنکریم او ساینس په رڼا کې په دې باره کې په تفصیل سره معلومات ولیکم ان شاءالله . نو د آیت ترجمې او تشریح ته توجه وکړئ.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿الاعراف-۱۱﴾

بیشکه مونږ تاسو پیدا کړئ،بیا مو ستاسو صورتونه جوړ کړل،بیا مونږ ملائیکو ته وویل،آدم ته سجده وکړئ،نو هغوی سجده وکړه پرته د ابلیس څخه،نه شو هغه د سجده کوونکو نه.

یعنې انسان د تخلیق یا پیدایښت په اول کې داسې یو ژوندې موجود وې چې نه شکل لرې او نه صورت،د انسان دې لومړنې بې شکله او بې صورته وجود ته نطفة امشاجٍ یا زایګوټ وایې،نطفة امشاج یا زایګوټ داسې حجره (یا سیل) ده چې ډبل یعنې غبرګ ډي این ای لرې،ډی این ای داسې چپس دی په کوم کې چې الله تعالی د مرګ د وخت پورې د انسان مکمله نقشه او پروګرام درج کړئ دی،چې د ډي این ای د پروګرام او فرمانونو په اساس نطفة امشاج یا زایګوټ تکثر
کوي،غټیږي،غوښې،هډوکې،اعضاء،رنګ،صورت او شکل او بلآخره مکمل انسان جوړوي.

اوس راځو دی ته چې: نطفةامشاج یا زایګوټ څنګه جوړیږي؟اول-- په عامو انسانانو کې یعنې د آدم علیه السلام په اولاد کې څنګه جوړیږي؟.قرآن فرمایې:

فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ(الحج)بېشکه مونږ تاسو د خاورې نه پيدا کړي يئ،بيا د نطفې نه.

يعني د خاورې زرات يا اتومونه او ماليکلونه د خوراکي موادو لکه غوښه، ترکارې،ميوو او دانو پواسطه د مور او پلار وجودونو ته داخليږي او د مور او پلار په وجودونو کې ترې نارينه او ښځينه نطفې جوړيږي

بيا د مور او پلار د نطفو يعنې سپرم او اوم يا هګۍ د يوځای کيدلو څخه نطفة امشاج يا زايګوټ يعنې د انسان تخم جوړيږي کوم چې درحم په ديوال کې کرل کيږي. ( إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ(الانسان ٢)
بېشکه مونږ انسان د مخلوطې(يعنې ګډې)نطفې څخه پيدا کړئ دی.) بايد پوه شو چې يو مفرد يا سينګل ډي اين ای د پلار په نطفه کې وي او يو مفرد يا سينګل ډي اين ای د مور په نطفه کې وي،نو کله چې دواړه نطفې سره د مور په خيټه(رحم) کې يوځای شي نو په نطفة امشاج يا زايګوټ کې غبرګ يا ډبل ډي اين ای جوړيږي.

دوهم- د آدم عليه السلام نطفة امشاج يا زايګوټ يا تخم څنګه جوړ شو؟
الله تعالی فرمايي:

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾«العمران» الله تعالی آدم عليه السلام د خاورو څخه جوړ کړو،بيا ئې ورته وفرمايل چې شه نو هغه شو.

يعنې پرته د مور او پلار د نطفو د يوځای کولو څخه د آدم عليه السلام ډبل يا غبرګ ډي اين ای او لومړنی انساني حجره يا زايګوټ يا تخم د خاورو څخه مستقيماً د الله تعالی د کن د لفظ څخه جوړ شو،يا په بل عبارت

د آدم علیه السلام بي شکله او بي صورته ژوندی وجود د الله تعالی د کن د لفظ  نه جوړ شو.پوهيږو چي قرآنکريم د ساينس کتاب نه دی چې په ساينسي ژبه خبرې وکړي،بلکې قرآنکريم د عامو انسانانو د پوهيدلو دپاره د خلکو په ژبه خبرې کوي،پوهيږو چې د خاورې او اوبو د يوځای کولو څخه ختټه جوړيږي،چون د زايګوټ يا تخم يا نطفة امشاج محتويات هم د خاورې اجزا او اوبه دي، لهذا د ادم علیه السلام د زايګوټ يا نطفة امشاج محتويات هم خاوره او اوبه وو،او د اولادې يې هم خاورې او اوبه دي،نو ځکه قرآن ورته د ختټې نوم استعمال کړئ دی فرمايي: وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ(او الله تعالی د انسان پيدا کيدل د ختټې نه شروع کړي دي ﴿٧﴾السجده

لکه مخکې چې ذکر شو ۳۰ ساعته وروسته په زايګوټ کې د ډبل ډې اين ای د هدايت او حکم مطابق نومړی زايګوټ د غيري زوجي تکثر پواسطه په دوه برخو ويشل کيږي يعنې د يوې حجرې څخه دوه حجرې جوړيږي،د دوو څخه څلور او د څلورو څخه اته حجرې جوړيږي،مګر مهمه دا ده چې د حجرو تعداد يا غلظت زياتيږي مګر  حجم يا سايز يې څه خاص تغير نه کوي،نو کله چې په ختټه څو ورځې تيرې شي او څه تينګه هم شي نو يو قسم سليښناکه شي،يعنې مطلب دا چې د نوې جوړ شوې زايګوټ محتويات يا ختټه نرۍ او تازه وې خو چې يو څو ورځې پرې تيرې شي نو د حجرو او غلظت د زياتوالي په سبب يې محتويات سريښناک او تينګ شي،قرآن د زايګوټ يا تخم يا نطفة امشاج دې حالت ته طين لازب وايي. فرمايي: إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ﴿١١﴾الصافات-او دوی مونږ د سريښناکې ختټې څخه پيدا کړې دي(يعنې د انسان لومړنی بې شکله او بې صورته وجود د طين يا نرۍ او تازه ختټې څخه په سريښناکه او تينګه ختټه يعنې طين لازب بدليږي) .نور هم تکثر جريان لرې ورځ په

ورځ حجرات او غلظت زیاتیږي،پوهیږو چې وخت لږ ډېر تیر شي نو خټه یو خاص بوی پیداکوي،نو د زایګوت محتویات هم د وخت په تیریدلو سره یو خاص قسم بوی پیدا کوي،او که فکر مو کړی وي،اکثره د زړو بویناکو ختو دپاسه یو ډول کلک پترې یا ګودړې جوړیږي(د منګې ماتې شوو ټوټو ته کودړې وایې).زایګوټ هم چې د بال غوندې شکل لرې، د حجرو تعداد یې زیاتیږي،نو د مرکز څخه حجرات د محیط خواته هجرت کوي،یعني لکه د بال غوندې مرکزې برخه یې تشه او خالي پاتې شي او حجرات د زایګوټ محیطي یا خارجې کلک قشر یا دیوال جوړوي،البته د دیوال دننه جنین (یا امبریو) یعني د جوړیدونکې انسان ابتدایې بې شکله او بې صورته وجود شتون لرې،باید ذکر شي چې د زایګوټ دا حالت د انسان یو پوخ تخم دی چې: کرلو ته بالکل اماده دی، د زایګوټ دا حالت د چارمغز یا بادام یا ام په زړو یعني تخمونو کې بنه کتلاى شئ،دا هر زړی یو زایګوټ یا تخم دی،محیطې قشرونه

یا دیوالونه یې کلک او د هر یو په منځ کې امبریو یا جنین شتون لرې،نو د زایګوټ یا انساني تخم دې حالت ته قرآنکریم داسې اشاره کوي.

فرمایې: وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾الحجر-بېشکه مونږ انسان د بویناکې ختې د وچ کودړې څخه پیدا کړئ دی.

د دې ځاى پورې پوه شو چې د آدم علیه السلام زایګوټ یا تخم مسقیماً د خاورې څخه د الله تعالی د کن د لفظ پواسطه پیدا شوئ و،او د عامو انسانانو زایګوټونه د مور او پلار د نطفو یعني سپرم او اوم پواسطه جوړیږي.

اوس راځو دې ته کله چې د آدم علیه السلام تخم جوړ شو «یعني هغه ابتدایې نرم زایګوټ چې د الله تعالی د کن د لفظ نه پیداشوئ و،د ډې این

ای د پروګرام مطابق يې په تکثر شروع وکړه،حجرات يې زيات شو،نرم ديوالونه يا قشر يا پوستکی يې کلک شو او بلآخره يو پوخ تخم يا د کرلو وړ زايګوټ تري جوړ شو، ،نو لکه څنګه چې د غنمو تخم د جوارو تخم اود ام تخم يعني د ام زړی په ځمکه کې کرل کيږي او د ځمکې څخه تغذيه کوی،راشين کيږي او لوی بوټې او ونې تري جوړيږی،همدا رنګه د ادم عليه السلام دپاره هم دا کومه د تعجب خبره نه ده،چې د هغه عليه السلام تخم(يعني زايګوټ) هم د ځمکي څخه لکه د نورو تخمونو په شان تغذيه وکړه او راشين شو ،ځکه چې الله تعالی دا دومره بې حسابه تخمونه په ځمکه کې راشنه کوي او د ځمکې د خاورې څخه غذا ورکوي،نو که د آدم عليه السلام تخم ته يې هم مسقيماً د ځمکې د خاورې څخه غذا ورکړه نو دا کومه د حيرانی خبره ده؟الله تعالی فرمايي: وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا ﴿نوح-۱۷﴾او الله تعالی رازرغون کړي يئ تاسو د ځمکې نه په رازرغونولو سره.

حقيقت دا دی،که د آدم عليه السلام تخم يعني زايګوټ د ځمکې يا خاورې څخه تغذيه کړي وه يعني په ځمکه يا خاوره کې کرل شوئ و،خو زمونږ تخمونه هم په خاوره کې کرل کيږي،ځکه چې زمونږ تخمونه(يعني زايګوټونه)خو هم د مورګانو د رحمونو په ديوالونو کې کرل کيږي،او رحمونه هم د خاورې د اجزاوو څخه جوړ شوي دي، الله تعالی فرمايي: نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ(البقره-۲۲۳) -ستاسو ښځې ستاسو پټې دي.

نو کله چې د انسان تخم يا زايګوټ يا د انسان بې شکله او بې صورته وجود د رحم په ديوال کې وکرل شي(ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ(بيا مونږ هغه نطفه(زايګوټ يعني تخم) جوړ کړو او په يو محفوظ ځای کې مو کيښودلو(يعني د مور د رحم په ديوال کې مونږ وکرلو) ﴿المؤمنين-

۱۳﴾،بالکل لکه د نبات په شان راشين کيږي( وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ
نَبَاتٗا(الله تعالی تاسو د ځمکي څخه رازرغونوي په زرغونولو سره)
﴿۱۷نوح﴾ ،اول تيغ چي وهي هغه ته علقه وايي ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ
﴿المؤمنون-۱٤﴾ چي د ژوري د چينجي يا د ويني د برغند په شان
ښکاريږي،بيا علقه چي لږ غټه شي د غوښي په يوه ټوټه بدله شي( فَخَلَقۡنَا
ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ(المؤمنون-۱۴)(بيا مونږ د علقي څخه د غوښي يوه پوټی
جوړ کړو) فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا(المؤمنون-۱۴) بيا مونږ د غوښو د پوټي
نه هډوکي جوړ کړل فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا(المؤمنون-۱۴) بيا مونږ هډوکو
ته غوښه ورواغوستله ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ(المؤمنون-۱۴) بيا مو هغه يو
بل مخلوق جوړ کړو(يعني د انسان شکل او صورت يي ورته جوړ
کړو،او د خپل روح نه يي په کي پوه کړو،او په دي ترتيب الله تعالی د يو
بي شکله او بي صورته زايګوت يا تخم يا نطفة امشاج څخه يو خوب
صورت او اشرف المخلوقات انسان جوړوي،( ليکن د ارتقا پيروان په
ايت کي د تخليق او صورت د جوړولو ترمنځ وقفي څخه غلطه فايده اخلي
او د آيت تشريح داسي کوي چي: انسان يو مستقل موجود نه دی،يعني
انسان د اول څخه انسان نه دی پيدا شوئ،بلکي د پخوانيو انسانما حيواني
نسلونو د تدريجي ارتقا څخه منځ ته راغلئ دی،يعني د حيواني نسل يو
مترقي شکل دی،خو ډيره د افسوس خبره ده چي ځيني علماء هم اوس د
دي نظر ښکار شوي دي) بايد ذکر شي چي د عامو انسانانو د هر انسان
زايګوټ يا نطفة امشاج يا تخم يا د هغه د بي صورته وجود څخه يو
خوبصورت او اشرف المخلوقات انسان د مور په خيټه(رحم) کي
جوړيږي،ليکن د آدم عليه السلام د زايګوټ يا نطفة امشاج يا تخم يا د هغه
عليه السلام د بي صورته وجود څخه خوب صورته آدم عليه السلام او
اشرف المخلوقات انسان د ځمکي په ګيډه کي جوړ شو.او کله چي الله

تعالی په کې د خپل روح نه پوه کړو،نو ملائیکو ورته سجده وکړه پرته د ابلیس څخه.

په نتیجه کې وایو چې: انسان په اول کې مکمل انسان الله تعالی پیدا کړئ دی چې: د عقل او علم خاوند و،بلکې د الله تعالی پیغمبر هم و. همدا رنګه باید ووایوو چې ټول ژوندي موجودات هر نسل او نوع بیل-بیل څنګه چې اوس دي د اول څخه په همدې ډول پیدا شوي دي،یعنې آس د اول څخه آس پیدا شوئ دی،اوښ د اول څخه اوښ،د منې ونه د اول څخه د منې ونه،فیل د اول څخه فیل پیدا شوئ دی......او داسې نور یا په بل عبارت:الله تعالی په اول کې د ټولو ژوندیو موجوداتو د هر نسل او نوعې بیل او جدا ډي این ای او زایګوټ یا تخم جوړ کړئ دی،یعنې اول د ټولو نوعو تخمونه جوړ شوي دي،او د اول ځل دپاره ټول د ځمکې په خیټه کې کرل شوي او راشنه شوي دي،او وروسته یې نسلونه د زوجې او غیرې زوجې تکثر پواسطه مخې ته تللې دي،او هیڅ کله داسې نه دي شوې چې د یو ژوندي موجود څخه بل ژوندی موجود جوړ شوئ وي،دا په دې معنی چې د یو شی ډي این ای د بل شی په ډي این ای نه پخوا بدل شوئ دی او نه اوس بدلیدلای شي ځکه چې د ساینس او ریاضي په حساب د دې چانس صفر دی یعنې داسې کیدل ناممکن دي.

قَالَ الله تعالی وفرمایل(ابلیس ته) مَا څه شي مَنَعَكَ منع کړي ته أَلَّا تَسْجُدَ چې سجده دې ونکړه(آدم علیه السلام ته) إِذْ کله چې أَمَرْتُكَۖ ما امر وکړو تا ته قَالَ (شیطان)وویلې (الله تعالی ته) أَنَا خَيْرٌ چې زه بهتر یم مِّنْهُ د هغه علیه السلام څخه خَلَقْتَنِي (ځکه چې) زه دې پیدا کړئ یم مِن نَّارٍ د اور څخه وَخَلَقْتَهُ او هغه علیه السلام دې پیدا کړئ دی مِن طِينٍ د ختې څخه. ﴿١٢﴾

قَالَ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخۡرُجۡ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾

قَالَ ( الله تعالى ابليس ته) وفرمايل فَٱهۡبِطۡ بيا(نو) كوز شه مِنۡهَا د دې(ځای) نه (يعني د جنت يا آسمان نه) فَمَا يَكُونُ لَكَ او تا ته دا حق نشته أَن تَتَكَبَّرَ چې تكبر وكړي فِيهَا په دې(ځای)كې (يعني جنت يا آسمان كې) فَٱخۡرُجۡ نو وځه إِنَّكَ بېشكه ته مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ د ذليلو څخه يې ﴿١٣﴾

قَالَ (ابليس الله تعالى ته) وويل أَنظِرۡنِيٓ مهلت راكړه ما ته(د مرګ نه يعني مه مې مړ كوه) إِلَىٰ يَوۡمِ د هغې ورځې پورې يُبۡعَثُونَ چې خلک بيا راژوندې كيږي ﴿١٤﴾ قَالَ هغه«جل جلاله»وفرمايل (ابليس ته) إِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ بېشكه تا ته مهلت دركول شو. ﴿١٥﴾ قَالَ (ابليس) وويل «الله تعالى » ته فَبِمَآ په سبب د دې أَغۡوَيۡتَنِي چې تا ګمراه كړم زه لَأَقۡعُدَنَّ خامخا به كينمه زه لَهُمۡ هغوی(يعني د آدم عليه السلام اولاد) ته صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ستا په سمه لار كې ﴿١٦﴾ ثُمَّ بيا به لَأٓتِيَنَّهُم خامخا راځم هغوی ته مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ د هغوی د مخې(د خوا) نه وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ او د هغوی د شاه (د خوا) نه وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ او د هغوی د ښي(طرف)څخه وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ او د هغوی د چپ (طرف) څخه وَلَا تَجِدُ او پيدا به نكړې ته أَكۡثَرَهُمۡ اكثره د هغوی(يعني د آدم عليه السلام اولاد) شَٰكِرِينَ شكر كوونكي (ستا) ﴿١٧﴾

قَالَ هغه«جل جلاله» (ابليس ته)وفرمايل: ٱخۡرُجۡ وځه مِنۡهَا د دې(ځای) نه(يعني وځه د جنت نه) مَذۡءُومٗا ذليل مَّدۡحُورٗاۖ رټل شوئ لَّمَن يقيناً څوک تَبِعَكَ چې پيروي وكړي ستا(چې تابعداري وكړي ستا)

مِنۡهُمۡ د هغوی نه(يعنې د آدم عليه السلام د اولادې څخه) لَأَمۡلَأَنَّ خامخا به زه ډک کړم جَهَنَّمَ جهنم مِنكُمۡ د ستاسو أَجۡمَعِينَ ټولو نه. ﴿١٨﴾

باید واضح شي چې الله تعالی شیطان ته صرف انسانانو ته د وسوسې اچولو اختیار ورکړئ دی یعنې چې د دروغو امیدونه ورته پیدا کړي،بدي او ګمراهي ورته ښایسته ښکاره کړي،او غلطو لارو ته دعوت ورکړي،لیکن دا شرط ئې ورته ایښئ دی چې! إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ (سورةالحجر:)یعنې زما په بندګانو باندې تا ته هیڅ قدرت او زور نشته چې په زوره څوک د لاسه ونیسې او په بده لار یې روان کړي،او یا څوک نیک کار کوي او شیطان یې لاس ونسیې چې مه کوه،یعنې جنیات یا شیطانان انسان ته صرف وسوسه اچولئ شي لیکن په فزیکي ډول نه انسان ته فایده رسولئ شي او نه ضرر.لکه چې په سورةابراهیم ٢٢ آیت کې الله تعالی فرمایي: چې د قیامت په ورځ به شیطان خپلو پیروانو انسانانو ته وایې چې: وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ یعنې زما خو په تاسو باندې هیڅ کوم زور نه و (چې ما تاسو مجبور کړي وئ چې زما پیروي او تابعداري وکړئ)،ما خو د دې څخه پرته نور هیڅ نه دي کړې چې تاسو ته مې خپلې لارې ته دعوت درکړئ و،او تاسو زما دعوت قبول کړئ و،لهذا اوس ما مه ملامتوئ،بلکې خپل ځانونه ملامت کړئ.

وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾ فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلَّىٰهُمَا

بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن
وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ
ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٢٢﴾ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا
وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ
فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ
وَمِنۡهَا تُخۡرَجُونَ ﴿٢٥﴾

وَ يَٰٓـَٔادَمُ او (الله تعالی وفرمایل:) ای آدم «علیه السلام» ٱسۡكُنۡ اوسيږه أَنتَ ته وَزَوۡجُكَ او ستا ښځه(حوا بي بي) ٱلۡجَنَّةَ په جنت کې فَكُلَا او خوراک کوئ تاسو مِنۡ حَيۡثُ د کوم ځای څخه شِئۡتُمَا چې تاسو غواړئ(په جنت کې) وَلَا تَقۡرَبَا خو مه نيږدې کيږئ هَٰذِهِ دغې ٱلشَّجَرَةَ ونې ته فَتَكُونَا (او که ورنيږدې شوئ) نو شئ به مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو څخه ﴿١٩﴾ فَوَسۡوَسَ نو وسوسه ورواچوله لَهُمَا هغوی دواړو ته ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان لِيُبۡدِيَ د دې دپاره چې ښکاره کړې لَهُمَا دوی دواړو ته مَا هغه څه وُۥرِيَ چې پټ وو عَنۡهُمَا د هغوی څخه مِن سَوۡءَٰتِهِمَا د هغوی د شرم ځايونه (د دې ونې د څَکلو او د هغې د تاثير په باره کې قرآن فرمايي!چې کله دوی دا ونه وڅَکله نو د هغوی د شرم ځايونه ښکاره شو،ليکن د دې کيفيت د حقيقت په باره کې زمونږ سره کوم حتمي او قطعي علمي معلومات نشته دی،په دې سبب په متشابهاتو کې حسابيږي،البته په دې باره کې مفسرينو قياس اراېي او نظرونه ورکړي دي،مثلاً ځيني وايي چې مخکې دوی ته د دې خاصو اعضاوو په باره کې شعور نه وو،خو کله يې چې دا ونه وڅَکله نو شعور يې بيدار شو،ځيني وايي چې مخکې د جنت لباس ورکول شوئ وو خو د دې واقعې نه وروسته د جنت لباس ورڅخه ووتو،ځيني وا يي چې دا د خير او شر ونه وه چې د څَکلو څخه يې وروسته په دوی کې د خير او شر تميز پيدا

شو،او ځينې بيا وايې چې په اصل کې دا د ادم او حوا عليهماالسلام لومړنى جنسي نيزديکت و،او نور،دا نو مختلف نظريات دي،مګر صحيح خبره دا ده چې: دا د متشابهاتو څخه ده،او پرته د قطعې او صحي علمي معلوات څخه په دې باره کې بايد کوم حقيقې او قطعې نظر ورنه کول شي چې: هغه څه ډول ونه وه او د څکلو اصلي حقيقت او کيفيت څه و؟ بيان القرآن)

وَقَالَ او هغه يعنې شيطان وويل مَا نَهَىٰكُمَا نه يئ منع کړي تاسو رَبُّكُمَا رب ستاسو عَنْ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ د دې ونې څخه إِلَّآ مګر(د دې دپاره يې منع کړې يئ،که چېرته دې ونې ته ورنيزدې شئ او مزه يې وڅکئ ) أَن تَكُونَا چې شئ به تاسو مَلَكَيْنِ پريښتې أَوْ تَكُونَا يا به شئ تاسو مِنَ ٱلْخَٰلِدِينَ د تل پاتې کيدوونکو څخه (په جنت کې). ﴿٢٠﴾

وَقَاسَمَهُمَآ او هغه(يعنې شيطان) قسم وخوړو هغوى دواړو ته(او ورته يې وويلې چې) إِنِّي بېشکه زه لَكُمَا تاسو دواړو ته لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ د نصيحت کوونکو نه يم(يعنې زه ستاسو دوست يم او د دوستئ نصيحت درته کوم)﴿٢١﴾

فَدَلَّىٰهُمَا نو هغه(يعنې شيطان) مايل کړل هغوى دواړه(يعنې ويې هڅول بِغُرُورٍ په دوکې سره(د هغې ونې نيزدې کيدلو او څکلو ته) فَلَمَّا نو کله چې ذَاقَا هغوى(يعنې آدم او حوا عليهماالسلام) وڅکله ٱلشَّجَرَةَ (هغه) ونه بَدَتْ (نو) ښکاره شو لَهُمَا هغوى دواړو ته سَوْءَٰتُهُمَا د هغوى د شرم ځايونه وَطَفِقَا او دواړه شروع شو يَخْصِفَانِ چې نښلولې به يې عَلَيْهِمَا په خپلو ځانونو باندې مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ د جنت پاڼې(يعنې د جنت په پاڼو باندې يې خپل عورتونه پټول) وَنَادَىٰهُمَا او اواز وکړو هغوى ته رَبُّهُمَآ رب د هغوى أَلَمْ أَنْهَكُمَا آيا ما نه وئ منع کړي تاسو عَن تِلْكُمَا ٱلشَّجَرَةِ د هغې ونې څخه وَأَقُل او آيا(ما نه و) ويلې لَّكُمَآ تاسو ته إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ چې بېشکه شيطان لَكُمَا ستاسو دپاره عَدُوٌّ دښمن

دی مُّبِينٌ ښکاره . ﴿٢٢﴾ قَالَا هغوی(يعني آدم او حوا عليهماالسلام)
وويلي رَبَّنَا ای زمونږ ربه ظَلَمۡنَآ مونږ ظلم وكړو أَنفُسَنَا په خپلو
ځانونو وَإِن او كه چيرته لَّمۡ تَغۡفِرۡ ته ېخښنه ونكړې لَنَا مونږ ته
وَتَرۡحَمۡنَا او رحم ونكړې په مونږ لَنَكُونَنَّ (نو) خامخا به شو مونږ
مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ د تاوانيانو څخه. ﴿٢٣﴾ قَالَ هغه«جل جلاله» و فرمايل
ٱهۡبِطُواْ كوز شئ(د جنت نه) بَعۡضُكُمۡ بعضې ستاسو به لِبَعۡضٍ د
بعضو(نورو) دپاره عَدُوّٞ دښمنان وي وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ او ستاسو دپاره
په ځمكه كې مُسۡتَقَرّٞ ځای د اوسيدلو دی وَمَتَٰعٌ او فايده اخستل دي
إِلَىٰ حِينٖ د يو وخت پورې(يعني د مرګ پورې) ﴿٢٤﴾ قَالَ الله تعالی
وفرمايل! فِيهَا په همدې ځمكه كې تَحۡيَوۡنَ به تاسو ژوند كوئ وَفِيهَا
او په همدې ځمكه كې تَمُوتُونَ به تاسو مړه كيږئ وَمِنۡهَا او د همدې
ځمكې څخه به تُخۡرَجُونَ تاسو راويستل كيږئ. ﴿٢٥﴾

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ
خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾

يَٰبَنِيٓ اى اولاد ءَادَمَ د آدم(عليه السلام) قَدۡ يقيناً أَنزَلۡنَا دركړئ دی
مونږ عَلَيۡكُمۡ تاسو ته لِبَاسٗا لباس يُوَٰرِي چې پټوي سَوۡءَٰتِكُمۡ عورتونه
ستاسو وَرِيشٗاۖ او زيب او زينت(هم دی تاسو ته) وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ او
لباس د تقوا ذَٰلِكَ دغه (لباس د تقوا ) خَيۡرٞۚ ډېر بهتر دی ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ
ٱللَّهِ دا د الله تعالی د آيتونو څخه دی لَعَلَّهُمۡ د دې دپاره چې دوی
يَذَّكَّرُونَ نصيحت حاصل كړي ﴿٢٦﴾

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا
لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا
ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٧﴾

يَٰبَنِيٓ اى اولادې ءَادَمَ د آدم «عليه السلام» لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ (پام كوئ) چې فريب درنكړې ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان كَمَآ لكه څنګه چې ئې( په فريب سره) أَخۡرَجَ وويستل أَبَوَيۡكُم مور او پلار ستاسو مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ د جنت څخه يَنزِعُ ويې ويستل عَنۡهُمَا د هغوى څخه لِبَاسَهُمَا لباس د هغوى لِيُرِيَهُمَا د دې دپاره چې وښيې هغوى ته سَوۡءَٰتِهِمَآۚ عورتونه(يعني د شرم ځايونه) د هغوى إِنَّهُۥ بېشكه هغه(يعني شيطان) يَرَىٰكُمۡ ګورې تاسو هُوَ هغه(پخپله) وَقَبِيلُهُۥ او (ګورې تاسو) قبيله دهغه(يعني ملګرې يا لښكر د هغه) مِنۡ حَيۡثُ د داسې ځاى څخه لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ چې تاسو هغوى نشئ ليدلاى إِنَّا بېشكه مونږ جَعَلۡنَا ګرځولې دي ٱلشَّيَٰطِينَ شيطانان أَوۡلِيَآءَ دوستان لِلَّذِينَ هغو خلكو ته لَا يُؤۡمِنُونَ چې ايمان نه راوړي. ﴿٢٧﴾

وَإِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةٗ قَالُواْ وَجَدۡنَا عَلَيۡهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَاۗ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٢٨﴾

وَإِذَا او كله چې فَعَلُواْ كوې دوى فَٰحِشَةٗ يو د بې حيايئ كار (لكه چې مشركانو، ښځو او نرو به لوڅ طواف د بيت الله څخه كولو،نو) قَالُواْ دوى وايې وَجَدۡنَا چې ليدلې دي مونږ عَلَيۡهَآ په دې(د بې حيايئ په كار)باندې ءَابَآءَنَا پلرونه خپل(چې هغوى به دا كار كولو) وَٱللَّهُ او (وايې چې) الله تعالى أَمَرَنَا حكم كړئ دى مونږ ته بِهَاۗ په دې(بې حيا كارونو) باندې قُلۡ (اى محمد«صلى الله عليه وسلم» دوى ته) ووايه إِنَّ ٱللَّهَ بېشكه الله تعالى لَا يَأۡمُرُ حكم نه كوې بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ په فحشاء(يعني بې حيا كارونو) باندې أَتَقُولُونَ آيا وايئ تاسو عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى باندې مَا هغه څه لَا تَعۡلَمُونَ چې تاسو پرې نه پوهيږئ (يعني د الله تعالى پورې داسې دروغ تړئ چې خبر ترې نه هم نه يئ. ﴿٢٨﴾

قُلۡ أَمَرَ رَبِّي بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۚ كَمَا بَدَأَكُمۡ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾

قُلۡ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» ورته) ووايه أَمَرَ چې حکم کړئ دی رَبِّي رب زما بِٱلۡقِسۡطِۖ په انصاف کولو سره وَأَقِيمُواْ او (حکم ئې کړئ دی) چې سیده کړئ وُجُوهَكُمۡ مخونه خپل عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ په هر لمونځ کې (بیت الله ته) وَٱدۡعُوهُ او دعا غواړئ د هغه«جل جلاله» نه مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۚ او خاص د هغه«جل جلاله» عبادت کوئ ( د شرک او بدعت نه پاک) كَمَا بَدَأَكُمۡ لکه ځنګه چې هغه«جل جلاله»اول تاسو پیدا کړې یاستئ (همدارنګه) تَعُودُونَ به تاسو بیا پیدا شئ (القرطبي) ﴿٢٩﴾

فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُۚ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٣٠﴾

فَرِيقًا یوې ډلې ته هَدَىٰ هغه «جل جلاله» هدایت وکړو وَفَرِيقًا او یوه ډله حَقَّ چې ثابته شوي ده عَلَيۡهِمُ په دوی باندې ٱلضَّلَٰلَةُۚ ګمراهي (یعني د ګمراهی مستحق شو) إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ بېشکه نیولې وو دوی ٱلشَّيَٰطِينَ شیطانان أَوۡلِيَآءَ دوستان(یعني د شیطانانو اطاعت یې کولو) مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه(یعني د الله تعالی خبره یې نه منله او د انسي او جني شیطانانو خبره یې منله) وَيَحۡسَبُونَ او دوی ګمان کولو أَنَّهُم چې(ګني) بیشکه دوی مُّهۡتَدُونَ په سمه لار دي. ﴿٣٠﴾

۞ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾

۞ يَٰبَنِيٓ ای اولاد ءَادَمَ د آدم«عليه السلام» خُذُواْ واخلئ(واغوندئ) زِينَتَكُمۡ (لباس د) زینت خپل عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ د هر لمونځ په وخت کې(یعني د الله تعالی حضور ته په ښایسته او پاک لباس کې ودرېږئ) وَكُلُواْ او خورئ وَٱشۡرَبُواْ او څکئ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ او اسراف مه کوئ(یعني مه بالکل دنیا پرېږدئ،او مه د ضرورت څخه زیات مصرف کوئ) إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلۡمُسۡرِفِينَ اسراف کوونکي. ﴿۳۱﴾

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿۳۲﴾

قُلۡ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» ورته) ووایه مَنۡ حَرَّمَ چا حرام کړې دی زِينَةَ ٱللَّهِ زینت د الله تعالی ٱلَّتِيٓ هغه زینت أَخۡرَجَ چې راویستلئ دی الله تعالی لِعِبَادِهِۦ د خپلو بندګانو دپاره(مثلاً مشرکانو به لوڅ طواف کولو،اوس هم په ځینو ځایونو کې داسې خلک شته دی چې لباس نه اغوندي او ثواب یې ګڼي،او اکثره عام خلک هم پرې د ښه شخص ګمان کوي.) وَ او(چا حرام کړي دي) ٱلطَّيِّبَٰتِ پاک شیان مِنَ ٱلرِّزۡقِ د رزق (مثلاً د حج په دوران کې به ځینو مشرکانو په ځان وازدې او غوښې خوړل حرام کړي وو،او ځینو به د مېږو شیده په ځانونو حرام کړي و،اوس هم ډېر خلک شته دی چې حلالې غوښې یې په ځانونو حرامې کړي دي) قُلۡ (ورته) ووایه هِيَ چې دا(نعمتونه الله تعالی پیدا کړي دي) لِلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا په دنیایي ژوند کې(یعني دا نعمتونه په حقیقت کې د مؤمنانو دپاره پیدا شوي دي،او د مؤمنانو په طفیل سره په دنیا کې کافرانو

ته هم ورکول کيږي.ليکن) خَالِصَةً خاص(يوازې مؤمنانو ته ورکول کيږي) يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ د قيامت په ورځ كَذَٰلِكَ همدارنګه نُفَصِّلُ په تفصيل سره بيانوو مونږ ٱلۡأٓيَٰتِ دلايل لِقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يَعۡلَمُونَ چې پوهيږي. ﴿٣٢﴾

قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٣﴾

قُلۡ (ورته) ووايه إِنَّمَا بيشکه حَرَّمَ چې حرام کړي دي رَبِّيَ رب زما ٱلۡفَوَٰحِشَ بې حيا کارونه مَا هغه(که) ظَهَرَ ښکاره يې مِنۡهَا د دغه(بې حيا کرونو نه) وَمَا او هغه(که) بَطَنَ پټ يې(د دغه بې حيا کارونو څخه،يعنې ښکاره او پټه بې حيايي دواړه حرامې دي) وَٱلۡإِثۡمَ او(حرامه کړې ده الله تعالى) ګناه وَٱلۡبَغۡيَ او(حرام کړئ ئې دى ظلم کول بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ په ناحقه سره وَأَن تُشۡرِكُواْ او(حرام کړئ دى الله تعالى) شريک کول بِٱللَّهِ د الله تعالى سره مَا د هغه شى لَمۡ يُنَزِّلۡ چې هغه«جل جلاله» نه دى نازل کړئ بِهِۦ په(شريکولو) د هغه (شى د الله تعالى) سره سُلۡطَٰنٗا هيڅ کوم سند(او دليل) وَأَن تَقُولُواْ او(حرامه کړې ده الله تعالى) دا چې وايئ تاسو عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى باندې مَا داسې(دروغ خبره چې په حقيقت کې) لَا تَعۡلَمُونَ تاسو نه پوهيږئ(چې دا د الله تعالى خبره ده،بس د خپلې خيټې نه دروغ وايئ.)﴿٣٣﴾

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٞۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَأۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٣٤﴾

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ او د هر امت دپاره (د مرګ) أَجَلٞۖ يوه ټاکل شوې نيټه ده فَإِذَا نو هر کله چې جَآءَ راشي أَجَلُهُمۡ نيټه د هغوى(د مرګ) لَا

يَسۡتَأۡخِرُونَ نه وروسته کيږي سَاعَةٗ يو ساعت وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ او نه مخکې کيږي (يو ساعت،يعني د مرګ د راتلو نيټه د خپل ټاکلي وخت څخه نه يوه لحظه وروسته کيږي او نه يوه لحظه مخکې کيږي(تفسير ابن عباس رض،القرطبي) ﴿٣٤﴾

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٣٥﴾

(ابن جرير د ابو يسار سلمى رحمةالله عليه څخه نقل کوې چې:دغه خطاب ټولو بني آدمانو ته په عالم ارواح کې شوئ دى«کابلی تفسير» ) الله تعالى فرمايي!

يَٰبَنِيٓ اى اولاد ءَادَمَ د آدم «عليه السلام» إِمَّا که يَأۡتِيَنَّكُمۡ راشي تاسو ته رُسُلٞ پيغمبران مِّنكُمۡ د ستاسو څخه يَقُصُّونَ چې بيانوې عَلَيۡكُمۡ تاسو ته ءَايَٰتِي آياتونه زما فَمَنِ نو هر څوک ٱتَّقَىٰ چې تقوى اختيار کړې وَأَصۡلَحَ او اصلاح کړي(اعمال خپل) فَلَا خَوۡفٌ نو نه به وي هيڅ ډول ويره عَلَيۡهِمۡ په هغوى باندې وَلَا هُمۡ او نه به دوى يَحۡزَنُونَ غمجن کيږي. ﴿٣٥﴾

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٦﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک كَذَّبُواْ چې دروغ ګڼې بِـَٔايَٰتِنَا آيتونه زمونږ. وَٱسۡتَكۡبَرُواْ او تکبر(او سرکشي) کوې عَنۡهَآ د(قبلولو) د دغه(آياتونو زمونږ څخه،نو) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ جهنميان دي هُمۡ فِيهَا چې دوى به په دغه(جهنم)کې خَٰلِدُونَ هميشه وي. ﴿٣٦﴾

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ يَنَالُهُمۡ نَصِيبُهُم
مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوۡنَهُمۡ قَالُوٓاْ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَدۡعُونَ مِن دُونِ
ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

فَمَنۡ نو څوک أَظۡلَمُ ډېر ظالم دی مِمَّنِ د هغه چا نه ٱفۡتَرَىٰ چې جوړوي عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې كَذِبًا دروغ أَوۡ كَذَّبَ یا دروغ وایې بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ په آیتونو د هغه«جل جلاله) باندې أُوْلَٰٓئِكَ دغه(خلک چې دي) يَنَالُهُمۡ ورسیږي دوی ته نَصِيبُهُم نصیب خپل مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِۖ (د لیکل شوې تقدیر) د کتاب څخه(یعني عمر،رزق او نور) حَتَّىٰٓ د هغې پورې إِذَا چې کله جَآءَتۡهُمۡ راشي دوی ته رُسُلُنَا زمونږ لیږل شوي(د مرګ فریشتې) يَتَوَفَّوۡنَهُمۡ چې مړه کوې دوی قَالُوٓاْ (ورته به)وایې هغوی(یعني د مرګ فریشتې به ورته وایې چې:) أَيۡنَ چیرته دي مَا هغه(معبودان) كُنتُمۡ تَدۡعُونَ چې تاسو به یې عبادت کولو مِن دُونِ ٱللَّهِۖ پرته د الله تعالی څخه قَالُواْ دوی (به فریشتو ته) وایې ضَلُّواْ چې هغوی ورک شول عَنَّا زمونږ نه وَشَهِدُواْ او شاهدې به ورکړې دوی عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ په خپلو ځانونو باندې أَنَّهُمۡ چې بېشکه دوی كَانُواْ كَٰفِرِينَ کافران وو(یعني پرته د الله تعالی څخه یې د غیرالله اطاعت او عبادت کولو) ﴿٣٧﴾

قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي ٱلنَّارِۖ كُلَّمَا دَخَلَتۡ
أُمَّةٞ لَّعَنَتۡ أُخۡتَهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُواْ فِيهَا جَمِيعٗا قَالَتۡ أُخۡرَىٰهُمۡ لِأُولَىٰهُمۡ رَبَّنَا
هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمۡ عَذَابٗا ضِعۡفٗا مِّنَ ٱلنَّارِۖ قَالَ لِكُلّٖ ضِعۡفٞ وَلَٰكِن لَّا تَعۡلَمُونَ
﴿٣٨﴾

قَالَ هغه«جل جلاله» به وفرمایي (دوی ته د قیامت په ورځ) ٱدۡخُلُواْ چې داخل شئ فِيٓ أُمَمٖ په هغو ډلو کې قَدۡ خَلَتۡ چې تیرې شوي دي

مِن قَبۡلِكُم مخکې د ستاسو نه مِّنَ ٱلۡجِنِّ د پيريانو وَٱلۡإِنسِ او انسانانو
څخه فِي ٱلنَّارِۖ په اور کې(يعني کوم قومونه او نسلونه چې په دنيا کې
اول تير شوي دي،هغوی به په جهنم کې هم اول اچوې،او کوم قومونه او
نسلونه چې د هغوی پسې تير شوي دي،په جهنم کې به هم په همدې
ترتيب سره د هغوی يعنې د اولنيو پسې وراچول کيږي،يعنې مخکيني
خلک به مخکې او وروستني به وروسته په تريب سره اور ته غورځول
کيږي،نو الله تعالی فرمايي چې:تاسو هم اور ته داخل شئ او د خپلو ګمراه
مشرانو او رهبرانو سره يوځای شئ.) كُلَّمَا هر کله چې دَخَلَتۡ
داخليږي أُمَّةٞ يو ډله(جهنم ته،نو) لَّعَنَتۡ لعنت به وايي أُخۡتَهَاۖ د خپل
ځان په شان(مشابه) ډله باندې(يعني کومه ډله چې په دنيا کې د دوی څخه
مخکې تيره شوي ده،او دوی د هغوی د شرک او کفر پيروي کړيده،نو
کله چې اور ته داخل شي،او په هغو خلکو يې سترګې ولږيږي چا چې
دوی کفر او شرک ته دعوت کړې وو،او دوی يې په ړندو سترګو پيروي
کړې وه،نو دوی به په هغوی يعنې مخکينيوو خلکو باندې لعنت
وايي،مطلب دا چې هره ورستنۍ ډله به په مخکينۍ ډله لعنت وايي،چې
مونږ ستاسو د لاسه ګمراه شوي وو) حَتَّىٰٓ تر دې چې إِذَا هر کله
ٱدَّارَكُواْ دوی جمع شي فِيهَا په هغې(اور) کې جَمِيعٗا ټول(يعنې په
ترتيب سره به اولنې نسلونه او قومونه اول او وروستني قومونه اونسلونه
وروسته ډلې-ډلې جهنم ته داخليږي،تر څو چې ټول سره په جهنم کې يو
ځای راټول شي،نو) قَالَتۡ وايي به أُخۡرَىٰهُمۡ وروستنۍ (ډلې د) هغوی
لِأُولَىٰهُمۡ په باره د اولنيو(ډلو) کې(يعنې هره ډله به د ځان نه د مخکينۍ
ډلې په باره کې وايي يا وروستني خلک به د ځان څخه د مخکينيو خلکو
په باره کې وايي!) رَبَّنَا ای ربه زمونږ هَٰٓؤُلَآءِ دا(هغه خلک دي)
أَضَلُّونَا چې دوی مونږ ګمراه کړي وو(په دنيا کې) فَـَٔاتِهِمۡ نو ورکړه

دوی ته عَذَابًا عذاب ضِعۡفًا دوه چنده مِّنَ ٱلنَّارِۖ د اور قَالَ هغه«جل جلاله» به وفرمايي لِكُلّٖ د هر يو دپاره ضِعۡفٌ دوه چنده(عذاب) دی وَلَٰكِن ليكن لَّا تَعۡلَمُونَ تاسو نه پوهيږئ(يعني تاسو هر يو د دوه چنده عذاب مستحق ياستئ،ځکه که مخکينيو تاسو ګمراه کړي ياستئ،خو ستاسو څخه چي څوک وروسته وو هغه خو تاسو ګمراه کړي دي.) ﴿٣٨﴾

وَقَالَتۡ أُولَىٰهُمۡ لِأُخۡرَىٰهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلٖ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٣٩﴾

مخکي آيت کي ذکر شو چي هره ډله چي جهنم ته داخليږي،په هغو خلکو به لعنت وايي چي د دوی نه مخکي هلته داخل شوي دي،او دوی په دنيا کي د هغوی د ګمراهۍ پيروي کړې وه،يعني کشران به په خپلو مشرانو او رهبرانو لعنت وايي.مشران به هم په جواب کي ورته وايي!

وَقَالَتۡ او وايي به أُولَىٰهُمۡ اولني(يعني مشران او رهبران) لِأُخۡرَىٰهُمۡ ورستنيو ته(يعني مشران او رهبران به خپلو پيروانو ته وايي) فَمَا كَانَ لَكُمۡ نشته تاسو ته عَلَيۡنَا په مونږ باندي مِن فَضۡلٖ څه فضليت(او غوره والی،يعني تاسو په دې سبب چي مونږ تاسو ګمراه کړي ياستئ،په مونږ هيڅ برتري او فضليت نلرئ ځکه چي که مونږ تاسو ته د ګمراهۍ دعوت درکولو اويا مو درته د ګمراهۍ لارې جوړې کړي وې،نو تاسو ولې زمونږ دعوت منلو،او يا مو ولې زمونږ لارې تعقيبولې،تاسو ته خو هم الله تعالی عقلونه،فکرونه،او د ښو او بدو د تميز ډېر صلاحيتونه درکړې و،تاسو ولې خپل عقلونه او صلاحيتونه نه استعمالول او په ړندو سترګو مو زمونږ تقليد او پيروي کوله،نو په کوم اور کي چي مونږ سوځو په هماغې کي به تاسو هم سوځئ.) فَذُوقُواْ نو وڅکئ(مزه د)

ٱلۡعَذَابَ عذاب بِمَا په سبب د هغو(عملونو) كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ چې تاسو كول(په دنيا كې) ﴿٣٩﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤٠﴾

إِنَّ بېشكه ٱلَّذِينَ هغه خلک كَذَّبُواْ چې دروغ يې ګڼلي دي بِـَٔايَٰتِنَا آيتونه زمونږ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ او تكبر يې كړئ دی(د قبلولو) عَنۡهَا د هغوی څخه(يعني زمونږ د آيتونو څخه يې انكار كړئ دی،نو) لَا تُفَتَّحُ نه به خلاصيږي لَهُمۡ هغوی ته أَبۡوَٰبُ دروازې ٱلسَّمَآءِ د آسمان(يعني كله چې كافران مړه كيږي،او روحونه يې ملائيكې پاس وړي،نو د آسمان دروازې به ورته نه خلاصيږي،او د هغې ځای نه به ښكته سجين ته راغورزول كيږي) وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ او نه به دوی جنت ته داخل شي حَتَّىٰ د هغې پورې يَلِجَ چې ننوزي ٱلۡجَمَلُ اوښ فِي سَمِّ په سورې كې ٱلۡخِيَاطِۚ د ستنې(يعني لكه څنګه چې د اوښ ننوتل د ستنې په سورې كې ناممكن او محال دي،همدا رنګه د مشركانو او كافرانو ننوتل هم جنت ته ناممكن او محال دي.) وَكَذَٰلِكَ او همداسې نَجۡزِي جزا وركوو مونږ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مجرمانو ته. ﴿٤٠﴾

لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾

كله چې مشركان او كافران په جهنم كې داخل شي نو هلته به!

لَهُم د دوی دپاره مِّن جَهَنَّمَ د جهنم مِهَادٞ بسترې وي وَمِن فَوۡقِهِمۡ او د دوی دپاسه به غَوَاشٖۚ د اور بړستنې وي(يعني توشكونه او بړستنې به يې د اور وي) وَكَذَٰلِكَ او همداسې نَجۡزِي جزا وركوو مونږ ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمانو ته ﴿٤١﴾

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٤٢﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نیک اعمال یې کړي دي. ( په آخرت کې الله تعالی د هرچا سره محاسبه هغه ته په دنیا کې د ورکول شوي توان او صلاحیت په اساس کوي،فرمایي!) لَا نُكَلِّفُ مونږ نه مکلف کوو نَفْسًا هیڅوک(یعنې مونږ په هیڅچا مسؤلیت او بار نه ږدو) إِلَّا مګر وُسْعَهَآ د هغه د توان په اندازه(یعنې هر څوک د خپل توان په اندازه مسؤل دی،په آخرت کې به الله تعالی د هر چا سره د هغه د توان او استعداد په اساس محاسبه کوي،الله تعالی د یو ناتوانه او غریب کس نه پوښتنه نه کوي چې حج دې ولې نه دی کړئ؟او نه د یو معذور او مریض کس څخه پوښتنه کوي چې جهاد دې ولې نه دی کړئ؟بلکې د هر چا سره د هغه د توان او استعداد مطابق حساب کوي.) أُوْلَٰٓئِكَ دغه(خلک چې ایمان یې راوړئ دی او د خپل توان مطابق یې نیک عملونه یې کړي دي) أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ جنتیان دي هُمْ فِيهَا چې دوی به په دغه(جنتونو)کې خَٰلِدُونَ همیشه وې. ﴿٤٢﴾

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ أَنْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلْحَقِّ وَنُودُوٓاْ أَن تِلْكُمُ ٱلْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾

وَنَزَعْنَا او مونږ به وباسوو مَا هغه چې: فِي صُدُورِهِم د هغوی(یعنې جنتیانو)په زړونو کې دي مِّنْ غِلٍّ د کینې(او حسد)څخه(یعنې د جنتیانو په زړونو کې به کینه او حسد نه وي،دا خبرې هلته نشته چې د پلانکي جنت زما څخه ښه دی او یو د بل سره کینه یا حسد وکړي بلکې هر څوک به په خپله برخه راضي او خوشاله وي،او) تَجْرِي بهیږي به مِن

تَحۡتِهِمُ د هغوی(یعني د جنتونو) لاندې ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ نهرونه وَقَالُواْ او وایي به دوی(یعني جنتیان به وایي) ٱلۡحَمۡدُ تولې ستاینې لِلَّهِ خاص د الله تعالی دپاره دي ٱلَّذِي هغه(الله تعالی) هَدَىٰنَا چې لار ئې راښودلې ده مونږ ته لِهَٰذَا دې (جنت) ته وَمَا كُنَّا او نه وو مونږ(پخپله) لِنَهۡتَدِيَ چې پیدا کړې به وه مونږ(دغه د جنت لار) لَوۡ که چیرته لَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ مونږ ته د الله تعالی لارښودنه نه وه لَقَدۡ بېشکه جَآءَتۡ راغلي وو(دنیا ته) رُسُلُ پیغمبران رَبِّنَا د رب زمونږ بِٱلۡحَقِّۖ په رېښتیا سره(یعنې د الله تعالی پیغمبرانو د نیا ته د الله تعالی پیغام راوړئ وو،او مونږ ته یې د الله تعالی د طرف څخه د جنت لار راښودلې وه،او مونږ د الله تعالی د پیغام او پیغمبرانو تصدیق وکړو،او د پیغام د هدایت مطابق مو عمل وکړو،نو سیده جنت ته راورسیدلو،دوی به هغه څه ګوري او هغه څه به اوري چې د دې څخه د مخه یې کله په تصور کې هم نه وي راغلي،هر طرف ته به سکون او خوشالې وي،مرګ،زوړوالئ،غریبې،مریضې او هیڅ ډول غم او خفګان به نه وي،همیشه بهار او همیشه ځوانې به ،جنتیان به دومره خواشاله وي چې د دې څخه به نور د زیاتې خوشالئ تصور هم نشي کولای،چې په دې وخت کې به د الله تعالی د طرف څخه بله خوشالي راشي) وَنُودُوٓاْ اواز به ورته وشي أَن چې(ای جتیانو) تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ دا جنت دی أُورِثۡتُمُوهَا تاسو د دې(جنت) وارثان شوئ بِمَا په سبب د هغو(اعمالو) كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ چې تاسو (په دنیا کې) کول. ﴿٤٣﴾

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

وَنَادَىٰٓ او اواز به وکړي أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ جنتيان أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ
دوزخيانو ته أَن چي قَدۡ يقيناً وَجَدۡنَا مونږ وموندلو(يعني راکول شو
مونږ ته) مَا هغه(جنت) وَعَدَنَا چې وعده کړې وه زمونږ سره رَبُّنَا
رب زمونږ(د هغه) حَقّٗا رېښتيا(يعني مونږ سره الله تعالى د جنت وعده
رېښتينې کړه،او جنت ته يې د هميشه دپاره داخل کړو) فَهَلۡ نو آيا
وَجَدتُّم تاسو (هم) وموندلو(يعني آيا تاسو هم داخل شوئ؟) مَّا هغه
(جهنم ته) وَعَدَ چې وعده کړي وه(د هغه ستاسو سره) رَبُّكُمۡ رب
ستاسو حَقّٗاۖ رېښتيا(يعني آيا ستاسو سره هم الله تعالى د جهنم وعده
رېشتينې کړه؟) قَالُواْ هغوی(يعني جهنميان)به وايې نَعَمۡۚ هو(زمونږ سره
هم الله تعالى خپله وعده رېښتيا کړه،او د جهنم په سوځونکې کې اور کې
يې داخل کړو) فَأَذَّنَ نو(په دې وخت کې به د الله تعالى د طرف نه)
اعلان وکړي مُؤَذِّنُۢ يو اعلان کوونکئ بَيۡنَهُمۡ د دوی (يعني د جنتيانو
او دوزخيانو)په منځ کې أَن چې لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ لعنت د الله تعالى دې وي
عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ په ظالمانو باندې ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ هغه(ظالمان) يَصُدُّونَ چې
منع کوي خلک عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى د لارې نه وَيَبۡغُونَهَا او لټوي
په هغې کې(يعني د الله تعالى په لار کې) عِوَجٗا کوږوالئ(يعني خلکو ته
د الله تعالى په دين کې شکونه وراچوي) وَهُم او دوی بِٱلۡأٓخِرَةِ په
آخرت باندې كَٰفِرُونَ کافر دي(يعني د آخرت نه منکر دي) ﴿٤٥﴾

وَبَيۡنَهُمَا حِجَابٞۚ وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡۚ وَنَادَوۡاْ أَصۡحَٰبَ
ٱلۡجَنَّةِ أَن سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۚ لَمۡ يَدۡخُلُوهَا وَهُمۡ يَطۡمَعُونَ ﴿٤٦﴾ ۞ وَإِذَا صُرِفَتۡ
أَبۡصَٰرُهُمۡ تِلۡقَآءَ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾
وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ قَالُواْ مَآ أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ
جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٨﴾ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ
ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴿٤٩﴾

وَبَيۡنَهُمَا او د هغوی(یعنې د جننتیانو او دوزخیانو) په منځ کې به حِجَابٞ یوه پرده(یعنې یو دیوال) وي وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ او په لوړو ځایونو(د دې دیوال) باندې به رِجَالٞ یو څه خلک وي يَعۡرِفُونَ چې دوی به پیژني كُلَّۢا هر یو(دوزخي او جنتي) بِسِيمَىٰهُمۡۚ په علامو د هغوی(یعنې جنتیان به د هغوی د سپینو لاسونو،سپینو مخونو او سپینو پښو نه، او دوزخیان به د هغوی د تورو او بدرنګه مخونو او شنو سترګو نه پیژني) وَنَادَوۡاْ او دوی(یعنې اعراف والا یا دا په لوړ ځای کې ناست خلک چې جنتیان او دوزخیان دواړه ورته ښکارې،نو دوی) به اواز وکړي أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ جنتیانو ته أَن چې سَلَٰمٌ سلامتیا دې وي عَلَيۡكُمۡۚ په تاسو باندې لَمۡ يَدۡخُلُوهَا (خو د دې وخت پورې به) نه وي داخل شوي دوی(یعنې اعراف والا) جنت ته وَهُمۡ يَطۡمَعُونَ او دوی به په طمعه وي(چې جنت ته به داخل شو،اعراف والا هغه خلک دي چې د اعمالو د تللو په وخت کې یې نیکۍ او بدۍ برابره شوې وي،نو دوی ته د جنت او دوزخ په منځ کې د دیوال په لوړه برخه کې ځای ورکول شوئ وي،چې جنتیان ورته هم ښکارې او دوزخیان ورته هم ښکارې) ﴿٤٦﴾ ۞ وَإِذَا او کله چې صُرِفَتۡ واړول شي أَبۡصَٰرُهُمۡ نظرونه د دوی تِلۡقَآءَ په طرف أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ د دوزخیانو(یعنې اول خو جنتیانو ته وګورې،چې په نعمتونو او خوشالیو کې دي،نو سلام به ورباندې واچوې،او پخپله به یې هم د ورتلو امید او طمعه پیدا شي،خو کله چې د دوزخ خوا ته وګورې،ظاهره ده چې د اور لنمبې او د دوزخیانو سوې تور مخونه او اندامونه به وګورې،او د ډېرې ویرې او هیبت نه به) قَالُواْ ووايي رَبَّنَا ای زمونږه ربه لَا تَجۡعَلۡنَا مه ګرځوه مونږ(مه ملګري کوه مونږ،مه یوځای کوه مونږ) مَعَ ٱلۡقَوۡمِ د قوم ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو سره(یعنې اعراف والا به وايي چې یا الله مونږ د دې ظالمانو سره په جهنم کې مه ملګري

کوه،او په جنت کې مو د جنتيانو سره ملګرې کړه) ﴿٤٧﴾ وَ او( بيا به) نَادَىٰٓ اواز وکړي أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ اعراف والا رِجَالٗا يو څه خلکو ته يَعۡرِفُونَهُم چې دوی به پيژني هغوی بِسِيمَىٰهُمۡ په علامو (او نښو) سره د هغوی قَالُواْ نو دوی به ورته وايي(چې ومو ليدل چې:) مَآ أَغۡنَىٰ دفع نکړو (د الله تعالی عذاب) عَنكُمۡ ستاسو نه جَمۡعُكُمۡ جمع کولو(د مالونو)ستاسو وَ او(دفع نکړو ستاسو نه د الله تعالی عذاب) مَا هغه (تکبر) كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ چې تاسو به کولو. ﴿٤٨﴾

عبدالله بن عباس «رضی الله عنهما» فرمايي! کله چې اعراف والا د جنتيانو او دوزخيانو سره سوال او جواب وکړي،په دې وخت کې به رب العالمين جهنميانو ته د اعراف والاوو په باره کې وفرمايي:چې تاسو قسمونه خوړل چې دې خلکو يعنې اعراف والاوو ته به ببننه ونه شي،او نه به وربانديې د الله تعالی رحمت وشي،نو اوس زمونږ رحمت وګورئ! او د دې سره به اعراف والاوو ته وفرمايي: ځئ لاړ شئ،جنت ته داخل شئ،نه به دربانديې هيڅ ويره وي او نه به غمجن کيږئ.معارف القرآن اوس آيت ته توجه وکړئ

أَهَٰٓؤُلَآءِ آيا دا ٱلَّذِينَ هغه خلک دي أَقۡسَمۡتُمۡ چې تاسو قسمونه خوړل(د دوی په باره کې) لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ چې دوی ته خو به الله تعالی د خپل رحمت څخه هيڅ شی هم ورنکړي(نو وبه ويل شي اعراف والاوو ته چې:) ٱدۡخُلُواْ داخل شئ ٱلۡجَنَّةَ جنت ته لَا خَوۡفٌ نه به هيڅ ويره وي عَلَيۡكُمۡ په تاسو بانديې وَلَآ أَنتُمۡ او نه به تاسو تَحۡزَنُونَ غمجن کيږئ.(په جنت کې) ﴿٤٩﴾

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾

ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٥١﴾

کله چې اعراف والا جنت ته داخل شي،نو جهنميان به هم خواهش وکړي،او وبه وايي چې:ای ربه!بېشکه په جنت کې زمونږ رشته دار او خپلوان دي،نو مونږ ته اجازه راکړه چې مونږ هغوی وګورو او خبرې ورسره وکړو،ليکن جنتيان به دوی نه پيژني ځکه چې د دوی مخونه به سوي وي،او تک تور به وي.القرطبي اوس آيت ته توجه وکړئ

وَنَادَىٰٓ او اواز به وکړي أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ جهنميان أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ جنتيانو ته أَنۡ چې أَفِيضُواْ راتوی کړئ عَلَيۡنَا په مونږ باندې مِنَ ٱلۡمَآءِ (يو څه د جنت)د اوبو څخه أَوۡ يا(راواچوئ يو څه) مِمَّا د هغه(نعمتونه نه رَزَقَكُمُ چې درکړي دي تاسو ته ٱللَّهُۚ الله تعالى(په جنت کې) قَالُوٓاْ دوی(يعنې جنتيان به ورته) ووايي إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالى حَرَّمَهُمَا حرام کړي دي دا دواړه(يعنې د جنت اوبه او رزق) عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ په کافرانو باندې. ﴿٥٠﴾

ٱلَّذِينَ (دغه کافران) هغه خلک دي ٱتَّخَذُواْ چې نيولئ وو دوی دِينَهُمۡ دين خپل لَهۡوٗا تماشا وَلَعِبٗا او لوبې(يعنې د دين سره يې لوبې او ټوقې کولې) وَغَرَّتۡهُمُ او دوکه کړې وو دوی(او غولولي وو دوی) ٱلۡحَيَوٰةُ ژوند ٱلدُّنۡيَاۚ د دنيا(يعنې د دنيا د ژوند په مزو کې داسې ننوتې وو چې قيامت،آخرت،حساب،جنت او دوزخ يې بالکل هير کړي وو،حرام او ناروا کارونه يې داسې په بې باکۍ او پرته د ويرې نه کول لکه نه چې آخرت وي او نه حساب او کتاب،نو الله تعالى فرمايي:) فَٱلۡيَوۡمَ نو نن ورځ نَنسَىٰهُمۡ به مونږ(هم داسې) دوی هير کړو(يعنې هميشه به په دوزخ کې پراته وي) كَمَا لکه څنګه چې نَسُواْ هير کړئ وو دوی

لِقَآءَ ملاقات يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا د دې ورځې(د قیامت او حساب او کتاب) وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ او زمونږ د آیاتونوڅخه یې انکار کولو ﴿٥١﴾

وَلَقَدۡ جِئۡنَٰهُم بِكِتَٰبٖ فَصَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

او داسې نه ده چې دا جهنمیان د جهنم د عذاب او د جنت د نعمتونو څخه خبر نه وو،او ناخبره او پټې سترګې الله تعالی په جهنم کې اچولې دي،بلکې د هرڅه نه ښه خبر وو،خو د الله تعالی په کتاب او آیتونو باندې یې باور او یقین نه کولو،چې حساب به وي،جنت او جهنم به وي،دا هر څه ورته دروغ ښکاریدل.الله تعالی فرمایې:

وَلَقَدۡ او بېشکه جِئۡنَٰهُم لیږلۍ دی مونږ دوی ته بِكِتَٰبٖ کتاب فَصَّلۡنَٰهُ چې مونږ په تفصیل سره بیان کړۍ دی هغه عَلَىٰ عِلۡمٍ د علم په اساس(یعني چې نه په کې شک شته او نه پکې سهوه او غلطې شته دی،او څه چې په دې کتاب کې موجود دي،هغه ټول حقیقت دی،چې حتماً به د دې ټولو حقیقتونو سره یوه ورځ مخامخ کیږئ) هُدٗى وَرَحۡمَةٗ (او دا کتاب)هدایت او رحمت دی لِّقَوۡمٖ هغو خلکو ته يُؤۡمِنُونَ چې ایمان راوړې(په دې کتاب) ﴿٥٢﴾

یعني جهنمیان دا اعتراض نشي کولای چې یا الله زه خبر نه وم،او که خبر وم نو ما به نیک عمل کړۍ وو،هیڅوک داسې اعتراض نشي کولای،ځکه چې په هره زمانه کې الله تعالی پیغمبران او کتابونه رالیږلي دي،هر امت خصوصاً د نبي علیه السلام امت چې یا په قرآن باندې ایمان نه راوړې،او یایې احکام نه مني او عمل وربانديې نکوي،صرف نوم یې د مسلمان وي،مثلاً قرآن فرمایې غلا مکوه،ظلم مه کوه،بې ګناه قتل مه کوه،دروغ مه وایه،زنا مه کوه،د بل چا حق په ظلم مه خوره،او داسې

نور....لیکن بنده د قرآن په خلاف دا ټول ناروا کارونه کوي نو دا خو ښکاره د الله تعالی د آیتونو او احکامو څخه انکار او سرکشي ده،نو داسې خلک ټول که نوم يې د مسلمان وي او که د کافر پخپله جهنم ته ځي،نه دا چې الله تعالی ئې په زوره وراچوي.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأۡوِيلَهُۥۚ يَوۡمَ يَأۡتِي تَأۡوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ فَيَشۡفَعُواْ لَنَآ أَوۡ نُرَدُّ فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ قَدۡ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٥٣﴾

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأۡوِيلَهُۥۚ (دا خلک چې د قرآن غوندې واضح او فصیح کتاب باندې ایمان نه راوړي،د کوم چې هره خبره د انسان د عقل،علم منطق او دلیل سره برابره ده،نو) آیا دوی د هغه انجام(یعنې د هغه قیامت،جنت او دوزخ د لیدلو) انتظار کوي(چې دا کتاب يې خبر ورکوي،یعنې چې قیامت په سترګو وګوري نو بیا به ایمان راوړي؟ ،خو) يَوۡمَ هغه ورځ يَأۡتِي چې راشي تَأۡوِيلُهُۥ هغه انجام (یعنې په کومه ورځ چې هغه قیامت راشي د کوم چې قرآن خبر ورکوي،او دوی په سترګو جنت او دوزخ وګوري،نو) يَقُولُ وايي به ٱلَّذِينَ هغه خلک نَسُوهُ چې دوی هیر کړئ وو دا(قیامت او آخرت) مِن قَبۡلُ مخکې د دې نه(په دنیا کې،یعنې د قرآن پیغام يې دروغ ګڼلو،د الله تعالی د امتحان اخستلو اصول ورته ټوقې ښکاریدل، او ویلې به يې چې څوک دآخرت څخه راغلې دي؟نو کله چې د قیامت په ورځ د قبرو نه راپاڅیږي،د حشر میدان،حساب او کتاب،جنت او دوزخ وګوري، وار به يې خطاء شي،زړونه به يې په درزهار شي،رنګونه به يې زیړ،خولې به يې وچې او اندامونه به يې په رپیدو شي،او د ډېرې ویرې او اضطراب په حال کې به یو بل ته ګوري،او پرته د دې څخه به نور د دوی سره د ویلو هیڅ نه

وې،چې يو بل ته به وايي:) قَدۡ بيشکه چې جَآءَتۡ راغلي وو(دنيا ته) رُسُلُ پيغمبران رَبِّنَا د رب زمونږ بِٱلۡحَقِّ په ريښتيا سره(يعني پيغمبرانو چې هر څه مونږ ته ويلي وو په دنيا کې،مونږ خو هلته نه منل ليکن هغه خو ټول حق وو،هغه خو ټول اوس ريښتيا شو،دا د قيامت ورځ ده،دا د حشر ميدان دی،دا جنت دی،دا دوزخ دی،اوس به څه کوو؟نو د هغو بتانو او انسانانو په فکر کې به شي چې په دنيا کې يې په هغوی باور او يقين لرلو چې ګڼي دوی به يې هر مشکل حلوي او په هر تکليف کې به ورسره مرسته کوې،نو وايي به) فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ آيا زمونږ څوک شفاعت کوونکئ شته دی؟ فَيَشۡفَعُواْ لَنَآ چې زمونږ شفاعت وکړي(د الله تعالی په وړاندې) أَوۡ يا ( داسې څه لار او طريقه شته دی چې: ) نُرَدُّ مونږ دوباره ولیږل شو (دنيا ته) فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ ٱلَّذِي نو بيا به د هغو اعمالو په خلاف اعمال وکړو كُنَّا نَعۡمَلُۚ چې مونږ کول (مخکې په دنيا کې،يعني خواهش به کوي که چيرته دوباره دنيا ته وليږل شو، نو اوس خو مو هر څه وليدل،يقين مو وشو،نو دا ځل به د مخکينيو اعمالو خلاف اعمال کوو،يعني د بدو کارونو په ځای به نيک کارونه کوو.ليکن نه به يې څوک شفاعت کوونکئ پيدا شي،او نه به دنيا ته دوباره وليږل شي.) قَدۡ بيشکه خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ دوی خپلو ځانونو ته تاوان رسولئ دی وَضَلَّ او ورک به شي عَنۡهُم د دوی نه مَّا هغه (معبودان او خُدايان چې پرته د الله تعالی نه به:) كَانُواْ يَفۡتَرُونَ دوی (په دنيا کې د تيرو او انسانانو څخه)په دروغو جوړل.(يعني د حشر په ميدان کې به ډیر يو خوا او بل خوا ترور-ترور وګورې خو نه به يو انسان او نه به يوه تيږه يعني بت وګورې په کومو چې دوی يقين لرلو چې زمونږ شفاعت به وکړي،او د الله د عذاب څخه به مو خلاص کړې.نو ډیر نااميده او پښيمانه به شي،خو

متاسفانه چې پښیماني به ورته هیڅ فایده ونکړي ځکه چې ډېر ناوخته به وي.) ) ﴿٥٣﴾

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

إِنَّ بېشکه رَبَّكُمُ رب ستاسو ٱللَّهُ الله تعالی دی ٱلَّذِي الله تعالی هغه(ذات دی) خَلَقَ چې پیداکړي ئې دي ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلۡأَرۡضَ او ځمکه(یعنې ټول کائنات) فِي سِتَّةِ په شپږو أَيَّامٖ ورځو کې(چې مقدار او اندازه ئې الله تعالی ته معلومه ده) ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ بیا ئې په عرش باندې استوا وکړه (یعنې بیا د عرش دپاسه برقرار شو،د خپل شان مطابق.د عرش حقیقت او د الله تعالی په عرش باندې د استوا کفیت زمونږ د تصور نه اوچت دي،په دې

لحاظ دا آیت د متشابهاتو څخه دی، اصلي حقیقت ئې الله تعالی ته معلوم دی بیان القرآن)

يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا- د آیت په دې برخه د ښه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دي!

د ځمکې کره لکه د بال غونډې ګرده ده،د محور په خوا او شاه په دوراني حرکت سره د لمر مخې ته د ساعت عقرب مخالف طرف ته تاوېږي،د تاویدلو په دوران کې د ځمکې د کرې هغه برخه یا هغه سطحه یا هغه ملکونه چې د لمر مخې ته تیرېږي،په کې رڼا یا ورځ وي،لیکن د کرې شاتنی برخه یا هغه سطحه یا هغه ملکونه چې د لمر څخه پناه یا پټ تیرېږي،په کې تیاره یا شپه وي،دا اوس چې تاسو په هر ملک او موقیعت

کې یاستۍ، د داسې جهاز په چټ باندې اوسېږئ چې زر مایلز په ساعت کې په دوراني حرکت باندې روان دی،کله د لمر مخې ته یعني په رڼا کې سفر کوې او کله بیا د لمر څخه پناه کیږې او په تیاره کې سفر کوې،یعني د رڼا یا ورځې څخه تیارې یا شپې ته ننوزئ،او د تیارې یا شپې څخه رڼا یا ورځې ته ننوزئ،که غواړئ چې:د شپې ننوتل په ورځ کې او د ورځې ننوتل په شپه کې په سترګو وګورئ،نو دا کار په ځمکه کې نه کیږي،د دې دپاره باید د ځمکې څخه پاس فضاء یا سپیس ته لاړ شئ،نو که د فضاء څخه د ځمکې د کرې د تاویدلو ننداره د لمر مخې ته وکړئ، وبه ګورئ چې شپه په ورځ کې ننوزې،او ورځ د شپې پسې په ډېر سرعت یا سپیډ سره ځي،او په شپه کې ننوزي،یعني د ځمکې د کرې یوه خوا به تاسو ته داسې ښکاري چې شپه په ورځ کې ننوزې(یعني د ورځې پواسطه پټیږي) او بله خوا به یې تاسو ته داسې ښکاري چې ورځ په شپه کې ننوزې،البته هر څوک خو نشي کولای چې فضاء ته لاړ شي،مګر کولای شي چې د فضاء څخه د ځمکې د ګرځیدلو اخستل شوې ویډیوګاني وګورې.اوس آیت ته توجه وکړئ!

يُغۡشِي هغه«جل جلاله» پټوې ٱلَّيۡلَ شپه ٱلنَّهَارَ په ورځ سره(یعني د ورځې د رڼا پرده په تیاره شپه باندې اچوې) يَطۡلُبُهُۥ هغه(ورځ چې)د دې(شپې) پسې راځي حَثِيثٗا په چالاکۍ سره(یعني هغه ورځ چې د شپې پسې راځي د هغې رڼا د شپې تیاره پټوې).او د الحدید په سورة کې فرمایي! يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۚ-ترجمه-الله تعالی شپه په ورځ کې او ورځ په شپه کې ننباسي«یعني کله چې د ځمکې د کرې په دوراني حرکت کې شپه یا تیاره برخه د لمر مخې ته راشي،نو د لمر رڼا پرې لکه د پردې خوره شي او شپه په ورځ بدله شي،چې پاس د فضاء څخه دا منظره داسې ښکاري لکه شپه چې په ورځ کې ننوزې،همدارنګه

کله چې د ځمکې د کرې دا ورځ یا رڼا برخه په دې دوراني حرکت کې نوره شاته تاویږي،او د لمر د وړانګو څخه پناه کیږي،نو الله تعالی فرمايي! وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظۡلِمُونَ ﴿٣٧﴾«د دوی دپاره یوه نښه شپه ده چې مونږ د هغې څخه ورځ لرې کوو نو دوی په تیاره کې پاتې شي»مخکې ذکر شو چې د ځمکې د کرې په سطح هغه ملکونه چې په هغو کې شپه ده نو کله چې د ځمکې د دوراني حرکت پواسطه د لمر مخې ته راتاو شي نو د ورځې رڼا یا د لمر رڼا پرې لکه د رڼا د پردې په شان خوریږي،او د فضاء څخه دا منظره داسې ښکاري لکه شپه چې په ورځ ننوزي،او کله چې بیرته د ځمکې د کرې دا ملکونه د لمر نه پناه کیږي او شاه ته تاویږي نو د ورځې یا رڼا پرده ترې بیرته الله تعالی لرې کړي،او د کرې د دې برخې ملکونو باندې بیرته د پخوا په شان تیاره شپه شي، نو دا منظر د پاس فضاء څخه داسې ښکاري لکه ورځ چې په شپه کې ننوزي،او په همدې ترتیب د شپې نه ورځ او د ورځ نه شپه جوړیږي.

او په دوامدار ډول شپه د ورځې او ورځ د شپې پسې راځي.

د دې مبارک آیت دا برخه دقرانکریم علمي معجزه ده ځکه چې:۱۴۰۰ کلونه د مخه یا په اومه میلادي پیړی کې ټول خلک په دې عقیده وو چې ځمکه همواره یا پلټ ده،لیکن په دې آیت کې قرآن اشاره کوې چې ځمکه ګرده ده ځکه چې د شپې ننوتل په ورځ او د ورځ ننوتل په شپه کې په هغه صورت کې امکان لري چې ځمکه ګرده وي.دوهم د پخوا زمانو څخه د شلمې پیړی پورې ساینسدانانو عقیده لرله چې کائنات ساکن او بې حرکته دي یعنې ځمکه هم بې حرکته او ساکنه ده،لیکن قرآن په واضح ډول اشاره کوي چې ځمکه حرکت کوې ځکه چې شپه په ورځ او ورځ

په شپه کې هغه وخت ننوتلای شي او يو د بل پسې تللای شي چې:ځمکه حرکت ولرې،دريم دا چې:د ځمکې د محورې ګردش څخه د لمر مخې ته د داسې منظر ليدل او پيژندل چې شپه په ورځ او ورځ په شپه کې ننوزې يوازې په هغه صورت کې ممکن دي چې د ځمکې کرې ته پاس د فضاء يا سپيس څخه وکتل شي،معلومه خبره ده چې په اومه ميلادې پيړۍ کې نه داسې وسايل وو او نه داسې ساينسدان وو چې فضاء ته ختلۍ وې او هلته ئې تحقيق کړۍ وي او بيا ئې خپل مشاهدات ليکلي وي،فکر وکړۍ چې د شلمې پيړۍ څخه مخکې خو يو ساينسدانان هم په دې قرانې معلومات نه پوهيدو،نو آيا ۱۴۰۰ کلونه د مخه پرته د کائناتو د خالق څخه بل څوک داسې معلومات ورکولای شي؟نه هيڅ کله نه.نو دا د دې ثبوت دی چې قرآنکريم د الله تعالی کلام دی.) وَٱلشَّمۡسَ او لمر وَٱلۡقَمَرَ او سپوږمۍ وَٱلنُّجُومَ او ستورې مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ تول د الله تعالی د امر او فرمان تابع دي أَلَا خبردار لَهُ ٱلۡخَلۡقُ خاص هغه لره دي پيدا کول وَٱلۡأَمۡرُۗ او حکم (يعنې د کائناتو خالق هم الله تعالی دی او آمر او حکم کول هم د الله تعالی دی يعنې په کائناتو باندې يوازې د الله تعالی حکومت چليږي،د بل هيڅ چا سره نه دا اختيار شته دی او نه ئې چا ته ورکړۍ دی) تَبَارَكَ ٱللَّهُ ډېر برکت والا دی الله تعالی رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ رب العلمين دی.﴿٥٤﴾

ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٥٥﴾

ٱدۡعُواْ دعا غواړۍ رَبَّكُمۡ د رب خپل نه تَضَرُّعٗا په عاجزی وَخُفۡيَةً او په پټه إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» لَا يُحِبُّ نه خوښوې ٱلۡمُعۡتَدِينَ د حد نه تيريدونکې﴿٥٥﴾

وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾

وَلَا تُفۡسِدُواْ او فساد مه کوئ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا
پس د اصلاح د هغې نه(دلته دې حقیقت ته اشاره ده چې:د انسان د ژوند
ابتداء اوشروع د یو منظم اصلاحي نظام څخه شوې ده،نه ظلم و،نه
قتل،نه سرکشي،بې عدالتې او شرک وو،چې وروسته دا منظم نظام
انسانانو د خپل جهالت او حماقت په سبب خراب
کړو،ظلمونه،قتلونه،سرکشي،شرک او فساد یې په ځمکه کې شروع
کړو،الله تعالی د دې فساد د منځه وړلو او د هغه اصلاحي نظام د بیا
راوستلو دپاره چې په ابتداء کې په ځمکه کې قائم و وخت په وخت
پیغمبران رالیږلي،او خلکو ته یې په هره زمانه کې دعوت ورکړئ دی
چې:کوم ابتدایي اصلاحي نظام چې په ځمکه کې قائم و،د هغې څخه
سرکشي او فساد یعنې شرک،قتلونه،بې عدالتې و غیره مکوئ. دلته د
داروینې ارتقاء د هغو پلویانو په دې نظریه باندې رد دی چې وایې
چې:انسان د تیارو څخه راوتئ دی او په تدریجې ډول د رڼا خواته راغلئ
دی،برعکس قرآن فرمایي :چې الله تعالی د پوره رڼا سره انسان ځمکې ته
رالیږلئ دی،او د یو صالح نظام څخه یې د هغه د ژوند ابتداء او شروع
کړې ده. وَٱدۡعُوهُ او دعا د هغه«جل جلاله» څخه غواړئ(یعنې هر څه
او د هر مشکل حل صرف د الله تعالی څخه غواړئ) خَوۡفٗا په ویره سره
وَطَمَعًاۚ او په طمع سره(دا د دعا آداب دي چې د دعا په وخت کې به هم د
الله تعالی ویره په زړه کې ساتې او هم به د الله تعالی څخه د دعا د قبلیدلو
امید ساتې) إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ بیشکه د الله تعالی رحمت قَرِيبٞ نیزدې دی
مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ نیکې کوونکو ته(یعنې اشاره ده چې دعا کوونکې محسنین
دي) ﴿٥٦﴾

وَهُوَ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابٗا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه ذات دى يُرۡسِلُ چې رالیږي ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا زیرې ورکوونکې بادونه بَيۡنَ يَدَيۡ مخکې رَحۡمَتِهِۦۖ د خپل رحمت(یعني باران) څخه حَتَّىٰٓ تر هغې چې: إِذَآ کله(دا بادونه) أَقَلَّتۡ پورته کړي سَحَابٗا ثِقَالٗا درنې وریځې سُقۡنَٰهُ (نو) مونږ بوځوو دا(وریځې یا مونږ بیایو دا درنې وریځې) لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ کومې مړې (یعني وچې) ځمکې ته(یعني بادونه د الله تعالی په حکم وریځې وچې ځمکې ته وړي.) فَأَنزَلۡنَا بِهِ نو بیا نازلوو مونږ د دغې(وریځو)نه ٱلۡمَآءَ اوبه(یعني باران) فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ او بیا راوباسو مونږ په دغې(اوبو یعني باران باندې ) مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ د هر ډول میوو څخه(د ځمکې نه) كَذَٰلِكَ همدارنګه(لکه څنګه چې مړه وچه ځمکه ژوندی کوو او ډول-ډول میوې ترې راوباسو،همداسې) نُخۡرِجُ به راوباسو مونږ(د ځمکې څخه ٱلۡمَوۡتَىٰ مړې (یعني د قیامت په ورځ به ټول مړې ژوندې کړو او د قبرونو څخه به یې راباسوو) لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تَذَكَّرُونَ نصیحت ومنئ. ﴿٥٧﴾

وَٱلۡبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَٱلَّذِي خَبُثَ لَا يَخۡرُجُ إِلَّا نَكِدٗاۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَشۡكُرُونَ ﴿٥٨﴾

وَٱلۡبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ او(باران خو په هره ځمکه وریږي،مګر هغه) ځمکه چې پاکه (او ښه وي نو) يَخۡرُجُ راوباسې نَبَاتُهُۥ نباتات(یعني ګیاه) خپله بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ په حکم د الله تعالی سره وَٱلَّذِي او هغه(ځمکه) خَبُثَ چې خرابه وي لَا يَخۡرُجُ نه راوباسي (ښه نباتات یا ګیاه) إِلَّا مګر نَكِدٗاۚ

ناقص (نباتات او ګیاه راوباسي،همدارنګه انسانان هم ښه او بد دي،سره د دې چې د الله تعالی د هدایت فیض د ټولو انسانانو دپاره عام دی،لیکن ګټه او فایده ترې یوازې هغه خلک اخلي چې:شکرګزار او قدرشناس وي. )

كَذَٰلِكَ همدارنګه نُصَرِّفُ په تفصیل سره بیانوو مونږ. ٱلْأَيَٰتِ آیاتونه لِقَوْمٍ هغو خلکو ته يَشْكُرُونَ چې شکر کوي. ﴿٥٨﴾

د آدم«علیه السلام» نه وروسته اولاد یې د څو سوو کلونو پورې په یوه خوله مسلمانان وو،بیا دوی د ځینو مړو شوو نیکانو خلکو تصویرونه او مجسمې جوړې کړې،تر څو چې د هغوی یادونه تازه وساتي،بلآخره همدغه مجسمې په بتانو بدلې شوې،او خلکو یې عبادت شروع کړو،نو کله چې خلکو شرک او کفر شروع کړو الله تعالی نوح «علیه السلام» ورته د پیغمبر په توګه ورولیږلو،نوح «علیه السلام» ورته ۹۵۰ کلونه تبلیغ وکړو خو ډېرو کمو خلکو ایمان راوړو،علماوو یې تعداد مختلف-مختلف ښودلئ دی،خو د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په روایت کې ۸۰ کسان وو،خو کله یې چې نوح علیه السلام او د الله تعالی آیتونو ته د دروغو نسبت وکړو،نو د الله تعالی عذاب وربانديې راغئ او ټول یې په اوبو کې غرق کړل او یوازې نوح علیه السلام او د هغه علیه السلام مؤمنانو ملګرو ته یې په کشتۍ کې نجات ورکړو،کله چې د اوبو طوفان ختم شو او اوبه ټیټې شوې نو کشتۍ د جودي په غر کیناستله،نوح علیه السلام د طوفان نه وروسته هم ۲۵۰ کلونه ژوندی و،او ټول عمر یې ۱۴۵۰ کلونه وو.تر دې وخت پورې چې څومره انسانان په دنیا کې موجود وو ،پرته د نوح علیه السلام او ورسره د مؤمنانو ملګرو څخه نور ټول په طوفان کې هلاک شول،علماء وایي چې اوسني ټول انسانان د نوح علیه السلام د درې ځامنو «حام،سام او یافث» اولاد دی (عزیزالتفاسیر)

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥٩﴾

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٦٠﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَٰلَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦١﴾

أُبَلِّغُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُواْ وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِي ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ إِنَّهُمْ كَانُواْ قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾ ۞

لَقَدْ بیشکه أَرْسَلْنَا لیږئ و مونږ نُوحًا نوح«علیه السلام» إِلَىٰ قَوْمِهِۦ خپل قوم ته فَقَالَ نو هغه(علیه السلام) وویل(خپل قوم ته) يَٰقَوْمِ ای زما قومه ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ عبادت کوئ د الله تعالی مَا لَكُم نشته تاسو ته مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ پرته د الله تعالی څخه بل معبود(یعني د عبادت لایق یوازي الله تعالی دی،او تاسو چې دبتانو عبادت او د الله تعالی سره شرک کوئ نو) إِنِّيٓ أَخَافُ بیشکه زه ویرېږم عَلَيْكُمْ په تاسو باندي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ د یوې لویې ورځې د عذاب نه (یعني که تاسو د بتانو د عبادت او شرک څخه لاس وانخلئ نو په تاسو به یو لوی عذاب راشي. ) ﴿٥٩﴾

قَالَ وویل(نوح علیه السلام ته) ٱلْمَلَأُ سرداړانو(یعني مشرانو) مِن قَوْمِهِۦٓ د هغه«علیه السلام» د قوم إِنَّا لَنَرَىٰكَ بیشکه مونږ ګورو تا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ په ښکاره ګمراهۍ کې(یعني ته خو مونږ ته ښکاره ګمراه ښکاري چې د خپلو پلرونو او نیکونو دین دې پرې ایښئ دی،او زمونږ د اړولو کوشش هم کوي) ﴿٦٠﴾ قَالَ هغه«علیه السلام» ورته وویلې يَٰقَوْمِ

ای زما قومه لَيۡسَ بِي ضَلَٰلَةٞ زه ګمراه نه یم وَلَٰكِنِّي لیکن زه رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ د رب العلمین پیغمبر یم.(چې تاسو ته ئې رالیږلئ یم) ﴿٦١﴾

أُبَلِّغُكُمۡ زه دررسوم تاسو ته رِسَٰلَٰتِ پیغامونه رَبِّي د رب خپل (چې د عذاب نه بچ شئ) وَأَنصَحُ لَكُمۡ او خیرخواهي کوم ستاسو(یعني ستاسو د خیر دپاره تاسو ته نصیت کوم ځکه چې) وَأَعۡلَمُ زه پوهیږم مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی د خوانه مَا په هغه څه لَا تَعۡلَمُونَ چې تاسو (وربانديې) نه پوهیږئ(یعني که تاسو د شرک او بت پرستی نه لاس وانخلئ نو تاسو په دې نه پوهیږئ چې په تاسو څومره لوی عذاب راتلونکئ دی،مګر زه په دې باره کې د خپل رب د طرف نه خبریم د وحې په ذریعه.) ﴿٦٢﴾

أَوَعَجِبۡتُمۡ او آیا تاسو حیران یئ(آیا تاسو په دې په تعجب کې یئ) أَن جَآءَكُمۡ چې راغئ تاسو ته ذِكۡرٞ نصیحت (یعني پیغام) مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف نه عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ ستاسو(د منځ)نه د یو سړي پواسطه لِيُنذِرَكُمۡ د دې دپاره چې هغه وویروې تاسو(د الله تعالی او د هغه د عذاب څخه) وَلِتَتَّقُواْ او د دې دپاره چې تاسو ځانونه وساتئ(د ګناهونو څخه) وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ او د دې دپاره چې په تاسو رحم وشي(یعني تاسو تعجب کوئ چې ولې د کومې فریشتې پواسطه الله تعالی پیغام راونه لیږلو،) ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوهُ نو هغوی د دروغو نسبت وکړو هغه علیه السلام ته(یعني نوح علیه السلام ته یې وویلې چې ته پیغمبر نه یې، الله تعالی فرمایې:) فَأَنجَيۡنَٰهُ نو مونږ نجات ورکړو هغه(یعني نوح علیه السلام) ته وَٱلَّذِينَ او هغو( مؤمنانو ته مو نجات ورکړو) مَعَهُۥ چې د هغه علیه السلام سره وو فِي ٱلۡفُلۡكِ په کشتۍ کې وَأَغۡرَقۡنَا او غرق کړل مونږ(په اوبو کې) ٱلَّذِينَ هغه خلک كَذَّبُواْ چې دروغ یې ویلې وو بِـَٔايَٰتِنَآۚ زمونږ په آیتونو باندې(یعني چې زمونږ آیاتونو ته یې د دروغو

نسبت کړئ وو) إِنَّهُمۡ كَانُواْ بېشکه وو دوی قَوۡمًا عَمِينَ یو ړوند
قوم(یعنې د دوی زړونه داسې ړانده وو چې په ۹۵۰ کلونو کې بینا نه
شول.) ﴿٦٤﴾ ۞

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ
﴿٦٥﴾ قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ
ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي سَفَاهَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٧﴾
أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنَا۠ لَكُمۡ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن
رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ
وَزَادَكُمۡ فِي ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا
لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٧٠﴾

قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ رِجۡسٞ وَغَضَبٌۖ أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ
أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٖۚ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ
﴿٧١﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَقَطَعۡنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ وَمَا
كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٧٢﴾

د عاد قوم د نوح علیه السلام د ځوی سام د نسل څخه وو،دوی ته الله تعالی غټې او جګ بدنونه او پریمانه نعمتونه ورکړي وو،د ډېر وخت پورې ښه سم صحیح موحدین مسلمانان وو،لیکن وروسته په کې بت پرستي شروع شوه،الله تعالی یې هم منلو او د الله تعالی عبادت یې هم کولو خو په څنګ کې یې د نیکانو مجسمې یعنې بتان هم جوړ کړي وو،او د هر یو نیک په مجسمه به یې د یو خاص-خاص کار کولو دپار نوم ایښئ وو،مثلاً د باران دپاره به بیله مجسمه یا بت وو،د دولت د غوښتلو دپاره به بیل بوت وو،د مریضۍ نه د جوړلو دپاره به بیل بت

وو،يعني د هر حاجت د پوره کولو دپاره به دوی د يو نيک بنده په نوم مجسمه يا بت جوړ کړئ وو چې د ضرورت په وخت کې به خلک ورتلل او خپل حاجتونه به يې ترې غوښتل،سره د دې چې الله تعالی يې هم د لوی خدای په نوم منلو او عبادت يې هم کولو،لکه اوس چې هم په اکثرو ځايونو کې خلک الله تعالی هم مني عبادت يې هم کوي، خو د دې تر څنګ د مختلفو حاجتونو د پوره کولو دپاره يې د مختلفو نيکانو او د الله تعالی د دوستانو په قبرونو باندې د مختلفو حاجتونو د پوره کولو دپاره نومونه ايښي دي، او کومک ترې غواړي،مثلاً د زيږې زيارت،د ګزنګ او فالج زيارت،د بادو زيارت،د ښځو د غوښتلو زيارت،د اولاد د ورکولو زيارت....و غيره وغيره،خو لکه څنګه چې پخوا نيو خلکو نه منله چې مونږ شرک او کفر کوو او پيغمبران به يې دروغجن او خپل دښمنان ګڼل همدارنګه اوس هم دا ډول خلک د حق داعيان خپل دښمنان او دروغجن ګڼي،موضوع ته راځو،کله چې په عاديانو کې دا شرک دومره ډېر شو چې ټول خلک ورباندې اخته شو نو الله تعالی هود عليه السلام د خپل پيغمبر په توګه ورولېږلو چې د شرک څخه يې منع کړي،او د يو الله تعالی عبادت ته يې راوبلي.

وَإِلَىٰ عَادٍ او (لېږلئ و مونږ) عاديانو ته أَخَاهُمْ ورور د هغوی هُودًاۚ هود عليه السلام (هود عليه السلام د عاديانو د قوم د يوې شريفي کورنی څخه و) قَالَ هغه عليه السلام وويل يَٰقَوْمِ ای زما قومه ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ يوازې د الله تعالی عبادت کوئ مَا لَكُم نشته تاسو ته مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓۚ پرته د الله تعالی څخه بل معبود(يعني د عبادت لايق يوازې الله تعالی دی) أَفَلَا تَتَّقُونَ آيا نو تاسو نه ويرېږئ (د الله تعالی څخه چې شريکان ورسره نيسئ) ﴿٦٥﴾ قَالَ وويل (هود عليه السلام ته) ٱلْمَلَأُ مشرانو(او سردارانو) ٱلَّذِينَ هغو (مشرانو) كَفَرُواْ چې هغوی کافران وو مِن

قَوۡمِهِۦٓ د هغه عليه السلام د قوم إِنَّا لَنَرَىٰكَ بېشکه مونږ وينو تا فِي سَفَاهَةٖ په کم عقلی کې(يعني ته خو مونږ ته کم عقل ښکارې،ځکه چې ته د نيکانو خلکو سپکاوئ کوې) وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ او بېشکه مونږ ګمان کوو په تا مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ د دروغجن(چې ته پيغمبر نه يې) ﴿٦٦﴾ قَالَ (هود عليه السلام ووېل) يَٰقَوۡمِ اى زما قومه لَيۡسَ بِي سَفَاهَةٞ زه کم عقل نه يم وَلَٰكِنِّي ليکن زه رَسُولٞ پيغمبر يم(ستاسو دپاره) مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ د رب العلمين د طرف نه ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمۡ (چې) دررسوم تاسو ته رِسَٰلَٰتِ پيغامونه رَبِّي د رب خپل وَأَنَا۠ لَكُمۡ او زه يم تاسو ته نَاصِحٌ خيرخواه أَمِينٌ امانت دار(يعني زه ستاسو ريښتينى خيرخواه يم) ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبۡتُمۡ او آيا تاسو(په دې) په تعجب کې ياستئ(ايا تاسو په دې حيران يئ) أَن چې جَآءَكُمۡ راغلئ تاسو ته ذِكۡرٞ نصيحت (پيغام) مِّن رَّبِّكُمۡ د طرف نه د رب دستاسو عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ ستاسو د(منځ) نه د يو سړي پواسطه لِيُنذِرَكُمۡۚ د دې دپاره چې وويروې تاسو(د الله تعالى او د هغه «جل جلاله» د عذاب نه) وَٱذۡكُرُوٓاْ او ياد کړئ إِذۡ جَعَلَكُمۡ کله چې هغه جل جلاله وګرځولئ تاسو خُلَفَآءَ خلفګان(جانشين په ځمکه کې) مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ وروسته د نوح عليه السلام د قوم نه(يعني د نوح عليه السلام د قوم د هلاکت نه وروسته تاسو الله تعالى په ځمکه کې خلفګان کړئ) وَزَادَكُمۡ فِي ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗۖ او تاسو ته يې په تخليق کې زيات پراخوالئ درکړو(يعني غټ بدنونه اوطاقت يې درکړل) فَٱذۡكُرُوٓاْ نو يادوئ تاسو ءَالَآءَ ٱللَّهِ نعمتونه د الله تعالى لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ د دې دپاره چې کامياب شئ. ﴿٦٩﴾ قَالُوٓاْ (نو عاديانو هود عليه السلام ته) ووېلې أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ آيا ته د دې دپاره مونږ ته راغلئ يې چې مونږ يوازې د يو الله تعالى عبادت وکړو؟ وَنَذَرَ او پرېږدو مَا هغه(تولې د نيکانو مجسمې او بتان) كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا چې زمونږ پلرونو يې عبادت کولو(يعني دا هيڅ

کله نشي کیدلای چې د پلرونو دین او طریقې پریږدو او ستا نوې خبرې ومنو،آیا زمونږ بلورونه او نیکونه نه پوهیدل او ته د هغوی نه ښه پوهیږې؟ مونږ خو نه تا د الله پیغمبر منو او نه ستا په خبرو باور کوو،لیکن که بیا هم ته پخپله خبره ټینګ یې چې زه پیغمبر یم) فَأۡتِنَا نو راوله په مونږ بِمَا هغه عذاب تَعِدُنَآ چې وعده یې راکوې مونږ ته(یعني راوله هغه عذاب چې مونږ وربانديې ویروې،که شرک پرېنږدو نو عذاب به دربانديې راشي) إِن كُنتَ که یې ته مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ د رېښتینو(پیغمبرانو) نه ﴿٧٠﴾

قَالَ هغه علیه السلام (عادیانو ته)وویل قَدۡ وَقَعَ یقناً واقع شوې دی عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف نه رِجۡسٞ عذاب وَغَضَبٌۖ او غضب(یعني که همدا خبره وي نو بیشکه چې د الله عذاب او قهر دربانديې واقع شوې دی،او ورته ئې وویل چې) أَتُجَٰدِلُونَنِي آیا تاسو جګړه کوئ زما سره فِيٓ أَسۡمَآءٖ په هغو نومونو کې سَمَّيۡتُمُوهَآ چې تاسو ایښې دی هغه(نومونه) أَنتُمۡ پخپله وَءَابَآؤُكُم او ستاسو پلرونو(ایښې دي.یعني هود علیه السلام ورته وویلې چې دا د نیکانو مجسمې اوبتان چې تاسو جوړ کړې دی او په یو بت باندې مو نوم ایښئ دی چې دا باران ورويې،دا مریضان جوړوې،دا دولت ورکوي،دا بادونه راالوزوې...نو دا نومونه او لقبونه خو تاسو او ستاسو پلرونو ورکړې دي،لیکن حقیقت دا دی چې په دې شیانو کې نه دا صفتونه شته او نه دا کارونه کولای شي،دا صرف ستاسو ورکول شوي صفتونه دي ) مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ حال دا دی چې نه دی رالیږلئ الله تعالی بِهَا په دې(چې د بتانو اونیکانو د مجسمو عبادت وکړئ یا ترې څه غواړئ او د الله تعالی په حکومت کې یې شریک ګڼئ) مِن سُلۡطَٰنٖۚ هیڅ دلیل(یعني تاسو هیڅ کوم علمي دلیل نلرئ چې الله تعالی دې بتانو ته دا صفتونه او صلاحیتونه

ورکړي دي،خو هغوی بيا هم د هود عليه السلام خبره ونه منله،نو هغه عليه السلام ورته وويل:) فَٱنتَظِرُوٓاْ پس انتظار کوئ(د الهي عذاب) إِنِّي بېشکه زه(هم) مَعَكُم ستاسو سره مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ د اتظار کوونکو څخه يم(يعني تاسو هم د الله د عذاب انتظار کوئ او زه به هم انتظا ر کوم په تاسو باندې د عذاب د راتللو) ﴿٧١﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ (نو کله چې د الله تعالی عذاب د باد د سخت طوفان په شکل راغئ،٨ ورځې او ٧ شپې يې دوام وکړو) نو نجات ورکړو مونږ هغه(يعني هود عليه السلام ) ته وَٱلَّذِينَ او هغو(مؤمنانو)ته مَعَهُۥ چې د هغه عليه السلام سره وو بِرَحْمَةٍ په رحمت سره مِّنَّا زمونږ د طرف نه وَقَطَعْنَا او پرې کړي مونږ دَابِرَ جرړې(ريشې) ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو) كَذَّبُواْ چې دروغ يې ګڼل بِـَٔايَٰتِنَاۖ آيتونه زمونږ وَمَا كَانُواْ او نه وو هغوی مُؤْمِنِينَ مؤمنان. ﴿٧٢﴾

يعني پرته د هغو خلکو څخه چې د هود عليه السلام سره وو او مؤمنان وو نور ټول عاديان الله تعالی داسې هلاک کړل چې نوم او نشان يې ورک شو.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةًۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِيٓ أَرْضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًاۖ فَٱذْكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْاْ فِي ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْاْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِي دَارِهِمْ

جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ
وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾

په آيتونو باندې د ښه پوهيدلو دپاره د يو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

ذکر شو چې پرته د هود عليه السلام او د هغه د يو څو مؤمنانو ملګرو څخه نور ټول عاديان هلاک شول،دوی د دې ځای نه هجرت وکړو،او د دوی د نسل څخه ثموديان يا د صالح عليه السلام قوم منځ ته راغئ،ثموديان هم په اول کې ښه مسلمانان وو خو وروسته د وخت په تيريدلو سره په دوی کې هم د الله تعالی څخه بغاوت او سرکشي پيدا شوه د شرک او کفر لار يې ونيوله او د بتانو عبادت يې شروع کړو،الله تعالی د دوی د هدايت دپاره صالح عليه السلام ورولېږلو. صالح عليه السلام دوی ته د شرک څخه د منع کولو او د يو الله د عبادت کولو تبليغ وکړو،او د دوی په غوښتنه يې د کلکې تيږې څخه ورته اوښه د الله تعالی په حکم د معجزې په ډول راوويستله،او خلکو ته يې وفرمايل چې نه به يې د خوراک نه منع کوئ او نه به ضرر وررسوئ،او که ضرر مو وررسولو نو الهي عذاب به درباندې راشي، او يوه ورځ به د اوبو څکلو نوبت د اوښې وي او يوه ورځ به ستاسو د څارويو وي.اوښې به ټولې اوبه څکلې خو هماغسې زياتې شيدې به يې هم ورکولې چې د ټولو خلکو د ضرورت دپاره به کافي وې،ليکن بيا هم دوی د الله تعالی نافرماني وکړه،اوښه يې ووژله او بچی يې بيرته د کومې تيږې يا غر څخه چې اوښه راوتلې وه همدلته ننوتلو،او سرکشانو صالح عليه السلام ته وويلې که ته په ريښتيا پيغمبر يې نو په مونږ هغه عذاب راوله د کوم څخه چې ته

مونږ ويروېِ،نو د الله تعالی عذاب ورباندې راغئ او ټول هلاک شول.آيتونو ته توجه وکړئ.اقرطبي

وَإِلَىٰ ثَمُودَ او( لیږلئ و مونږ) ثمودیانو ته أَخَاهُمۡ وررور د هغوی صَٰلِحٗاۚ صالح علیه السلام( صالح علیه السلام د ثمودیانو د قوم د یو شریف خاندان څخه و، نو) قَالَ هغه علیه السلام (خپل قوم ته) وویلې يَٰقَوۡمِ ای زما قومه ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ یوازې د الله تعالی عبادت کوئ مَا لَكُم نشته تاسو ته مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ پرته د الله تعالی څخه بل معبود(یعنې پرته د الله تعالی څخه بل هیڅوک د عبادت لایق نشته دی،خو خلکو ترې د هغه علیه السلام په پیغمبری باندې د دلیل او معجزې غوښتنه وکړه،او ورته يې وويل چې مونږ به په تا هلته ایمان راوړو او خبره به دې ومنو چې ته مونږ ته د یوې غټې تیږې یا غر څخه یوه اوښه راوباسې،الله تعالی د صالح علیه السلام په دعا همداسې وکړه،د تیږې یا غر څخه اوښه راووتله حکمت القرآن،نو صالح علیه السلام خلکو ته وویلې ) قَدۡ په تحقیق سره جَآءَتۡكُم راغلئ دی تاسو ته بَيِّنَةٞ ښکاره دلیل مِّن رَّبِّكُمۡۖ د طرف نه د رب د ستاسو هَٰذِهِۦ دا نَاقَةُ اوښه ٱللَّهِ د الله تعالی لَكُمۡ ستاسو دپاره ءَايَةٗۖ یوه معجزه ده فَذَرُوهَا نو تاسو پریږدئ دغه(اوښه) تَأۡكُلۡ چې خورې (واښه) فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ د الله تعالی په ځمکه کې وَلَا تَمَسُّوهَا او مه وروړئ لاس دې(اوښې) ته بِسُوٓءٖ په خراب(نیت) سره(چې ضرر وررورسوئ) فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ (او که ضرر مو وررورسولو) نو درد ناک عذاب به مو راونیسې. ﴿٧٣﴾ وَٱذۡكُرُوٓاْ او(صالح علیه السلام خپل قوم ته وویلې چې) یاد کړئ إِذۡ هغه وخت کله چې جَعَلَكُمۡ هغه جل جلاله وګرځولئ تاسو خُلَفَآءَ خلیفګان (د ځمکې) مِنۢ بَعۡدِ عَادٖ وروسته د (هلاکت) د عادیانو څخه وَبَوَّأَكُمۡ او ځای یې درکړو تاسو ته فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې تَتَّخِذُونَ چې جوړوئ تاسو مِن سُهُولِهَا د دې

په هوارو ميدانونو کې قُصُورًا محلونه وَتَنۡحِتُونَ او کنئ(يا تراشئ) ٱلۡجِبَالَ غرونه بُيُوتًاۖ د کورنو دپاره(دومره قوت الله تعالى ورکړئ و چې د متو په زور يې کلک غرونه کنل او تراشل او کورونه به يې پکې جوړول،اوس يې هم اثار شته دی) فَٱذۡكُرُوٓاْ نو ياد کړئ ءَالَآءَ ٱللَّهِ نعمتونه د الله تعالى(چې تاسو ته يې درکړې دي) وَلَا تَعۡثَوۡاْ او مه ګرځئ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې مُفۡسِدِينَ فساد کوونکې(يعنې د الله تعالى په نعمتونو باندې شکر وباسئ،او په ځمکه کې فساد مه کوئ) ﴿٧٤﴾ قَالَ (نو په جواب کې) وويلې ٱلۡمَلَأُ مشرانو ٱلَّذِينَ هغو(مشرانو) ٱسۡتَكۡبَرُواْ چې تکبر يې کړئ وو(په ثموديانو کې مالدار ډېر وو،نو کبرجنو مالدارو وويلې:) مِن قَوۡمِهِۦ د هغه عليه السلام د قوم لِلَّذِينَ هغو خلکو ته ٱسۡتُضۡعِفُواْ چې ضعيفان وو(يعنې غريبان وو،خو په غريبانو کې يې هم) لِمَنۡ خاص هغه چا ته(يعنې هغو غريبانو ته يې وويل چې) ءَامَنَ ايمان يې راوړئ وو مِنۡهُمۡ د هغوی(يعنې د غريبانو د جملې)څخه أَتَعۡلَمُونَ آيا تاسو پوهيږئ أَنَّ چې صَٰلِحًا صالح عليه السلام مُّرۡسَلٞ رالېږل شوئ دی مِّن رَّبِّهِۦۚ د هغه درب د طرف نه؟ قَالُوٓاْ مؤمنانو ورته وويل إِنَّا بېشکه مونږ بِمَآ په هغه څه أُرۡسِلَ بِهِۦ چې صالح عليه السلام په هغې باندې رالېږل شوئ دی مُؤۡمِنُونَ ايمان لرو(يعنې په توحيد او عبادت يوازې الله تعالى ته يقين لرو) ﴿٧٥﴾ قَالَ وويلې ٱلَّذِينَ هغو خلکو چې ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ کبرجن وو إِنَّا بېشکه مونږ بِٱلَّذِيٓ په هغې څه باندې ءَامَنتُم چې تاسو ايمان راوړئ دی بِهِۦ په هغه باندې كَٰفِرُونَ کافران يو(يعنې تاسو چې په کوم شي ايمان راوړئ دی،مونږ د هغه د منلو څخه انکار کوو) ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُواْ نو دوی ووژله ٱلنَّاقَةَ هغه اوښه وَعَتَوۡاْ او سرکشي يې وکړه عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ د خپل رب د حکم څخه وَقَالُواْ او ويې ويل يَٰصَٰلِحُ ای صالح«عليه السلام»

ٱئۡتِنَا راوله په مونږ. بِمَا تَعِدُنَآ هغه عذاب د كوم نه چې ته مونږ. ويروې
إِن كُنتَ كه چيرته يې ته(په ريښتيا سره) مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ د پيغمبرانو
څخه.(نو دالله تعالى عذاب ورباندې راغئ) ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ نو ونيول
هغوى ٱلرَّجۡفَةُ يو لړزونكې افت(زلزلې) فَأَصۡبَحُواْ نو شول هغوى
فِي دَارِهِمۡ په خپلو كورونو كې جَٰثِمِينَ پرمخې نسكور(يعني پرمخې
مړه پراته ول) ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ نو ووت صالح عليه السلام عَنۡهُمۡ د هغوى
د كليوو څخه وَقَالَ او وئې ويل يَٰقَوۡمِ اى زما قومه! لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ
رِسَالَةَ رَبِّي بېشكه ما د خپل رب پيغام تاسو ته ورساوه وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ
او ستاسو خير خواهي مې وكړه وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ليكن تاسو خير
خواهان نه خوښوئ. ﴿٧٩﴾

وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٍ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾
إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٌ مُّسۡرِفُونَ ﴿٨١﴾ وَمَا
كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوهُم مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ
﴿٨٢﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾ وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم
مَّطَرٗاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٨٤﴾

لوط عليه السلام د ابراهيم عليه السلام وراره و،الله تعالى سدوم ته چې د اُردن يوه علاقه ده دپيغمبر په حيث ليږلئ و،د دې ځاى خلک پرته د كفر او شرک څخه په يوه بله غيرې فطرې ګناه كې اخته وو چې د نر د نر سره دجنسې اړيكو نيول وو،لوط عليه السلام دوى ته تبليغ او نصيحت شروع كړو تر څوچې د دې بې حيا او شرميدلې كار څخه لاس واخلې،ليكن خلكو په ځاى د دې چې د ده عليه السلام دعوت ومنې او فحش او بې حيايې پرېږدې،برعكس د كلې څخه يې د لوط عليه السلام او د هغه عليه السلام د كورنې د ويستلو مشوره او فيصله وكړه،د لوط عليه

السلام ښځې ايمان نه و راوړئ،نو نوح عليه السلام د الله تعالى په حکم د خپلو لورګانو سره د کلي څخه ووتلو،او په هغوی عذاب راغئ او ټول هلاک شول،اوس آيتونو ته توجه وکړئ!

وَلُوطًا او(ليږلئ و مونږ) لوط عليه السلام (د سدوم کليو ته د پيغمبر په حيث نو!) إِذۡ کله چي قَالَ هغه عليه السلام وويلې لِقَوۡمِهِۦٓ خپل قوم ته أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ چي: تاسو داسې د بې حيايې کار ولې کوئ؟چي ستاسو نه مخکې په دنيا کې هيڅ چا نه دی کړئ؟ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةٗ مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ (يعني)تاسو د شهوت د پوره کولو دپاره د ښځو په ځای د سړيو سره جنسي اړيکې نيسئ(عبد الله بن عباس رضى الله عنهما) بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ حقيقت دا دی چې تاسو د حد څخه تيريدونکې(خلک) ياستئ. ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوهُم مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ خو د هغه عليه السلام د قوم جواب پرته د دې بل څه نه و چې :دوی د کلي څخه وباسئ،بېشکه دوی داسې خلک دي چې ځان ډېر پاک ساتي.(يعني دوی ځانونه ډېر پاک او مونږ ناپاک ګڼې،نو د پاکو او ناپاکو ګذاره نه کيږي،پس مشوره يې وکړه چې د کلي څخه يې وباسئ) ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ نو مونږ نجات ورکړو هغه«عليه السلام»ته وَأَهۡلَهُۥٓ او د هغه عليه السلام کورنی ته إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ پرته د هغه«عليه السلام» د ښځې څخه(ځکه چې ايمان يې نه و راوړئ او) كَانَتۡ وه هغه مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ د پاتيکيدونکوو څخه(په عذاب کې) ﴿٨٣﴾ وَأَمۡطَرۡنَا او ووَرولوو مونږ عَلَيۡهِم په هغوی باندې مَّطَرٗاۖ باران (د کاڼو.»اول دا کلى الله تعالى پورته کړو او پرمخې ئې په ځمکه راوويشتلو او بيا ئې ورباندې دپاسه د کاڼو باران وکړو او هلاک ئې کړل.سورة هود ٨٢ او حجر ٧٤ حکمت القرآن» ) فَٱنظُرۡ نو وګوره كَيۡفَ كَانَ چې ځنګه شو عَٰقِبَةُ انجام ٱلۡمُجۡرِمِينَ د مجرمانو. ﴿٨٤﴾

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم
بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡۖ فَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تُفۡسِدُواْ
فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقۡعُدُواْ
بِكُلِّ صِرَٰطٖ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبۡغُونَهَا عِوَجٗاۚ
وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ كُنتُمۡ قَلِيلٗا فَكَثَّرَكُمۡۖ وَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن
كَانَ طَآئِفَةٞ مِّنكُمۡ ءَامَنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٞ لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ فَٱصۡبِرُواْ حَتَّىٰ
يَحۡكُمَ ٱللَّهُ بَيۡنَنَاۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾

په آیتونو د ښه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

مدین د فلسطین په جنوب کې د بحر احمر په خوا او شاه کې واقع وو،دا د قبیلې نوم هم دی او د ښار نوم هم دی ،د دې ځای اوسیدونکې ډېر تجارت پیشه خلک و،اصلاً مدین لکه تجارتي منډیې غوندې و،د مختلفو ملګونو قافلې او تجارتي مالونه به راتلل او دې خلکو به د مالونو پیمانه او تلل کول،د دې خلکو نسبت د ابراهیم علیه السلام د دریمي او وروستنی ښځې د ځوی مدیان سره وو،مسلمانان وو،خو د وخت په تیریدلو سره ګډوډ شو،د بتانو عبادت او شرک پکې شروع شو،په پیمانه او تول کولو کې یې هم خیانت کولو،په لارو کې به یې خلک ویرول او ټکس او مالونه به یې په زوره ترې اخستل،لیکن بیا هم په عمومې ډول دوی ځانونو ته مسلمانان ویل، او د اسلام په نوم یې فخر کولو،خو متاسفانه چې صرف د اسلام نوم ورته پاتې وو،لکه څنګه چې په اوس وخت کې په دنیا کې اکثرو مسلمانانو ته صرف د اسلام نوم پاتې دی،نور نه داسلام نه خبر دي او نه پرې عمل کوي،او فقط په نوم یې خوشاله دي،انصاف او فیصله په تاسو؟لکه څنګه چې پخوانیو هلاک شوو قومونو شرک کولو،خو ځان ته

به يې نه مشركان ويلې او نه كافر،همداسې اوس هم اكثره مسلمانان په ښكاره ډول شرک كوی،خونه ځان ته مشرک وايي او نه كافر،او كه كوم عالم دين ورته نصيحت كوې چې د يو الله عبادت كوئ او د يو الله څخه كومک غواړئ،خير اوشر د الله تعالى په لاس كې دي،بل چا او بل شي ته د الله تعالى صفتونه مه وركوئ،نو د دين عالم ته د دښمن او بي دينه په سترگه گورې. د الله تعالى احكام نه منې خو بيا هم ځانونه ډېر ښه مسلمانان او جنتيان گڼې،الله حكم كوې:دروغ مه وايئ،غلا مه كوئ،ظلم مه كوئ،د غريبانو حق مه خورئ،بي گناه څوک مه وژنئ،زنا مه كوئ،وعده خلافې مه كوئ،رشوتونه مه اخلئ،په ځمكه كې پرته د الله تعالى د قانون څخه د انسان په لاس د جوړ شوي قانون پيروی مه كوئ......و غيره وغيره خو دوی د الله تعالى احكام نه منې او دا ټول كارونه كوي د كومو د كولو څخه چې الله منع كړي ده. فكر وكړئ چې څوک د چا په خپو كې سر كيږدې او سجده وكړي،آيا دا شرک نه دی؟او څوک چې د نيكانو قبرونو ته ورځې او اولادونه،دولتونه او د هر حاجت پوره كول ترې غواړې،آيا دا شرک نه دی؟عاديانو او د نوح عليه السلام قوم خوهم همداسې كول چې هلاک شو،نو قرآن خو د پخوانيو مړو دپاره نه دی نازل شوئ،بلكې د ژونديو دپاره نازل شوئ دی،بايد ژوندې د قرآن په آينه كې ځان وگورې چې :آيا د عاديانو،ثموديانو او د مكې د مشركانو په ډله كې دي او كه د ابوبكر،عمر،عثمان علي او صحابه كرامو رضى الله عنهم په ډله كې دي.موضوع ته راځو! ومو ويل چې د مدين د قبيلې خلكو سره د دې چې په پيمانه او تول كې يې خيانت كولو، او بت پرستې او شرک يې كولو، ليكن بيا يې هم ځانونو ته مسلمانان ويلې لكه څنگه چې اوس د اكثرو مسلمانانو همدا حال دی،نو الله تعالى د دوی د هدايت او لارښودنې دپاره شعيب عليه سلام راوليږلو،كله چې شعيب عليه السلام

تبليغ شروع کړو، شا او خوا خلک هم خبر شو نو څوک به چې د بل ځای نه شعيب عليه السلام ته د ايمان راوړلو يا د هغه عليه السلام تبليغ اوريدلو ته راتللو نو دوی به منع کولو،بايد ذکر شي چې شعيب عليه السلام د موسى عليه السلام خسر و.آيت ته توجه وکړئ.

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ او(ليږلئ و مونږ) د مدين خلکو ته أَخَاهُمۡ ورور د هغوی شُعَيۡبٗاۚ شعيب عليه السلام قَالَ هغه عليه السلام(ورته) وويلې يَٰقَوۡمِ ای زما قومه ٱعۡبُدُواْ عبادت کوئ ٱللَّهَ (يوازې) د الله تعالى مَا لَكُم نشته تاسو ته مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ پرته د الله تعالى څخه بل معبود(يعني پرته د الله تعالى نه بل د عبادت لايق نشته دی چې تاسو يې عبادت وکړئ) قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ يقيناً راغلئ دی تاسو ته يو روښانه دليل مِّن رَّبِّكُمۡۖ د طرف نه د رب د ستاسو(کيدای شي چې يوه معجزه يې ورته ښودلې وي خو په قرآن او سنت کې يې بيان نشته دی والله اعلم «حکمت القرآن») فَأَوۡفُواْ نو پوره کوئ ٱلۡكَيۡلَ پيمانه کول وَٱلۡمِيزَانَ او تول (يعني په پيمانه کولو او تللو کې کمئ او زياتئ مه کوئ) وَلَا تَبۡخَسُواْ او کم مه ورکوئ ٱلنَّاسَ خلکو ته أَشۡيَآءَهُمۡ د هغوی شيان(يعني په تول او پيمانه کې داسې مه کوئ چې د خلکو نه د خپل حق څخه زيات اخلئ او خلکو ته د هغوی د حق څخه کم ورکوئ) وَلَا تُفۡسِدُواْ او فساد مه کوئ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَاۚ ورسته د اصلاح د هغې نه(يعني د دې نه مخکې چې کوم منظم اصلاحي نظام د پيغمبرانو پواسطه د الله تعالى د قانون مطابق جوړ شوئ دی،هغه نظام مه خرابوئ،يعني شرک ،پيمانواو تللو کې خيانت او لارو کې غلاګاني او شوکې مه کوئ) ذَٰلِكُمۡ دا(د شرک او په اندازه او تول کې د خيانت او د غلاګانو پريښودل) خَيۡرٞ لَّكُمۡ ډېر بهتر دي ستاسو دپاره إِن كُنتُم که ياستئ تاسو مُّؤۡمِنِينَ مؤمنان (لکه چې مخکې ذکر شو چې دوی ځانونو ته مسلمانان هم ويلې،نو ځکه شعيب عليه السلام ورته وويل

که واقعاً مؤمنان پاستئ نو دا کارونه پرېږدئ،خو مونږ مخکې وويلې چه دا قسم خلک نصيحت کوونکي د ځان دښمنان ګڼي،نو د دوی هم اکثرو د شعيب عليه السلام خبره ونه منله او شعيب عليه السلام يې خپل دشمن او بدخواه وګڼلو او يوه بله ګناه يې هم شروع کړه هغه دا چې:پخوا خو به يې يوازې په لارو کې خلک ويرول او مالونه به يې ترې اخستل،خو اوس به يې لارو کې هغه خلک چې شعيب عليه السلام ته به د ايمان راوړلو دپاره ورتلل، هغه عليه السلام ته به يې د ورتللو او ملاقات څخه منع کول.)

شعيب عليه السلام ورته وفرمايل!

﴿٨٥﴾ وَلَا تَقْعُدُوا۟ او مه کينئ بِكُلِّ په هره صِرَٰطٍ لار کې تُوعِدُونَ چې ويروئ وَتَصُدُّونَ او منع کوئ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی د لارې نه مَنْ هغه څوک ءَامَنَ چې ايمان راوړې بِهِۦ په الله تعالی باندې وَتَبْغُونَهَا او لټوئ په هغې کې (يعنې د الله تعالی په لار کې) عِوَجًا کوږوالی(يعنې چې د الله تعالی د دين په باره کې غلطې خبرې وکړئ،مطلب دا چې په لارو کې د دې دپاره مه کينئ چې يا خلک وويروئ او مال ترې واخلئ او يا د الله تعالی د دين په باره کې خلکو ته غلطې خبرې وکړئ،تر څو چې د الله تعالی په دين باندې يې د ايمان راوړلو څخه منع کړئ) وَٱذْكُرُوٓا۟ او ياد کړئ إِذْ هغه وخت کله چې كُنتُمْ وئ تاسو قَلِيلًا لږ(يعنې تعداد مو کم و) فَكَثَّرَكُمْ نو الله تعالی زيات کړئ(يعنې ستاسو نسل يې زيات کړو) وَٱنظُرُوا۟ او وګورئ كَيْفَ كَانَ چې څنګه شو عَٰقِبَةُ انجام ٱلْمُفْسِدِينَ د فساد کوونکو(يعنې د نوح عليه السلام،عاديانو او ثموديانو د انجام څخه عبرت واخلئ،او دا عبرت بايد د قيامت پورې ټول انسانان واخلي،يعنې د کومو ګناهونو په سبب چې په هغې قومونو عذاب راغلئ وو او الله تعالی هلاک کړې وو،نور انسانان

باید ځانونه ترېِ وساتېِ.) ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ او که وی طَآئِفَةٞ یوه ډله
مِّنكُمۡ د ستاسو ءَامَنُواْ چې ایمان راوړې بِٱلَّذِيٓ په هغه څه باندې
أُرۡسِلۡتُ چې زه رالیږل شوئ یم بِهِۦ په هغه باندې وَطَآئِفَةٞ او یوه
ډله(که په تاسو کې داسې وي) لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ چې ایمان نه راوړې(په هغه
څه یعنې هغه دین باندې چې زه ورباندې رالیږل شوئ یم) فَٱصۡبِرُواْ نو
صبر وکړئ حَتَّىٰ تر څو چې يَحۡكُمَ فیصله وکړي ٱللَّهُ الله تعالی
بَيۡنَنَاۚ زمونږ په منځ کې وَهُوَ او هغه جل جلاله خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ډېر
ښه فیصله کوونکئ دی. ﴿٨٧﴾